د پاک نبی ﷺ پاک سیرت

سیرتِ

# محمد رسول اللہ ﷺ





تصنیف

مولانا محمد علی مردانی

Ketabton.com

مکتبه عمر فاروق قصه خوانی بازار پشاور

سیرتِ محمد رسول اللہ ﷺ

ناشر

اسلامی ادبی ټولنه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

د پاك نبی ﷺ پاك سیرت

# سیرتِ

# محمد رسول اللہ

صلی اللہ علیہ وسلم

تالیف


مولانا احمدعلی مردانی

( فاضل جامعة العلوم الاسلامیة علامه محمد یوسف بنوری تاؤن کراچی )

خوره بانډه یونیورسټي روډ مردان



ناشر

مکتبه عمرفاروق

قصه خوانی بازارپشاور

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| ﴿ د کتاب نوم ﴾ | سیرتِ محمد رسول اللّٰہ ﷺ |
| ﴿ صفحات ﴾ | 128 |
| ﴿ تالیف ﴾ | مولانا احمدعلی مردانی |
| ﴿ کتابت ﴾ | النور کتب خانه اینډ کمپوزنګ سینټر کامران مارکیټ نیواډه مردان 0312-9818511 |
| ﴿ پبلشرز ﴾ | الجنت پرنټر |
| ﴿ دچهاپ کال ﴾ | مارچ 2018ء |
| ﴿ بیعه ﴾ | 200 روپۍ |
| ﴿ دملاویدلو درك ﴾ | جناب ماسټر محمد نثار صیب<br>جناب ماسټر ارشدعلی صیب<br>النور کتب خانه اینډ کاپی محل<br>کامران مارکیټ نیواډه مردان<br>0312 -9818511 /<br>0321-9818511 |


# د میلاویدلو درکونه

- ★ مکتبه مجدد الف ثانیؒ کامران مارکیټ نیواډه مردان
- ★ اسلامی کتب خانه کامران مارکیټ نیواډه مردان
- ★ مکتبة المدینه بخشالی روډ مردان
- ★ (عبدالناصر) یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان
- ★ حافظ محمد ابرارصیب مدرس مسجد ابوبکرؓ امین آباد مردان
- ★ حافظ شهسوار امین آباد یونیورسټی روډ مردان
- ★ دارالعلوم اصحاب صفهٔ رنګ روډ مردان
- ★ د مردان په هره غټه کتب خانه کښې ملاویدے شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

# فهرست مضامين



| نمبرشمار | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ١ | پاك نسب | ٩ |
| ٢ | د حضور ﷺ د ولادت بيان | ٩ |
| ٣ | د ولادت د كال اهم واقعات | ١٠ |
| ۴ | د حضور ﷺ د والدِ محترم د وفات واقعه | ١٠ |
| ۵ | نوم او عقيقه | ١٠ |
| ٦ | د رضاعت زمانه | ١١ |
| ٧ | د حضور ﷺ اولني خبرے | ١٣ |
| ٨ | د حضور ﷺ د موربى بى د وفات واقعه | ١۴ |
| ٩ | د عبدالمطلب انتقال | ١۴ |
| ١٠ | د ابو طالب په كور كښې | ١۵ |
| ١١ | د يهوديانو د عالم رښتيا خبره | ١۵ |
| ١٢ | حرب الفجار كښې شركت | ١٦ |
| ١٣ | حلف الفضول | ١٦ |
| ١۴ | د حضور ﷺ اخلاق | ١٧ |
| ١۵ | شام ته دوباره سفر | ١٧ |
| ١٦ | د حضرت خديجې ؓ سره نكاح | ١٨ |
| ١٧ | د حضرت خديجې ؓ سره ژوند | ١٩ |
| ١٨ | حضرت زينب ؓ بنت رسول اللّٰه ﷺ | ٢٠ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| صفحه | مضمون | نمبرشمار |
|---|---|---|
| ۲۱ | حضرت رقیهٔ بنت رسول الله ﷺ | ۱۹ |
| ۲۲ | حضرت ام کلثومٔ بنت رسول الله ﷺ | ۲۰ |
| ۲۲ | حضرت فاطمهٔ بنت رسول الله ﷺ | ۲۱ |
| ۲۳ | حضرت سودهٔ زوجة النبی ﷺ | ۲۲ |
| ۲۴ | حضرت عائشهٔ زوجة النبی ﷺ | ۲۳ |
| ۲۵ | حضرت حفصهٔ زوجة النبی ﷺ | ۲۴ |
| ۲۶ | حضرت زینب بنت خزیمهٔ زوجة النبی ﷺ | ۲۵ |
| ۲۶ | حضرت ام حبیبهٔ زوجة النبی ﷺ | ۲۶ |
| ۲۷ | حضرت ام سلمهٔ زوجة النبی ﷺ | ۲۷ |
| ۲۷ | حضرت زینب بنت جحشٔ زوجة النبی ﷺ | ۲۸ |
| ۲۸ | حضرت صفیهٔ زوجة النبی ﷺ | ۲۹ |
| ۲۹ | حضرت جویریهٔ زوجة النبی ﷺ | ۳۰ |
| ۳۰ | حضرت میمونهٔ زوجة النبی ﷺ | ۳۱ |
| ۳۰ | د حضور ﷺ ترونه او ترویاني | ۳۲ |
| ۳۱ | تعمیر د کعبي شریفي | ۳۳ |
| ۳۲ | د وحی ابتداء | ۳۴ |
| ۳۳ | د اسلام تبلیغ | ۳۵ |
| ۳۵ | د اهل عرب مخالفت او دښمنی | ۳۶ |
| ۳۶ | د کافرانو کوشیشونه | ۳۷ |
| ۳۷ | د مکي د کافرانو د مسلمانانو سره سلوك | ۳۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| صفحه | مضمون | نمبرشمار |
|---|---|---|
| ۳۸ | د حضور ﷺ یوه معجزه | ۳۹ |
| ۳۹ | حبشي ته د هجرت اجازت | ۴۰ |
| ۴۱ | د قریشو ناجائزه مطالبه او معاهده | ۴۱ |
| ۴۲ | حبشي ته دویم هجرت | ۴۲ |
| ۴۲ | د قید او مصیبت نه نجات | ۴۳ |
| ۴۳ | دغم کال | ۴۴ |
| ۴۴ | طائف ته سفر | ۴۵ |
| ۴۵ | د معراج واقعه | ۴۶ |
| ۴۸ | د قریشو تپوسونه او د هغې جوابونه | ۴۷ |
| ۴۹ | د اسلام نور په مدینه کښې | ۴۸ |
| ۵۳ | مدیني منوري ته د هجرت ابتدا | ۴۹ |
| ۵۴ | د کافرانو سازش او منصوبه | ۵۰ |
| ۵٦ | په غارِ ثور کښې دمه | ۵۱ |
| ۵۷ | د سلو اوښانو انعام او د سراقه قصه | ۵۲ |
| ۵۹ | د حضور ﷺ یوه معجزه | ۵۳ |
| ۵۹ | په قبا کلی کښې ناسته او دمه | ۵۴ |
| ٦۰ | د حضرت علی رض هجرت | ۵۵ |
| ٦۰ | مدیني ته داخله | ۵٦ |
| ٦۱ | د مسجدِ نبوی تعمیر | ۵۷ |
| ٦۱ | د جهاد حکم او سریه حمزهؓ | ۵۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۵۹ | په غزواتو او سریو باندي سر سري نظر | ٦٢ |
| ٦٠ | سرية عبيدةؓ او د قبلي دبدليدلو حكم | ٦۴ |
| ٦١ | سريه عبدالله بن جحشؓ | ٦۵ |
| ٦٢ | غزوة بدر | ٦٦ |
| ٦٣ | غزوة غطفان | ٧١ |
| ٦۴ | د حضرت حفصهؓ او زينبؓ سره نكاح | ٧٢ |
| ٦۵ | غزوة احد | ٧٢ |
| ٦٦ | د يهوديانو مخالفت | ٨٠ |
| ٦٧ | بنوقينقاع سره جنگ | ٨٢ |
| ٦٨ | د اويا ( ٧٠ ) قاريانو واقعه | ٨٣ |
| ٦٩ | د رجيع مقام شهيدان | ٨٣ |
| ٧٠ | د بنو نضير قبيلي سازش | ٨۵ |
| ٧١ | د خندق يا د احزاب جهگړه ( غزوة خندق) | ٨٧ |
| ٧٢ | د بنوقريظه د عهد شكني انجام | ٩١ |
| ٧٣ | د حديبيي راضي نامه | ٩٢ |
| ٧۴ | د شاهانو په نومونو خطونه | ١٠٠ |
| ٧۵ | غزوة خيبر | ١٠١ |
| ٧٦ | د فدك فتح كيدل | ١٠۴ |
| ٧٧ | د حضرت صفيهؓ سره نكاح | ١٠۴ |
| ٧٨ | قضا شوي عمره | ١٠۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ٧٩ | بنو سليم ته د اسلام دعوت ورکول | ١٠٦ |
| ٨٠ | سريه غالب بن عبدالله | ١٠٦ |
| ٨١ | د موته جنګ | ١٠٧ |
| ٨٢ | په مکه مکرمه د مسلمانانو قبضه | ١٠٩ |
| ٨٣ | د حاطب بن ابي بلتعةؓ خط | ١١٣ |
| ٨٤ | سريه خالد بن وليدؓ | ١٢٢ |
| ٨٥ | سريه عمرو ابن العاصؓ | ١٢٣ |
| ٨٦ | سريه سعد بن زيدؓ | ١٢٣ |
| ٨٧ | غزوة حنين | ١٢٣ |
| ٨٨ | غزوة طائف | ١٢٥ |
| ٨٩ | د زکوة د راجمع کولو د فريضي اغاز | ١٢٩ |
| ٩٠ | غزوة تبوك | ١٣٠ |
| ٩١ | د مسجد ضرار معامله | ١٣٢ |
| ٩٢ | د متخلفينو (د ورستو پاتي کيدونکو) معامله | ١٣٣ |
| ٩٣ | مختلف وفدونه (جرګے) | ١٣٣ |
| ٩٤ | اولني حج | ١٣٤ |
| ٩٥ | د حضور ﷺ دحج د پاره سفر | ١٣٥ |
| ٩٦ | د حضور ﷺ د اخرت سفر | ١٣٧ |


★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

د حضور ﷺ د سیرت مبارك سره تعلق ساتل په هر مسلمان باندي لازم او ضروري دي . د سیرتِ محمد رسول اللّٰه ﷺ نه بغیر انسان د کامیابۍ ژوند نهٔ شي تیرولے . سیرتِ مصطفیٰ ﷺ د نیا او د آخرت د کامیابۍ د پاره ډیر بنیاد حیثیت لري . سیرتِ مصطفیٰ ﷺ کښې د حضور ﷺ ټول اقوال وافعال داخل دي . د حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ هر عمل او هر یو قول ته سیرتِ مصطفیٰ ﷺ وئیلے شي . سیرتِ محمدی ﷺ باندي په هره ژبه کښې ګڼ او بې شمیره کتابونه لیکلي شوي دي . پښتو ژبه کښې هم په دې موضوع ډیر لیك پروت دے. د هر یو تحریر جدا انداز دے . هر یو تحریر کښې جدا حُسن پروت دے . هر یو مؤلف په خپل سوچ او فکر سره په ښکلي انداز سره د حضور ﷺ د سیرت د خوږولو او مونږ ته د رارسولو کوشش کړے دے . او په دې کوشش کښې د نن وخت پورې د هرې زمانې عالمانو خپله حصه اچولے ده . ما هم د ثواب او مولیٰ کریم د رضا او رسول اللّٰه ﷺ د شفاعت د حصول د پاره په دې موضوع قلم اوچت کړے دے . زما کتاب په حقیقت کښې د ډیرو مستندو کتابونو خلاصه او نچوړ دے . او دا یو امتیاز زما کتاب د نورو کتابونو نه جدا کوي . مولیٰ کریم دے زما دا وړوکي شان کوشش په خپل دربار کښې قبول او منظور کړي او زما او زما د مور پلار، استاذانو ،خپل خپلوانو او ملګرو د پاره دے ئې د آخرت ذخیره اوګرځوي . وما توفیقي الا باللّٰه العلي العظیم

احمدعلی مردانی

یونیورستي روډ خوره بانډه مردان 0312- 9818511

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

## پاك نسب

دا خبره لکه دنمر په شان رڼا او واضحه ده چې زمونږ د خوږ نبي ﷺ نسب د دنيا په ټولو نسبونو کښې اعلىٰ او اوچت دے . او له هر قسمه عيبونو نه پاك دے ( 1 ) . ددغې خبرې اقرار د حضور ﷺ دښمنانو او د مکې کافرانو هم کړے دے .

د حضور ﷺ نسب د والد محترم له طرفه دا دے .

سيدنا محمد بن عبداللّٰه بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصى بن کلاب بن مره بن کعب بن لوى بن غالب بن فهر بن مالك بن نضر بن کنانه بن خزيمه بن مدرکه بن الياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان

د مور له طرفه نسب نامه ئې دا ده ( 2 )

سيدنا محمد بن آمنه بنت وهب بن عبد مناف بن زهره بن کلاب .

د حضور ﷺ په دواړو نسبونو کښې په کلاب سره نسب نامه يوه شى . ( 3 )

## د حضور ﷺ دَ ولادت بيان

دَ حضور ﷺ ولادت مبارك د نمر ختلو نه مخکښې او دَ سحر راختلو نه وروستو شوې دے مؤرخين په دې خبره متفق دى چې د ولادت ورځ دَ ګل وه او اسلامى مياشت دَ ربيع الاول وه . په تاريخ د ولادت کښې اختلاف دے مشهور قول دَ دولسم تاريخ دے ( 4 ) . مؤرخينو ، محدثينو اتهم تاريخ له

(c) ketabton.com: The Digital Library


ترجيح ورکړے ده . ( 5 ) بعضي خلقو نهم تاريخ ذکر کړے دے.

## د ولادت د کال اهم واقعات

په دغه کال دَ اصحابِ فيل مشهوره واقعه را پيښه شوي وه چې د کومې واقعې تفصيلي ذکر د سورتِ فيل په تفسيرونو کښې راغلے دے . هم په دغه کال د کسریٰ دمحل نه په زلزلي سره څلوارلس کانې راغرځيدلې وو. او هغه اور چې د زر کالونه د فارس سلطنت کښې په يو عبادت خانه کښې بليدلو يك دم مړ شولو .په بحيره ساوه ( د فارس ( موجوده ايران) يو درياب) کښې اوبه وچې شولے . ( 6 )

## د حضور د والدِ محترم د وفات واقعه

حضور مبارك ﷺ لادغي دنيا ته تشريف نۀ وو راوړے . په دغې زمانه کښې دحضور ﷺ نيکۀ عبدالمطلب مدينې منورې ته عبدالله ( دحضور ﷺ والدمحترم) لره دَ کهجورو راوړلو د پاره وليږلو . اتفاقاً په څۀ وجه په دغه سفر کښې دَ حضور ﷺ د والد محترم د وفات واقعه را پيښه شوه . او حضور ﷺ دغې فانی دُنيا ته دَراتلو نه مخکښې يتيم شو .( 7 ) د والد محترم د وفات نه پنځۀ شپږ مياشتې وروستو حضور مبارك ﷺ دغې دُنيا ته تشريف راوړلو

## نوم او عقيقه

د ولادت په شپږمه ورځ عبدالمطلب د حضور ﷺ د پاره محمد ﷺ نوم خوښ کړلو . قريشو د عبدالمطلب نه تپوس وکړۀ اے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوالحارث ! ( د عبدالمطلب کنیت) تا داسې نوم ولې خوښ کړلو چې ستا په خاندان او مشرانو کښې د چا نشته ؟ عبدالمطلب ووئیل ما دا نوم په دې وجه حضور ﷺ لره ایښے دے چې ټول مخلوق د دوی صفت بیان کړي .( 8 ) هم په دغه ورځ عبدالمطلب د حضور ﷺ عقیقه وکړهٔ .( 9 )

## دَ رضاعت زمانه

اول حضور ﷺ مبارك له خپلې مور بی بی پې ورکړه. بیا څهٔ ورځے ئې دَ بی بی ثوبیې سره تیرے کړے .(ثوبیه د ابولهب وینځه وه ) .له هغوی نه وروستو حضرت حلیمې بی بی سره پاتے شو.( 10 ) د عربو عامه طریقه دا وه چې ماشومان به ئې دَ بدن د ودې او د ښهٔ صحت د پاره مختلفو کلو ته لیږل . په دغه سلسله کښې د حضور ﷺ دا لاندینې واقعه مؤرخینو نقل کړے ده . د حضرت حلیمې بی بی بیان دے چې زهٔ (له طائف نه) د بنی سعد زنانو سره مکې مکرمې ته په دې نیت راغلم چې د ځان سره یو ماشوم دَ پیو او تربیت په غرض بوځم. ( چې د هغې په ذریعه زمونږ د کور فقر وفاقه او تنګدستیا ختمه شی ) دا زمانه دَ تنګدستیا او غربت زمانه وه .فقر وفاقه عام وه. زما سره په غیره کښې زما یو ماشوم زوئ هم وهٔ . د تنګدستا او د غربت د لاسه خوراکونه کم وو په دغې وجې د هغه د پیو خوراك هم نهٔ پوره کیده .د هغه دَ لوږې اوژړا دَ لاسه به مونږه شپې شوګیره کولے . مونږه یوه اوښه ساتلے وه . د هغې د کمزورتیا په وجه د هغې وجود کښې پیې نه وه .ډیره په ګرانه به مونږه وخت تیرولو . ډیر په ګرانه مونږه د نورو خلقو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو ځائے مکي مکرمي ته دغه سفر ترسره کړۀ . هریوي زنانه
د مالدارو کورنو ته زور کولو دَ حضورﷺ دَ یتیم والی په وجه
زنانه د حضورﷺ کور ته نۀ ورتلے . ځکه چي حضرت اٰمني
بی بی نه ئي د زیاتو پیسو او د انعام او اکرام امید نه وو .
زمونږ هریوي زنانه د مالدارو کورنو نه ماشومان ځان سره
واغستل . د حضورﷺ نه علاوه بل څوك پاتي نه شو. دَ
حضرت حلیمي بی بی بیان دے چي ما خپل خاوند ته وئیل
ماته ځان په دي بدي ښکاری چي له مکي مکري نه ( خپل
کلی ته )خالی جولي لاړه شم. د خالی تللو نه غوره او بهتره
خبره دا ده . چي مونږه د ځان سره حضرت محمد رسول الله
ﷺبوځو. خاوند راله اجازت راکړه . بی بی حیلمهؓ فرمائی :
حضرت اٰمني بی بی مونږ ته حضورﷺ حواله کړه . بیا مونږ
ولیدل چي د حضورﷺ په برکت سره زمونږه د سورلي رفتار
تیز شو.او هغه اوښه چي د لښلو قابله نه وه د پیو تري مونږ
څۀ امید نه ساتلو هغي په ډیر زیات مقدار سره مونږه لره
پیي راکول شورو کړه . بیا چي هر کله مونږ کور ته وورسیدلو
نو د حضورﷺ په برکت زمونږ د کور نه غریبی لاړه . د
برکتونو نزول شورو شو. ( 11 ) حضورﷺ د حضرت حلیمي
بی بیؓ سره په کور کښي دوه کاله تیر کړل . بیا ئي خپلی مور
ته د حواله کولو په نیت حضورﷺ راوستلو د غه وخت په
مکه مکرمه کښي د طاعون بیماری ښوره وه . له دي وجي
حضورﷺ حضرت حلیمي بی بی دوباره د ځان سره د مور په
اجازت سره بوتللو . په دغه زمانه کښي د حضورﷺ د شق

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدر واقعه راپیښه شوه . حضور ﷺ چي کله د حضرت حلیمي بی بی سره په کور کښي ديره وو . دغه زمانه کښي حضور ﷺ به د خپل د پیو شریك ورور سره بهر تللو . یوه ورځ حضور ﷺ د خپل ورور سره بهر تلے وه . دغه د پیو ورور شریك (عبدالله) په منډه منډه پریدلے (د حضور ﷺ د پیو شریك ورور) کور ته راغے او خپل والد محترم ته گویا شو . زما قریشی ورور دوه کسانو چي ئي سپیني جامي اغستي وے سملولو . بیائي ورله سینه سیرے کړه . ما هغه هم داسي حالت کښي پریښے دے او تاله راغلے یم . د عبدالله والد محترم اوعبدالله په منډه منډه په ویره حضور ﷺ له څنګل ته لاړل . دوی د حضور ﷺ نه د دغي واقعي په باره تپوس وکړه . حضور ﷺ اوفرمائیل : دوه تنه سپیني جامو والا ماله خواله راغلل او زما سینه ئي سیرے کړه . بیا ئي ترینه څۀ لرے کړل خو هغه څۀ وود هغي ماته پته نشته . د دغي واقعي نه حضرت حلیمي بی بی سره د دوی د ژوند فکر شو . مجبوراً ئي خپلي مورله راوستلو ( 12 ) او د حضور ﷺ والدي ته ئي مخکښي تیر شوی حالات بیان کړل .

## دَ حضور ﷺ اولني خبري

حضرت حلیمهؓ فرمائی چي کوم وخت د حضور ﷺ د پیو زمانه ختمه شوه دغه وخت د حضور ﷺ په ژبه باندي دا الفاظ وو.

اللّٰه اکبر کبیرا والحمدللّٰه حمدا کثیرا

وسبحان اللّٰه بکرة واصیلا . ( 13 )

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د حضور ﷺ د مور بی بی د وفات واقعه

حضور ﷺ دَ ولادت په شپږم کال حضور مبارك ﷺ دَ خپلي مور سره دَ څهٔ غرض د پاره مديني منوري ته تشريف يوړلو. حضور ﷺ د خپلي مور سره په مدينه منوره کښي يوه مياشت تيره کړهٔ .بيا حضور ﷺ دَ خپلي مور سره دَ مديني منوري نه راوپس شولو او ابواء نومي ځائے ته چي راورسيدل. نو په څهٔ وجه د حضرت آمنه بی بیؓ انتقال وشو. عزيزانو هم هلته کښي ئي زمکي ته وُسپارله . د حضرت آمنه بی بیؓ د تدفين نه پس حضور ﷺ د امّ ايمن سره مکي مکرمي ته تشريف راوړلو. امّ ايمن د حضور ﷺ سره په دغي سفر کښي ملګري وهٔ . ( امّ ايمن د حضور ﷺ وينځه وه ) ( 14 ) دغي واقعي سره حضور ﷺ په ډير لږ عمر کښي دَ مور پلار دَ سر دَ سيوري نه محرومه شو.

## د عبدالمطلب انتقال

امّ ايمن چي کله مکي مکرمي ته راغله نو حضور ﷺ ئي خپل نيکهٔ عبدالمطلب ته حوالهٔ کړهٔ . عبدالمطلب به د حضور ﷺ ډير خيال ساتلو . هر ځائے ته به چي تللو نو حضور ﷺ به ئي د ځان نه نهٔ جدا کولو. حضور ﷺ د عبدالمطلب سره دوهٔ کاله تير کړهٔ . کوم وخت چي د حضور ﷺ عمر مبارك اته ( ٨) کاله شو نو عبدالمطلب هم د نبی عليه السلام نه جدا شو او د دي جهان نه بل جهان ( آخرت ) ته پرده اوکړهٔ ( 15 ) د امّ ايمن بيان دے چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوم وخت عبدالمطلب وفات شو او د هغه جنازه اوچته شوه . نو ما ولیدل چي حضور ﷺ په جنازه پسي وروستو روان دے او ژاړی . ( 16 )

## د ابو طالب په کور کښي

د مور پلار اوَ نیکهٔ د انتقال نه وروستو حضور ﷺ دَ خپل سکه ترهٔ ابو طالب سره پاتي کیدل شورو کړهٔ . کله چي دَ حضور ﷺ عمر مبارك دولس کاله او دوه میاشتي شولو . دغه وخت ابو طالب دَ تجارت په غرض شام دَ تللو اراده وکړه نو حضور ﷺ ئي هم په سفر کښي دَ ځان سره ملګري کړه. په دغه سفر کښي په لاره تیماء نومي ځائے کښي یوه عجیبه واقعه راپیښه شوه .

## د یهودیانو د عالم رښتیا خبره

کوم وخت چي حضور ﷺ دَ ابو طالب سره په تیماء نومي ځائے کښي دمه کوله اتفاقاً دَ یهودیانو یو لوئي عالم چي په بحیرا راهب باندي یادیدلو دغي مقام سره خواته تیریدلو . هغهٔ چي حضور ﷺ ولیدلو . نو د ابو طالب نه ئي تپوس وکړهٔ چي دا هلك څوك دے ؟ ابو طالب ورته ووئیل چي دا زما ورارهٔ دے .بحیرا ابو طالب تهٔ ووے کهٔ چرته تهٔ د دوی ( محمد ﷺ) خیر خوا ئي او د دوی سره ښهٔ کول غواړي نو دوی شام ته مهٔ بوځهٔ . کهٔ چرته دوی تاسو د ځان سره بوتلل . نو د شام یهودیان به دوی قتل ( شهید) کړي . دوی ته به اللّٰه تعالیٰ په راروان وخت کښي نبوت ورکوی . دا هغهٔ نبی ﷺ دے چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یهودیانو دین به منسوخ کوی .دغه ټولې خبرې او دوی ټول اوصاف ما په خپل اسمانی کتاب کښې لیدلی دی .( بحیرا د تورات عالم وه د دوه دغه بیان درحقیقت د تورات ترجمانی وه . )( 17 ) ابوطالب چې د هغه راهب خبره واوریدله نو حضورﷺ ئې مکې مکرمې ته واپس راووليږلو .

## حرب الفجار کښې شرکت

د عربو قبیلې به په وړه وړه خبره جنګ ته تیاریدلے او بیا به هغه جنګ تر ډیر وخته پورې جاری وو. په دغه جنګونو کښې مشهور جنګ د حرب الفجار په نوم یادیږی . حرب په عربۍ ژبه کښې جنګ ته وئیلے شی . فجار د فجور نه جوړ شوی ټکی دے . دغه جنګ په هغه میاشتو کښې شوی وو چې په کومو میاشتو کښې قتال (جنګ کول ) ګناه ، منع او حرام وۀ . په دغې عظیم جنګ کښې حضور ﷺ د خپلو ترونو سره د هغوی په زوروره مطالبه شریك شوے وو. حضور ﷺ په دغې موقع هم د قتال نه ځان لرې ساتلے وۀ . دغه وخت د حضور ﷺ عمر شریف څوارلس یا پنځلس کاله وۀ . د محمد بن اسحاق قول دے چې دغه وخت د حضور ﷺ عمر مبارك شل کاله وۀ.( 18 )

## حلف الفضول

د عربیانو فطرت په لږه لږه خبره د یو بل سره جنګونه کول وو . بیا د هغې جنګونو اثر به تر ډیر وخته پورې نه ختمیدلو . د حرب ( جنګ) فجار نه پس د عربو بعضې مشران د عبدالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بن جدعان په کور کښې راجمع شو چې د حلف الفضول په طريقه بيا يو عهد وکړو . چې د آخر وخته پورې به د مظلوم مدد کوؤ . هغهٔ کهٔ هرې يوې قبيلې سره تعلق لري . په دغې عهد کښې حضور ﷺ هم شريك شوې وۀ . ( 19 ) حضور ﷺ د دغې عهد متعلق فرمائی کهٔ چرته ماته د دغې عهد په بدله کښې سرهٔ اوښان ( په اوښانو کښې اعلیٰ ترين قسم ) ملاويدے نو ما به نهٔ وو خوښ کړی . او که د اسلام په زمانه کښې ما ځوك داسې عهد ته راووبلی نو زهٔ به خامخا ورله ورځمه .

## د حضور ﷺ اخلاق

داؤد بن الحصين نقل کړی دی . فرمائی . د عامو خلقو وينا ده. حضور ﷺ په داسې شان او کيفيت سره ځوانې ورسيدلو چې په خپلې قبيلې کښې د ټولو نه زيات ښهٔ اخلاقو والا ، د ګاونډيانو نه ځان خبر ساتلو والا، ډير زيات حلم ( برداشت) والا، رښتونې ، امانت داره وۀ . د هرقسمه جګهړو ، کنځلو او بدو خبرو نه لرې وۀ .په دې وجه ورته د خپلې قبيلې ټولو خلقو د امين لقب ورکړۀ . ( 20 ) او بيا په دغې لقب سره په پوره عرب او بيا په پوره دنيا کښې ياد شولو. حضور ﷺ د امين په لقب د عربو په کوځهٔ کوځهٔ کښې ياديدلو . په دغې وخت کښې دا خبر د حضرت خديجې ؓ کور ته لاړلو .

## شام ته دوباره سفر

حضرت خديجهٔ ؓ د مکې مکرمې يوه ډيره مالداره پاك دامنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معزره ښځه وه. د پاك دامني په وجه په طاهره ( معنىٰ پاك دامنه) يادېدله. هغي ته چي دَ حضورﷺ دَ اوصافو پته ولګېدله. نو هغي پاك دامني زنانه حضورﷺ ته د خپل غلام په ذريعه دا پيغام واستولو چي كه چري تاسو زما تجارتي مال شام ته يوسے نو زۀ به تاسو له د نورو خلقو نه زياته ګټه (نفع) د تجارتي مال په ګټه كښي دركړم. حضورﷺ د خديجي خواهش ته غاړه كيښوده او د هغوی دَ مال تجارت سره په شپاړسم ذی الحجه دمكي مكرمي نه ملك شام ته روان شولو. دغه سفر كښي د حضورﷺ سره د حضرت خديجيؓ غلام ميسره هم ملګري وۀ. په لاره كښي د ميسره ملاقات د يو يهودی عالم سره وشولو چي نوم ئي نسطورا وۀ. هغۀ ميسره ته ( د تورات په رڼا كښي) ووئيل چي دا انسان ( حضرت محمدﷺ ) به ( په راروان وخت كښي ) د اللّٰه پيغمبر جوړيږی. ( 21 )

## د حضرت خديجيؓ سره نكاح

حضرت خديجهؓ ډيره هوښياره ښځه وۀ. هغي د حضورﷺ د سفر ټول حالات ورقه بن نوفل ته ووئيل. ورقه چي د حضورﷺ متعلق دغه خبرے واوريدلے نو حضرت خديجيؓ ته ئي اوفرمائيل: محمدﷺ د دي امت پيغمبر دے. اوما ته ښۀ پته ده چي يو پيغمبر راتلونكے دے چي د چا مونږ په انتظار يُو. او هغه زمانه رانزدي ده. ( 22 )

حضرت خديجيؓ چي د ورقه بن نوفل دغه خبري واوريدلے. او د حضورﷺ ظاهري او باطني كمالات ووليدل نو د حضور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷺسره ئې د نکاح کولو خواهش پیدا شو. او حضور ﷺته ئې د یوقاصد په ذریعه د نکاح پیغام ولیږلو . حضور ﷺ د خپل تره ابوطالب په مشوره د حضرت خدیجې ؓ سره نکاح کولو ته تیار شولو . د نکاح دپاره ابو طالب او د هاشم خاندان خلق او دغه شان دَ مضر خاندان راجمع شول . دغه وخت ابو طالب د نکاح خطبه ووئیله اوشل اوښان مهر مقرر شو ( سیرتِ ابن هشام ) حافظ ابو بشر دولابی فرمائی مهر دولس نیمې اوقیې مقرر شوې وو . یو اوقیه د څلویښتو درهمو برابر وی . په دې حساب مهر پنځه سوه درهمه مقرر شو . د نکاح په وخت دَ حضور ﷺعمر مبارك پینځویشت کاله وۀ . او د حضرت خدیجې بی بی ؓ عمر مبارك څلویښت کاله وۀ. ( 24 ) ( 23 )

## د حضرت خدیجې ؓ سره ژوند

حضرت خدیجې بی بی د حضور ﷺپه نکاح څلیریشت کاله پاتې شوې وۀ . دغه زمانه څۀ د نبوت دَ ملاویدلو نه مخکښې ده او څۀ دَ نبوت دَ ملاویدلو نه ورستو وۀ . حضور ﷺ له د حضرت خدیجې ؓ نه اللّٰه تعالیٰ دوه ځامن ( قاسم او عبداللّٰه چې په طاهر او طیب سره هم یادیدلو ) او څلور لوریانې( حضرت زینبؓ ، حضرت رقیهؓ ، حضرت ام کلثوم ؓ ، حضرت فاطمه ؓ ) ورکړې وے.( د حضور ﷺدریم ځوئے چې نوم ئې ابراهیم وه . د هغوې پیدائښت د حضرت ماریه قبطیه نه شوې وه.) د حضور ﷺټول نارینه اولاد بلوغت ته دَ رسیدلو نه مخکښې وفات شوے وو. د حضور ﷺپه لوریانو کښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټولو نه مشره لور حضرت زینبؓ وه . حضرت زینبؓ پسي د حضرت قاسمؓ پیدائش شوے وو بیا وریسي ام کلثوم ، فاطمه ، رقیه او په آخرکښي د حضرت عبداللّٰه ولادت شوے دے . د حضرت عبداللّٰه ولادت حضور ﷺ ته د نبوت ملاویدو نه پس شوي دے . په دي وجه عبدا للّٰه ته طیب او طاهر هم وئیلے شي . د حضور ﷺ له طرفه د حضرت خدیجيؓ ټولو لوریانو او ځامنو ته د صفیه وینځے سلمیٰ پی ورکړی وو. ( 25 )

## د بناتِ مصطفیٰ ﷺ دژوند حالات

## حضرت زینب بنت رسول اللّٰه ﷺ

دا د حضور ﷺ مشره لور ده . ( 26 ) د حضرت زینبؓ نکاح د خپلي ترور ځوئ حضرت ابوالعاصؓ ( نوم ئي لقیط ) سره شوي وه . هاله د حضرت ابوالعاصؓ مور وه . او د حضرت خدیجيؓ خور وه . د هجرت په ووم کال ابوالعاصؓ اسلام قبول کړے وه .( 27 ) د حضرت زینبؓ د حضرت ابوالعاص نه یوه لور ( نوم ئي امامه) او یو ځوے (نوم ئي علی) وه . د علی بن ابوالعاصؓ انتقال په ماشوم والی کښي شوي وه . امامهؓ بنت ابوالعاصؓ لره اللّٰه تعالیٰ ژوند ورکړے وه . اولني نکاح ئي د حضرت علیؓ سره شوي وه بیا د هغوی نه پس د حضرت علیؓ د وصیت مطابق د حضرت مغیرهؓ په نکاح کښي راغله . ( 28) د حضرت زینبؓ بنت حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ انتقال د هجرت په اتهم کال شوے وۀ . حضور ﷺ ورله خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کپړو کښې کفن ورکړو او بیا په خپلو مبارکو لاسونو ئي زمکې ته اوسپارله.) ( 29 )

## حضرت رقیه بنت رسول الله ﷺ

حضرت رقیهؓ د حضرت زینبؓ نه درې کاله پس پیدا شوې وه اولنې نکاح ئې عتبه د ابولهب ځوئې سره شوې وه . رخصتي لا نۀ وه شوې . کوم وخت چې حضور ﷺ د خپل نبوت اعلان وکړۀ . او ابوالهب دغه اعلان بد وګڼه او د حضور ﷺ په شان کښې ئې بې ادبي وکړله . نو په جواب کښې الله تعالی سورت﴿ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ الاية .... ﴾ نازل کړه . په دغې موقع ابولهب خپل ځوئې ته مخامخ قسم وخوړلو چې تا سره ناسته پاسته خوراك سكاك تر هغه وخته پورې په ما حرام دے ترڅو چې تا د محمد ﷺ لور لره طلاق نه وی ورکړے .عتبه د پلار خبره اومنله او حضرت رقیهؓ ته ئې طلاق ورکړه.( 30) بیا د دغې واقعې نه پس د حضرت رقیهؓ نکاح د حضرت عثمانؓ سره اوشوه . حضرت رقیهؓ لره الله تعالیٰ د حضرت عثمانؓ نه یو ځوئے (عبدالله) ورکړے وۀ . هرکله چې عبدالله بن عثمانؓ شپږ کاله ته ورسیدلو . نو یو چرګ ورله سترګه زخمي کړه . هم د هغې د لاسه د هجرت په څلورم کال په مدینه منوره کښې وفات شو. ( 31 ) د حضرت عبدالله د مور حضرت رقیه بنتِ رسول الله ﷺ د وفات واقعه د غزوه بدر په ورځ پیښه شوې وۀ . کوم وخت چې د بدر د فتح زیرے مدینې منورې ته راغے هغه وخت حضرت عثمانؓ د حضرت رقیهؓ د تدفین نه فارغه شولو. د غزوه بدر په موقع

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت رقیهؓ بیماره وهٔ . د حضور ﷺ په حکم حضرت عثمانؓ د حضرت رقیهؓ د خیال ساتلو د پاره مدینه منوره کښي پاتے شوے وهٔ . په دغه وجي د غزوه بدر په مالِ غنیمت کښي د حضرت عثمانؓ برخه هم وهٔ .( 32 )

## حضرت ام کلثوم بنت رسول اللّٰه ﷺ

د حضرت ام کلثومؓ اولني نکاح د ابولهب د ځوئے سره شوي وه . رخصتي لا نهٔ وه شوي . د حضرت رقیهؓ په شان د ابولهب ځوی عتیبه حضرت ام کلثومؓ ته طلاق ورکړهٔ . بیا د هجرت په دریم کال د حضرت عثمانؓ په نکاح کښي راغله . ( 33 ) حضرت ام کلثومؓ شپږ کاله دحضرت عثمانؓ په نکاح کښي وه .بیا د هجرت په نهم کال په شعبان کښي وفات شوه . اسماء بنت عمیس او صفیه بنت عبدالمطلب ورله غسل ورکړه . بیا حضور ﷺ ورله جنازه وکړه. او قبر ته حضرت علیؓ ، فضل بن عباسؓ او اسامه بن زیدؓ کوزه کړهٔ . ( 34 )

## حضرت فاطمة بنت رسول اللّٰه ﷺ

د حضرت فاطمهؓ ولادت حضور ﷺ ته د نبوت ملاویدو نه پنځه کاله مخکښي شوي دے . ( 35 ) حضرت فاطمهؓ د حضرت عائشيؓ نه پنځه کاله مشره وهٔ . ( 36 ) ددوی نکاح د حضرت علیؓ سره دهجرت په دویم کال د رجب یا درمضان یا د ذیقعده په میاشت کښي شوي وهٔ . په مهر کښي حضرت فاطميؓ ته څلور سوه مثقاله سپین زر ملاؤ شوی وو .( 37 ) د نکاح نه پس رخصتي ئې د ماسخوتن د مونځ نه مخکښي

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوي وهٔ . ( 38 ) د حضرت فاطمې ؓ نه د حضرت علیؓ شپږ بچي وو. دري ځامن حضرت حسنؓ ، حضرت حسینؓ ، حضرت محسنؓ او دري لورياني حضرت رقیهؓ ، حضرت ام کلثومؓ او حضرت زینبؓ . ( 39 ) د حضور ﷺ د وفات نه شپږ میاشتي وروستو د دوی انتقال شوي دے . ( 40 )

## د ازواج مطهراتؓ دژوند حالات

حضور ﷺ دَ حضرت خدیجهؓ په ژوندون د بل چا سره نکاح نه وه کړے. د هجرت نه دري کاله وړاندي چي کله حضرت خدیجهؓ وفات شوه . او دَ رسول اللّه ﷺ عمر مبارك يو کم پنځوس کاله شولو . نو ډيرو زنانو دَ حضور ﷺ سره دَ نکاح کولو خواهش ظاهر کړلو . دغه زنانو کښي حضرت سوده بنت زمعه ، حضرت عائشه ، حضرت حفصه ، حضرت ام سلمه ، حضرت زینب بنت خديمه ، حضرت زينب بنت جحش ، حضرت جويريه ، حضرت اَم حبيبه ، حضرت صفيه او د حضرت میمونه شاملي دی .

## حضرت سوده رضی اللّه عنها

حضور ﷺ د حضرت سودهؓ سره نکاح د حضرت خديجيؓ د وفات نه يو څو ورځے پس کړے وهٔ . دا هم د حضرت خديجيؓ په شان ډيره معززه قدرمنده اعلیٰ نسب والا وهٔ . د حضرت سودهؓ نسب په لوی بن غالب سره د حضور ﷺ د نسب سره ملاويږی . د والدي نوم ئي شموس بنت قيس دے .اولني نكاح ئي د خپل تره زوئي سكران بن عمروؓ سره شوي وهٔ .

(c) ketabton.com: The Digital Library


حضرت سودهؓ او حضرت سکران دواړو حبشي ته هجرت کړې وو . د حبشي نه واپسي کښې په لاره د حضرت سکرانؓ انتقال اوشو . د حضرت سکران بن عمروؓ د انتقال نه پس د حضور ﷺ په نکاح کښې راغله . دمؤرخینو په دې خبره کښې اختلاف دے چې حضور ﷺ د حضرت عائشهؓ او د حضرت سودهؓ دواړو کښې د چاسره اول نکاح کړے دهٔ . زیات علماء د دې قائل دی . چې حضرت سودهؓ نکاح اول شوې وهٔ بیا د هغې نه څهٔ لږه موده پس د حضرت عائشهٔ سره د حضور ﷺ نکاح شوې ده . ( 41 ) ( 42 )

## حضرت عائشه رضی اللّٰه عنها

د دوی دَ والد محترم نوم ابوبکرصدیقؓ دے چې دَ حضور ﷺ په تکلیف کښې ئې ملګرتیا کړے ده . د موربی بی نوم ئې زینب دے . حضرت عائشېؓ د حضرت عبداللّٰه بن زبیرؓ په نوم خپل کنیت امّ عبداللّٰه ایښے وهٔ . د حضرت سودهؓ نه پس حضور ﷺ د حضرت عائشېؓ سره نکاح کړے وهٔ . دغه وخت د حضرت عائشېؓ عمر شپږ کاله وهٔ . ( 43 ) . بیا دَ هجرت په کال چې دغه وخت د دوی عمر نهه (9) کاله وهٔ . د حضور ﷺ کورته ئې ( رخصتي وشوه) تشریف یوړلو . په کوم کال چې حضور ﷺ د دې دنیا نه پرده وکړله . په هغه کال د دوی عمر اتلس( 18) کاله وهٔ. حضرت عائشهٔ نهه کاله د حضور ﷺ په زوجیت کښې پاتې شوې ده . د حضور ﷺ دَ صحبت او ملګرتیا په دوی ډیر زیات اثر پریښې وهٔ . د هغې اثر دا نتیجه وه چې لویو لویو اصحابوؓ د دوی نه احادیث

(c) ketabton.com: The Digital Library


نقل کړی دی.( 44 )( 45 )

## حضرت حفصه رضی الله عنها

د دوی د والد محترم نوم حضرت عمرؓ دے چې د چا دَ ایمان راوړلو دَ پاره رسول اللّه ﷺ خصوصی دعا غوښتي وه. د حضرت حفصهؓ اولني نکاح د انیس بن حذافه سره شوي وه . انیس بن حذافه ته په جنګ احد کښي شهادت ملاؤ شوے وو.( 46 ) د دوی د شهادت نه پس د حضرت عمرؓ حضرت سیدنا صدیق اکبرؓ سره د حضرت حفصهؓ نکاح کول اوغښتل . حضرت ابوبکرؓ ورله هیڅ جواب ورنکړۀ . نو بیا ئي حضرت عثمانؓ سره د حضرت حفصهؓ د نکاح په باره کښي خبره وکړه . هغوی ورته ووئیل چې سوچ به اوکړم بیا به تاته ووایم . څه وخت پس بیا حضرت عمرؓ د حضرت عثمانؓ سره خبره وکړۀ. نو حضرت عثمانؓ ورته ووئیل چې زۀ داساعت واده کول نۀ غواړم . حضرت عمرؓ له غصه ورغله او حضور ﷺ ته ئي د دوی شکایت وکړه . حضور ﷺ ورته په جواب کښي اوفرمائیل د حفصهؓ واده به د حضرت عثمانؓ نه غوره انسان سره کیږی او دعثمانؓ واده به د حفصهؓ نه غوره زنانه سره کیږی . بیا هم هغه شان وشو څنګ چې حضور ﷺ فرمائیلی وو د حضرت حفصهؓ سره حضور ﷺ په خپله نکاح وکړه او د حضور ﷺ خپله لور حضرت امّ کلثومؓ حضرت عثمانؓ ته په نکاح کړه .( 47 )کوم ساعت چې د حضور ﷺ سره د حضرت حفصهؓ نکاح شوي وه هغه وخت د حضرت حفصهؓ عمر شل کاله وۀ . او د حضور ﷺ عمر مبارك پنځه پنځوس کاله وۀ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نکاح دا واقعه د هجرت په دریم کال پیښه شوې وه.( 48 )

## حضرت زینب بن خزیمه هلاله رضی الله عنها

دامّ المساکین په لقب سره یادیدنکي دا هغه قدرمنده او عزمنده زنانه ده چي د دوی سره اولني نکاح د طفیل بن حارث شوي وه . بیا دَ هغوی د طلاق نه وروستو حضرت عبیدهؓ په نکاح واغستله . د حضرت عبیدهؓ د شهادت نه وروستو بیا حضور ﷺ په نکاح کښي راغله. دحضرت عبیدهؓ دَ شهادت واقعه په غزوه بدر کښي پیښه شوي وه او د حضرت زینب نکاح د حضور ﷺ سره دَ غزوه احد نه یوه میاشت مخکښي شوي وه. د بعضي علماء قول دا دے چي د دوی اولني نکاح د عبدالله بن جحش سره شوي وه . هغه عبدالله بن جحش چي په غزوه احد کښي شهید شوے وۀ . د هغوی د شهادت نه وروستو حضور ﷺ د حضرت زینبؓ سره نکاح وکړۀ. د حضرت زینبؓ انتقال د دیرشو کالو په عمر کښي شوے دے او حضور ﷺ ئي پخپله د جنازي مونځ ادا کړے دے .

( 50 )( 49 )

## حضرت ام حبیبه رضی الله عنها

دام حبیبهؓ اصل نوم رمله وه . ورته د لور دنوم په وجه امّ حبیبه وئیلے شي .دَ پلار نوم ئي ابوسفیان ( صخر) دے . د عبیدالله بن جحش په نکاح کښي وه . او د هغۀ نه ئي یوه لور وه . ښځه خاوند دواړه مسلمانان شول او دواړو حبشي ته هجرت وکړلو . عبید الله بن جحش په حبشه کښي نصرانیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختيار کړۀ . دغه وخت حضرت ام حبيبهؓ په خپل ايمان باندي کلکه ولاړه وه . حضور ﷺ ورته دنجاشي بادشاه په ذريعه يو خط وليکلو او په هغي کښي ئي ورته ورسره دَ نکاح کولو اراده ظاهره کړه .د ام حبيبهؓ سره د حضور ﷺ په نکاح کښي نجاشي بادشاه دَ حضور ﷺ له طرفه په مهر کښي ام حبيبهؓ ته څلور سوه درهمه ورکړل. د نکاح دا واقعه د هجرت په شپږم کال راپيښه شوے وه.

## حضرت ام سلمه رضی اللّٰه عنها

د امّ سلمه نوم هند دے . اول دَ ابو سلمه په نکاح کښي وه . د دوی نه ئي شپږ بچي (عمر ، سلمه ، زينب ، دره ، محمد بن سلمه، ام کلثوم بنت ابی سلمه) وو . بعضي مورخينو ئي صرف د څلورو بچو ذکر کړے دے . ابو سلمهؓ (عبداللّٰه بن عبداللّٰه بن عبدالاسد مخزومی د ام سلمهؓ د ترۀ زوئي) په غزوه بدر کښي شريك شوے وۀ . بيا په غزوه احد کښي زخمي شولو او له دغي زخم له وجي وفات شو . ( 51 ) د ابو سلمه د شهادت نه پس بيا په 4 هجري يا 3 هجري کښي دَ حضور ﷺ په نکاح کښي راغله . مشهوره ده چي په ازواج مهطرات کښي دَ ټولو نه وروستو دَ حضرت ام سلمهؓ انتقال شوي دے .( 52 )( 53 )

## حضرت زينب بنت جحش رضی اللّٰه عنها

د حضور ﷺ د ترور ( اميمه بنت عبدالمطلب ) لور وه . د دوی نوم بره وو . يوه ورځ حضور ﷺ ترينه د نوم تپوس وکړه . نو

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي خپل نوم بره اوښودلو . حضور ﷺ ورته په جواب کښي ارشاد اوفرمائيل ستا نوم بره نه دے زینب دے د هغه وخت دوی ته زینبؓ وئیل شورو شو.( 54 ) د دوی اولني نكاح د حضور ﷺ په حكم باندي د حضرت زيد بن حارثؓ سره شوي وه .تقريباً يو كال پوري دغه عقد برقرار وۀ . د حضرت زينبؓ او دَ حضرت زيدؓ په طبيعيت كښي دَ عدم مطابقت په وجه د حضور ﷺ دَ صلاح او مشوري نه حضرت زينبؓ له حضرت زيدؓ طلاق وركړلو. بيا حضور ﷺ حضرت زينبؓ سره نكاح وكړله .دغه وخت د حضرت زينبؓ عمر د يوقول مطابق پنځويشت كاله او دبل قول مطابق پنځه دريش كاله وه . څلور سوه درهمه مهر مقرر كړے شوے وو. حضور ﷺ په دغه موقع صحابهؓ له د روټي انتظام كړے وو. د حضرت زينبؓ د نكاح دا واقعه د هجرت په څلورم كاله باندي پيښه شوے وه . د حضور ﷺ حضرت زينبؓ سره د نكاح كولو يوه وجه دَ حضرت زينبؓ له تسلي او ډا ډګيرنه وركول وو بل طرف د يو باطل رسم ختمول وه . په عربو كښي دا دستور وو چي چا به يو تن ته ځوئے ووئيلو نو د هغه د زنانه سره به ئي پس له طلاق نه هم نكاح نه شوه كولے . او د هغه انسان سره به ئي د سكه ځوى په شان تعلق ساتلو . ( د زيات تفصيل د پاره فتح الباري ، تفسير احزاب مطالعه وكړئ.( 55 )

## حضرت صفيه بنت حيي رضي الله عنها

د پلار نوم ئي حي بن اخطب او د مور نوم ئي ضره وۀ.( 56 ) د استيعاب مؤلف ئي د والدي نوم بره بن سموال ذكر كړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے . ( 57 ) پلار ئې د بنو بضير قبيلې مشر وۀ .د دوی دَ نسب آغاز او ابتداء دَ حضرت هارون عليه السلام نه شوي ده . رومبي نکاح ئې د اسلام بن مشکم قرظی سره شوي وه . بيا د طلاق نه پس ئې د کنانه ابن ابی الحقيق سره اوتړله .کنانه ابن ابی الحقيق په غزوه خيبر مسلمانانو قتل کړه . په دغې غزوه کښې مسلمانانو ته ډير مالِ غنيمت په لاس ورغلو . په دغې مالِ غنيمت کښې حضرت صفيه هم وه . حضرت صفيهؓ د حضرت دحيه کلبیؓ په حصه کښې راغله . حضورﷺ ته يو صحابي ووئيل چې دا خو د بنو قريظه او د بنونضير د سردار لور ده . دا خو ستا سو لائقه ده . چې ستاسو سره وی . حضور ﷺ حضرت دحيه کلبیؓ راوغبنتلو او د حضرت صفيهؓ په بدل کښې ئې ورله بله يوه وينځه ورکړه . بيا ئې د حضرت صفيهؓ سره نکاح اوکړۀ .( 58 )

## حضرت جويريه بنت حارث رضی اللّٰه عنها

د پلار نوم ئې حارث بن ضرار دے چې په بنی المصطلق کښې دَ خزاعی قبيلې مشر وۀ . د حضرت جويريهؓ اولنې نکاح د خپل تړۀ ځوی مسافع بن صفوان سره شوے وۀ . مسافع بن صفوان په غزوه مريسيع ( بنو مصطلق ) کښې مسلمانانو ووژلو . حضرت جويره په جنگ کښې قيدی جوړه شوه . بيا دَ حضور ﷺ په نکاح کښې داخله شوه . د حضور ﷺ سره د نکاح په وجه د حضرت جويريه ټوله قبيله د قيد نه خلاصه شوه . او د صحابهؓ له طرفه د دغې قبيلې هر قيدی ته آزادي ملاؤ شوله .( 59 ) حضورﷺ سره د نکاح په وخت د

(c) ketabton.com: The Digital Library


حضرت جویریه عمر شل کاله وۀ . د دوی د قید نه د آزادي قیمت ( چې څلور سوه درهمه وو ) مهر وو . د دوی نوم برّه وۀ . حضور ﷺ ورله جویریه نوم ایښے وۀ .( 60 )( 61 )

## حضرت میمونه بنت حارث رضی اللّٰه عنها

حضرت میمونه بنت حارث ثقفیؓ د رسول اللّٰه ﷺ د بعثت نه پنځویشت کاله مخکښې پیدا شوې وه . نوم ئې برّه وۀ . بیا وروستو میمونه شوله . ړومبې نکاح ئې مسعود بن عمر سره شوې وه .د هغۀ دَ طلاق نه وروستو د ابورهم په نکاح کښې راغله ، بیا د هغه دَ وفات نه وروستو دَ حضور ﷺ په نکاح کښې داخله شوه. د دوی نه وروستو حضور ﷺ د بل چاسره نکاح نۀ ده کړے. دا دَ حضور ﷺ اخیري زوجه محترمه ده .) د دوی نه علاوه د حضور ﷺ سره دَ نورو زنانو هم دنکاح ذکر د تاریخ په کتابونو کښې شته . په هغې زنانو کښې بعضې زنانه داسې وے چې حضور ﷺ ورته د نکاح نه پس د رخصتی نه مخکښې طلاق ورکړے وو. او بعضې د هغوی نه داسې وے . چې ورسره د نکاح وعده شوې وه . د دوی سره حضور ﷺ وخت نۀ وو تیر کړے په دې وجه دلته د هغه زنانو ذکر نۀ دے راغلے .)( 62 )( 63 )

## د حضور ﷺ ترونه او ترورياني

د عبدالمطلب لس ځامن وو . حارث ، زبیر ، حجل ، ضرار ، مقوم ، ابولهب ، عباس ، حمزه ، ابوطالب ، عبداللّٰه . په دوی کښې عبداللّٰه دَ حضور ﷺ والد محترم دے . دغه نور تول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضور ﷺ ترونه دی . حضرت عباسؓ دَ ټولو نه کشر وه.
دحضور ﷺ شپږ تروریاني دی . امیمه، ام حکیم، بره ، عاتکه
صفیه، اروئ .( 64 )

## تعمیر د کبعي شریفي

حضور ﷺ چي کله پنځه دیرش کاله ته وورسیدلو . د عرب
قریشو اراده وکړله چي بیت اللّٰه دوباره په نبهٔ شان سره
جوړکړي. د بیت اللّٰه په دغه تعمیر کبني حصه اغستل
هریو سعادت ګڼل . ځکه هریو په دغه تعمیر کښي پوره پوره
برخه واغستله . بیا چي کله دَ حجر اسود په خپل ځائے
باندي د کیښودلو وخت راغي نود هریو مشر دا تمنا وه چي دا
سعادت هغه ته ملاؤ شي . خو د هریو دا تمنا نه شوه پوره
کیدے . د ښهٔ سوچ نه وروستو ټول مشران په دي خبره متفق
شو . چي هرڅوك اول د دغي مسجد حرم دروازي رادننه شو
د هغه په مرضي باندي به عمل کوؤ . هغه به زمونږ په دي
معامله کښي قاضي او منصف وی . او د هغه فیصله به ټولو
ته منظوره او قبوله وی .د مولیٰ کریم له طرف نه فیصله شوي
وه . دغه وخت په دغه دروازه حضور ﷺ رابنکاره شو. خلقو
چي حضور ﷺ ولیدلو . نو ډیر خوشحاله شو او ټولو چغي
کړي . دا خو ډیر صادقه (ربښتونے) او امین( امانت داره ) دے
. دوی چي څهٔ فیصله وکړهٔ مونږه ټولو ته منظوره ده .
. حضور ﷺ دوی له نزدي ورغے . او یوه داسي فیصله ئي
وکړهٔ چي ټولو ته د زړهٔ سکون او اطمینان نصیب شو . حضور
ﷺ ورته اُوفرمائیل ماله یو څادرراوړے . حضور ﷺ له

(c) ketabton.com: The Digital Library


څادر راوړلے شو . هغه څادر حضور ﷺ په زمکه بنور کړه .
دغه وخت حضور ﷺ حجر اسود په خپلو لاسو د څادر مينځ
کښې کيښودلو. بيا ئي د هر يو قبيلې مشر ته اوفرمائيل چې د
دې څادر طرفونه وونيسى . د هر يو قبيلې مشر د هغې څادر
طرفونه اونيول . بيا ټولو په شريکه د څادر په ذريعه حجر اسود
خپل مقام ته يو ځلو . له دې نه پس حضور ﷺ پخپله په
خپلو لاسو مبارکو حجر اسود راوچت کړلو او په خپل مقام ئې
کيښودلو . د حضور ﷺ په دغې ښکلې فيصلې سره عرب
ديوې لوئې جهګړې نه بچ شو . ( 65 )( 66 )( 67 )

## د وحى ابتداء

هر کله چې د حضور ﷺ عمر مبارك څلويښت کاله شولو او
اللّٰه تعالىٰ ورته د نبوت تاج پسر کول اُوغښتل نو په غارِ حرا
کښې ورته د جبرائيل امين په ذريعه د وحى ابتدا وشوله. دغه
واقعه د وحى حضور ﷺ په اول ځل حضرت خديجې بى بىؓ
ته بيان کړه . حضرت خديجېؓ حضور ﷺ له تسلى ورکړه .
بيا ئې دَ خپل تره ځوئې ورقه بن نوفل خواته بوتللو . ورقه
ورته ووئيل چې دا د مولىٰ هغه فرښته ده . کومه چې به
حضرت موسىٰؑ له راتله . بيا ئې ورته اوفرمائيل چې ارمان د
دې خبرې کوم چې زهٔ هغه وخت ښهٔ طاقتور او روغ وے . کله
چې به ستا قوم قبيله تا له دَ خپل کور کلى نه ا ووباسى .
حضور ﷺ ترينه په تعجب سره تپوس وکړهٔ چې داسې کيدې
شى؟ ورقه ورته ووئيل چې د کومې خبرې سره تاسو راتلهٔ
کړې دى د دې خبرې په وجه وړاندې پيغمبرانو سره هم دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـار شـوي دے . د دي واقـعـي نـه يـو څـو ورځـي وروسـتـو ورقه وفات شولو .( 68 )

## د اسلام تبليغ

د اولـنـي وحـي نـه پـس حـضـور ﷺ لـره د جبـرئيـل امـيـن په ذريعه بيا دا وحي راغله.

يٰايها المدثر ★ قم فانذر ★وربك فكبر ★

وثيابك فطهر ★والرجز فاهجر ★ ( مدثر)

د دي اياتـونـو پـه نـزول سـره حـضـور ﷺ تـه د تبليغ كولو او د اسـلامـي تـعـلـيـمـاتـو رسولو حكم وشو. په حضور ﷺ باندي اولـنـي ايـمـان راوړونكـے ام المؤمنين حضرت خديجهؓ وۀ. بيا د هـغـي نـه وروستو حضرت ابوبكرصديقؓ ، حضرت عليؓ او دَ حـضـور ﷺ خـاص خـادم حـضـرت زيـد بن حارثهؓ اسلام قبول كـړۀ. بيا په پټه باندي حضور ﷺ په دَ حضرت ابوبكر صديقؓ سـره خـلـق اسـلام تـه رابـلـل. د دغـي تـبـلـيـغ له بركته ډير خلق مسـلـمانان شول . په دغه مسلمانانو كښي حضرت عثمان بن عـفـانؓ ، حـضـرت زبـيـرؓ ، حـضـرت عبـد الـرحمٰن بن عوفؓ ، حـضـرت سـعدبن ابي وقاصؓ او حضرت طلحهؓ په خصوصي تـوګـه شـامـل دي. پـه مـزه مـزه د اسلام اثار ، انوار او بركات د مكي مكرمي نه بهر هم خوارۀ شول .( 69 )

## په ښكارۀ تبليغ

دري كـالـه خـو پـه پټـه پټـه دَ اسلام تبليغ كيدلو . خلق به پټه مسـلـمانيدل او په پټه به ئي په اسلامي احكاماتو عمل كولو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو به په پټه عبادت کولو . د دغي دري کالو نه وروستو بيا اللّٰه تعالیٰ د اعلانيه تبليغ کولو حکم راووليږلو. حضور ﷺ ته امر ووشو چي اوس خلق اعلانيه دينِ اسلام ته راوبلـے. نبی کريم ﷺ د دغي حکم پوره کولو په وجه د صفا غونډي ته تشريف يوړلو او د قريشو ډَ هري يوي قبيلي نوم ئي اعلانيه په زوره زوره واغستلو او ورته ئي په دغه غونډي ډَ راجمع کيدلو آواز وکړه . قريشو چي د حضور ﷺ آواز واؤريدلو نو په منډه منډه دغي غنډي ته راجمع شول. کله چي ډَ قريشو ټولي قبيلي راجمع شوي نو حضور ﷺ ترينه په يو سواليه انداز تپوس وکړهٔ کهٔ چرته زهٔ تاسو ته ووايم چي د دښمن لښکر په تاسو باندي راتلونکے دے او زرده چي تاسو باندي حمله وکړئ . نو تاسو به زما خبره اومنی ؟ ټولو په شريکه په يو آواز سره ووئيل چي يقيناً مونږه به ستا د خبري نه انکار ونکړو ( ځکه چي تاسو زمونږ سره پاتي شوي ئي او تاسو په يو موقع هم دروغ نه دي وئيلی . حضور ﷺ چي قريشو دا خبره واوريدله نو قريشو ته مخاطب شولو او ټولو ته ئي په جمع اوفرمائيل : کهٔ چرته تاسو خپل غلط او باطل عقائد پري نهٔ ښودل نو په تاسو باندي د اللّٰه تعالیٰ عذاب راشی . دا چي څهٔ ( مراد دين اسلام او د دين احکام ) ماتاسو له راوړی دی دنيا کښي يو انسان هم د خپل قوم قبيلي د پاره داسي اعلیٰ او قيمتی ډالی نهٔ ده راوړے. ماتاسو له د دنيا او د آخر کاميابی راوړے ده . او ماته خپل ربّ امر کړے دے چي زهٔ تاسو هغه يو ذات ته راووبلم . قريشو چي حضور ﷺ دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینا واوریدله نو خفه شول او خپلو خپلو کورونو ته واپس شو .ابولهب چي په دغي ټولګی کښي شامل وو . او د حضور ﷺ تره هم وو . هغه چي دا خبره واوریدله نو په غصه شو . او حضور ﷺ طرف ته ئي د یو کاني د وویشتلو اراده وکړه . د ابولهب دغه فعل په مسلمانانو ډیربد ولګیدهٔ . د ابولهب د دغي فعل په جواب کښي الله تعالیٰ سورتِ ابی لهب نازل کړه . ( 70 )

## د اهل عرب مخالفت او دښمني

هرکله چي اهل عرب ته پته ولګیده . چي د مکي مکرمي په زمکه یو بشر ( یعنی حضرت محمد رسول الله ﷺ ) د نبوت دعویٰ کړے ده او د هغوی د بتانو مخالفت کوی . او د هغوی رسم ورواج ته بد وائی . نو د اسلام د نور د ختمولو د پاره ئي مختلف قسمه تدبیرونه شورو کړه .دا الاندیني واقعه دهغوی ( یعنی د کافرانو او مشرکانو ) د کوششینو یوه کړي ده . د عربو یو ټولګي د جرګي په شکل ابو طالب ( چي د حضور ﷺ تره وه) له راغے . هغي ټولګي ابو طالب ته ووئیل چي تهٔ خپل ورارهٔ پوهه که . چي دا قسمه خبري نهٔ کوی . خو که هغه د دغي قسمه خبرو نه نهٔ منع کیږی نو بیا ئي تهٔ مرسته مهٔ کوه . خو کهٔ چرته هغه هم هغه شان خبرے کوی او تهٔ ئي مرسته هم نهٔ پریږدے . نو بیا به مونږ ټول عرب ستا سو مقابلي ته اودریږو . او دا مقابله به تر هغه وخته پوري جاری ساتو . ترڅو چي یو ټولګي ختم شوي نهٔ وی . ابو طالب چي دمشرکانو د ټولګی دغه خبره واوریدهٔ نوورسره د حضور ﷺ نور زیات فکر پیدا شو . په دي وجي د حضور ﷺ سره ئي په

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي باره کښې خبره وکړه .نو حضور ﷺورته په جواب کښې اوفرمائيل چې اے زما خوږه تره! په رب مې دې قسم وی که چرته دوی زما په یو لاس کښې نمر او په بل لاس کښې سپوږمۍ کېږدی او دوی اُوغواړی چې زهٔ دغه د ربّ کلمه مخلوق ته رسوول پرېږدم نو زهٔ به هرګز دغې خبرې ته تيار نشم ترهغه وخته پورې به زما کوشش جاری وی چې د ربّ رښتونې دين غالب شی یا زما وجود د دغې کار نه قربان شی. ابوطالب چې د حضور ﷺ دخپل کار سره مينه وليدله نو په جواب کښې ئې ورته ووئيل اے ورارهٔ! تهٔ د خپل دين کار جاری ساته ، زهٔ به تا سره په هر ځائے کښې ملګرتيا کووم.( 71 )

## د کافرانو کوششونه

هر کله چې قريش په دې خبره پوهه شو چې بنی هاشم او بنی عبدالمطلب د حضور ﷺ مرسته نهٔ پريږدی . او ورځ په ورځ اسلام ترقی کوی . د اسلام نور د دنيا په طرفونو کښې ډير په تيزې سره خورېږی . د حضور ﷺ خبرې خلق ځان ته لکه د مقناطيس په شان راکاږی . نو د اسلام دنور د ختمولو د پاره ئې سوچونه شوروکړه . د حضور ﷺپيغام په حقيقت کښې اسلام پيغام وو. په زړونو ډيرزر اثر غورځوی . قريشو د مکې مکرمې په مختلفو لاروا و کوڅو کښې د دې مقصد د پاره خلق کينول چې د باهرنه مکې مکرمې ته راتلونکی مسافر ميلمانهٔ د حضور ﷺ خواله لاړ نشی. يو طرف ته قريشو دا تدبير اختيار کړهٔ . نو بل طرف د خلقو د حضور ﷺسره د

(c) ketabton.com: The Digital Library


ملاقات شوق نور هم زيات شو. د حج په موقع به حضور ﷺ د بهر نه راتلونكو كسانو ته د اسلام دعوت وركولو . په دغي طريقه د اسلام نور خوريدل شورو شو. او د اسلام نور مختلفو كلو، قبيلو ته لاړو .

## د مكي د كافرانو د مسلمانانو سره سلوك

د حضور ﷺ په كوشش او بركت سره د مكي مكرمي فضا هم د اسلام په نور سره مزه مزه ډكيدل شورو شو. خلقو ته چي د اسلام د حقانيت پته ولګيده . نو ډيرو خلقو اسلام قبول كړه . په دغه مسلمانانو كښي زيات تعداد د غريبانو او غلامانو وو. قريشو د اسلام په وجه په هغه مسلمانانو باندي ظلمونه شورو كړه . د اسلام په ترقي سره سره د كافرانو ظلمونه به هم زياتيدل . د كافرانو دا خيال وو چي كيدے شي د غه ظلمونه مسلمانان د اسلام نه منع كړي او د محمد رسول الله ﷺ د رسالت انكار وكړي . د مكي مسلمانانو د كافرانو د ظلمونو ښۀ په نره مقابله وكړه . ورځے شپے تيريدے او د كافرانو ظلمونه زياتيدل . آخر كافرانو دا خبره محسوسه كړه چي د اسلام د رنړا ختمولو د پاره زور او طاقت نه علاوه بل څۀ تدبير پكار دے . په دغي سلسله كښي يوه جرګه د عتبه بن ربيعه په مشري كښي د حضور ﷺ خواله راغله . دوی حضور ﷺ ته دري خبري كينښودے . كه تاسو دمكي مكرمي مشري غواړی نو مونږ به درله د مكي مكرمي مشري دركړو . ياكۀ تاسو په يوه درنه ( مالداره عزت داره ) كورني كښي وادۀ كول غواړے نو مونږ دغي ته هم تيار يو . يا كه تاسو ډير مال او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت غواړے نو مونږ به درله ډیر مال او دولت راجمع کړو.
خو کوم کار چي تاسو کوے هغه پریږدے .حضور ﷺ ورته په جواب کښي د قرآن کریم یو څو آیاتونه ا ولوستل .عتبه بن ربیعه چي د قرآن کریم دغه آیاتونه واوریدل نو زړۀ ئي په دربیدو شو. بیا خپلو ملګرو قریشو لره راغے او ورته ئي ووئیل محمد ﷺ چي څۀ لولي هغه نۀ شاعري ده او نه جادو دے .زما که مني نو زما خو دا رائے ده چي محمد ﷺ تاسو په خپل حال پریږدے .که چرې هغه برے اومندلو او په ټول عرب باندي ئي غلبه راغله . نو د محمد ﷺ برے او عزت زمونږ برے او عزت دے .او که محمد ﷺ غلبه اونه موندله نو د عربو نور خلق به ئي وجود ختم کړي .قریشو د عتبه خبره اونۀ منله او په خپل ضد باندي برقرار پاتے شول. (72)

## د حضور ﷺ د تبلیغ کولو انداز

حضور ﷺ به د اسلام تبلیغ د پاره یو یو کس له تللو او یو یو به ئي جدا جدا پوهولو . چا چي به خبره اومنله نو د هغه سره به ئي د خپلي میني اظهار کولو . او چا چي به د حضور ﷺ خبره اونه منله نو چپ به ترینه پاتي شولو .

## د حضور ﷺ یو ه معجزه

د اسلام اولني ورځے شپے وے مسلمانان د کافرانو د لاسه په مختلف قسمه تکلیفونو کښي ګرفتار وو. کافرانو به نوي نوي طریقي مسلمانانو ته د تکلیف رسولو د پاره پیدا کولے .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مشرکانو نه به د مسلمانانو سره سره به حضور ﷺ ته هم تکليفونه رسيدل . د دغي تکليفونو د واقعاتو نه يوه دا لاندېني واقعه هم ده .

يوه ورځ حضور ﷺ د کعبې سره خوا ته مونځ ته ولاړ وو . هر کله چې د قيام نه پس حضور ﷺ سجدې له لاړو . نو ابوجهل د يو لوئي کاڼي په ذريعه حضور ﷺ ته د تکليف رسولو اراده وکړله خو چې کله حضور ﷺ ته نزدې شو نو يره پرې راغله او کاڼي ئي د لاسو نه پرېوتلو . رنګ ئي د وېرې د لاسه زير او تختيدلو .بيا په منډه منډه خپلو ملګرو له راغي او هغه ټوله تيره شوې قصه ئي ورته تيره کړه . او ورته ئي اووئيل زما خيال او اراده وه چې حضور ﷺ ته ( د دغي کاڼي په ذريعه) تکليف اُورسوم خو ماته يو عجيبه اُوښ رامخامخ شو خلۀ ئي وازه کړې وه . داسې ښکاريدلو چې زما خوړلو له راروان وی . داسې اوښ ما چرته نۀ وو ليدلے .( 73 )

## حبشې ته د هجرت اجازت

هر کله چې د مشرکانو ظلمونه په مسلمانانو باندې زيات شول . او مسلمانانو لره په دين باندې ټلل ګران شو دَ حضور ﷺ په حکم باندې مسلمانانو د مکې نه حبشې ته هجرت وکړلو . دغه د مسلمانانو حبشې ته ورومبې هجرت وو . د رجب اسلامی مياشت وه . په دغه هجرت کونکو کښې دولس تنه نارينه او زنانه شاملې وے . نجاشي بادشاه مهاجرينو ته ډير په درنه ستر ګه وکتل . مسلمانانو په سکون او اطمينان سره هلته کښې ورځې شپې تيرولے . قريشو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د دغي پته ولګيده . نو عمرو بن عاص او عبدالله بن ربيعه ئي د دوی د واپس راوستلو د پاره نجاشي بادشاه لره وليږل . دوی نجاشی بادشاه ته ووئيل چي دا تاسو سره ستاسو په دي ملك کښي زموږ د علاقي ډيره شوي خلق فساديان او شريره خلق دی . دوی دَ خپلي علاقي نه بهر کړے او موږ ته ئي حواله کړئ .نجاشی بادشاه ډير هوښيار سړي وو هغه ورته په جواب کښي ووئيل چي تر کوم وخته پوري چي ماصحيح تحقيق نۀ وی کړی دوی زۀ تاسو ته نۀ شم حواله کولے . بيا نجاشی د مسلمانانو نه د هغوی د مذهب او عقيدے تپوس وکړلو . د مسلمانانو له طرف ورته حضرت جعفرؓ په داسي طور او طريقه جواب ورکړۀ . حضرت جعفرؓ نجاشی ته ووئيل : مونږه ناپوهه وو ، بتانو ته به موږ سجدي کولے ، زموږ خوراك مُرداري وے ، بې حيائی عام وه ، مونږه د يو بل دحقونو خيال نۀ ساتلو ، زموږ اخلاق ټهيك نه وو.طاقتور به کمزورے ختمولو . بيا اللّٰه تعالیٰ زموږ د قبيلي نه موږ ته يو پيغمبر راوليږلو . مونږه ئي دنسب پته ده ، د هغه د صداقت ، امانت او پاك دامني نه ښۀ خبريو . هغه موږ ته د دي خبري تعليم راکړه چي يو اللّٰه اومنو . او د هغه سره هيڅ څوك شريك اونۀ ساتو. راته ئي امر راکړے چي د بتانو عبادت پريږدے ، رښتيا وائے ، خپلوانو سره ښۀ سلوك کوے ، د ګاونډيانو خيال ساتی دغه رنګ د حرام کارونو نه د يو بل دَ قتلولو نه ، د دروغو وئيلو نه او د يتيم د مال د خوړلو نه ئي منع کړو. مونږ ته ئي د مونځ کولو، روژي نيولو اود زکوٰة او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حج ادا كولو حكم راكړے دے . مونږ چي ترينه دغه خبرے واوريدلے . نو مونږه اسلام قبول كړه او دا هغوى خبره مو اومنله . نجاشي چي دغه بيان واوريدلو .نو د قريشو داوړه كسان ئي خالي لاس د حبشي نه مكي مكرمي ته واپس وليږل . او پخپله مسلمان شولو . مسلمانانو په حبشه كښي تقريباً دري مياشتي په امن وسكون سره تيرے كړے . بيا واپس مكي مكرمي ته راغلل . دغه وخت حضرت عمرؓ اسلام قبول كړے وه . د نارينه مسلمانانو تعداد دغه وخت سلويښتو تنو ته نزدي شوي وه . دغه وخت يوولس زنانه مسلمانانى شوي وے . د حضرت عمرؓ په اسلام كښي داخليدو سره مسلمانانو ته ډير عزت او طاقت ملاؤ شولو . هغه د دين اعمال چي مخكښي به پټه باندي كيدل په ښكاره مسلمانانو كول شوروكړل. ( 74 )

## د قريشو ناجائزه مطالبه او معاهده ( ۷نبوى)

دين اسلام رو رو ترقي كوله او د اسلام رڼا په ملك عرب كښي په مزه مزه ښوريدله . قريشو چي د اسلام او د مسلمانانو قوت او غلبه وليدله نو ټولو قريشو په جمع د بني عبدالمطلب او بني هاشم نه د حضور ﷺ د حواله كولو مطالبه وكړله . . او ورته ئي ووئيل چي كه چرے تاسو حضرت محمد ﷺ مونږ ته حواله نۀ كړۀ نو مونږ به تاسو ټولو سره هرقسمه تعلق ختم كړو . بنوعبدالمطلب د قريشو د مطالبي د منلو نه انكار وكړه . دغه وخت ټولو قريشو په جمع يو تحرير تيار كړه . په هغه تحرير (عهد نامه) كښي ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیکل چې بنو هاشم او بني عبدالمطلب سره دې هرقسمه تعلقات ختم کړے شي او د دوی سره هرقسمه رشته داري( د نکاح او داسې نورې رشتې) او تجارت( د دوی نه اغستل او دوی باندې خرڅول ) دې بند کړے شي .دغه عهد نامه په بیت الله ( کعبه) کښې زوړنده کړے شوه .د غرونو په مینځ کښې حضور ﷺ د خپلې قبیلې سره په دغه یوه مخصوصه حصه کښې بند شولو .د ابولهب نه علاوه د بنو هاشم او بني عبدالمطلب ټول خلق ( هغه کۀ کافروه او کۀ مسلمانان وو)په دغې ځائے کښې بندی جوړ شو .بنو هاشم او بني عبدالمطلب د ژوند په دغې حصه کښې ډیر زیات تکلیفونه تیر کړی دی .دلوږې د لاسه به خلقو پانړې خوړلے .( 75 )( 76 )( 77 )( 78 )( 79 )

## حبشې طرف ته دویم هجرت

حضور ﷺ په داسې حالاتو کښې په دغې موقع یو ځلے بیا مسلمانانو ته حبشې طرف ته د هجرت کولو اجازت ورکړۀ . دغه وخت د هجرت کونکو شمیر ډیر وو. مؤرخینو دَ هجرت کونکو نارینو تعداد دري اتیا او د زنانو تعداد د ئي دولس نقل کړے دے .بیا د دغې قافلې سره په لاره کښې د یمن مسلمانان هم ملګرې شو. په دغې هجرت کښې د مسلمانانو سره حضرت ابو موسیٰ اشعریؓ هم ملګرے وو.( 80 )

## د قید او مصیبت نه نجات

په شعب ابی طالب کښې بنو هاشم او بني عبدالمطلب تقریباً

(c) ketabton.com: The Digital Library


دري كاله پوري بنديوان وو . دغه وخت حضور ﷺ ته د وحی په ذريعه اللّٰه كريم خبر وركړۀ چي كومه معاهده قريشو ليكلي وه هغه معاهده د اللّٰه تعالىٰ د نوم نه علاوه ټوله يوه چينجی خوړلے ده . صرف ديو اللّٰه نوم پكښي معجزانه شكل كښي پاتی شوي دے . د دي خبري چي خلقو ته پته ولګيدله او په دغه سلسله كښي معلومات وكړے شو . نو د حضور ﷺ فرمان ټكی په ټكی صحيح وو . هم هغه شان حقيقت وو . څنګ چي حضور ﷺ بيان كړے وو . هر كله چي معاهده پاتي نه شوه . نو په بنو هاشم او بنی عبدالمطلب باندي لګيدلے پابندي هم پاتي نه شوے . دبنو هاشم او بنی عبدالمطلب نه هرقسمه پابندي اوچتي شوے . په دغه موقع بنو هاشم او بنی عبدالمطلب د آرام او سكون ساه واغستله . او د دنيا د سختو او تكليفونه نه په آرام شول .( 81 )

## د طفيل بن عمرو دوسی رضی اللہ عنہ اسلام قبلول

په دغه زمانه كښي حضرت طفيل بن عمرو دوسیؓ لره خدائي تعالىٰ د ايمان دولت وركړۀ . هغه د خپل قوم مشروۀ . د هغه له بركته د هغه په قوم قبيله كښي ډير خلق مسلمانان شو .( 82 )

## دغم كال

د قيد او بند نه وروستو دنبوت په لسم كال د حضور ﷺ ترۀ ابو طالب چي د حضور ﷺ سره ئي په هره لاره مرسته او ملګرتيا كړے وه وفات شو . د ابو طالب د انتقال نه دري ورځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستو حضرت خديجةؓ وفات شوه . د دې دوؤ واقعاتو په وجه حضور ﷺ دغي كال ته د غم كال وئيلے دے. ( 83 )

## طائف ته سفر

د ابو طالب د وفات نه پس قريشو حضور ﷺ ته ډيرزيات تكليفونه رسوول شوروكړه . حضور ﷺ د هر قسمه تكليف په ښهٔ او ښكلے طريقے سره مقابله وكړهٔ . د تكليف او آزمائش په دغي ورځو كښي حضور ﷺ د حضرت زيد بن حارثهؓ سره د اسلام د دعوت وتبليغ په سلسله كښي طائف ته تشريف يوسلو . د دغي سفر مقصد دا وه چي ممكنه ده د مكي خلقو خو اسلام نه مخ اړولے دے كيدے شي چي دوی ته د اسلام رڼا نصيب شي . كيدے شي چي دوی ايمان راوړي يوه مياشت پرلـه پسي حضور ﷺ د طائف خلق اسلام ته راووبلل . خو يو كس ته پكښي هم د ايمان دولت نصيب نهٔ شو . هغي ظالمانو هغه مهربانه هستی جناب محمد رسول اللّٰه ﷺ په كاڼو ګټو وويشتلو . د هغي خلقو د دغي بد سلوك او بد اخلاقی په وجه د حضور ﷺ پښی مباركی د وينو نه ډكے شوے . حضور ﷺ د طائف د خلقو د بدسلوك په وجه په وينو كښي لت پت وو . حضرت زيدؓ چي په دغي سفر كښي د حضور ﷺ سره ملګري وو . د حضور ﷺ د بچ كولو په كوشش كښي ئي خپل سر زخمی كړلو . حضور ﷺ د دغي زخمونو سره د طائف نه راوپس شو . د حضور ﷺ په ژبه په دغي موقع د بد دعا په ځائے د دعا الفاظ وو :

اے اللّٰه ! تا ته شكايت كومه ځهٔ د خپلے كمزوري او بے

(c) ketabton.com: The Digital Library


وسی او په خلقو کښې د ذلت او رسوائی . اے ارحم الراحمین ! ته د ضعیفانو رب ئې او ته زما پروردیګار ئې . ته ما چاته حواله کوے . اجنبی او پردی ته چې ما اووینی تندې تریو کړی .یا چا دښمن ته چې هغه ته تا په ما قابُو ورکړه. اے اللّٰه ! که چرې ته زمانه ناراضه نه ئې نو ماته د هیچا پرواه نشته . ستا حفاظت ماله بس دے .زهٔ ستا د مخ په رڼا په وسیله په کومې سره چې د دینا او آخرت ټول کارونه سمیږی ، د دې خبرې نه پناه غواړم چې په ما باندې دے ستا غُصه وی یا ته مانه خفه ئې .ستا راضی کول تر هغه وخته پورې ضروری دی ترڅو چې ته راضی شوے نه ئې . ستا نه علاوه بل طاقت او قوت نشته .

د حضور ﷺ د دې دعانه پس سمدست (فوراً) جبرئیل امین حضور ﷺ له راغے . د سلام نه پس ئې حضور ﷺ ته عرض اوکړه . اللّٰه تعالیٰ ستا د قوم هغه خبرے چا تا سره اوشوے ، واوریدلے او د هغوی جوابونه ئې هم واوریدل ، او یوه فریښته ئې چې د هغې متعلق د غرونو خدمت دے تاسو له رالیږلے ده . چې تاسو څنګه غواړئ نو دې ته حکم ورکړئ .دې نه پس هغې فریښتې سلام اوکړه او عرض ئې اوکړه څه چې تاسو ارشاد فرمائې څهٔ د هغې تعمیل ته ولاړه یم . که چرته ستا سو حکم وی . نو د دواړو طرفونو غرونه به یو ځائې کړم چې په هغې کښې به دا ټول په مینځ کښې چیخنې شی . او کهٔ نوره څهٔ سزا تاسو ورله ورکول غواړې . تاسو د هغې دپاره حکم اوکړئ . حضور ﷺ ورته په جواب کښې اوفرمائیل . زهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اللّٰه تعالیٰ نه امید لرم کۀ چرې دوی مسلمانان نه شو نو د دوی په اولاد کښې به داسې خلق راپیدا شي چې د اللّٰه تعالیٰ بندګي او عبادت به کوي .( 84 )

## د معراج واقعه

حضور ﷺ د ابوطالب او د حضرت خدیجې ؓ وفات سره ډیر زیات غمژنه وو . بیا د طائف واقعې هغه زخمونه نور هم راتازه کړل . په دغې موقع د اللّٰه تعالیٰ د حضور ﷺ د خوشحالو د پاره حضور ﷺ د اسمانانو نه بره لامکان ته د ملاقات د پاره راوبللو . دغې واقعې ته په کتابونو کښې د معراج واقعه وئیلے شي . د معراج واقعه مؤرخینو دا رنګ نقل کړے ده . یوه شپه حضور ﷺ کعبې سره خواته حطیم کښې آرام کولو . ناڅاپه هلته جبرائیل ؑ او میکائیل ؑ فرښتې راغلے . هغوی حضور ﷺ د ځان سره په سورلۍ ( چې ورته براق وئیلے شي ) کینولو . بیا ئې حضور ﷺ د حطیم نه مسجد اقصیٰ ته بوتللو . مسجد اقصیٰ کښې حضور ﷺ د انبیاء علیهم السلام امامت وکړه.د امامت نه پس حضور ﷺ د معراج په ذریعه آسمانونو ته تشریف یوړلو .په اولنې آسمان کښې دَ حضور ﷺ سره د حضرت آدم علیه السلام ملاؤ شولو ، بیا په دویم کښې د حضرت عیسیٰ علیه السلام او حضرت یحیٰ علیه السلام سره ملاؤ شولو .په دریم آسمان کښې د حضرت یوسف علیه السلام او په څلورم آسمان کښې د حضرت ادریس علیه السلام سره ملاؤ شولو . بیا په پنځم آسمان کښې د حضرت هارون علیهم السلام سره ملاؤ شولو .

(c) ketabton.com: The Digital Library


په شپږم آسمان کښې د حضرت موسیٰ علیه السلام او په ووم آسمان کښې د حضرت ابراهیم علیه السلام سره ملاؤ شولو. بیا حضور ﷺ دَ اسمانونو نه وروستو سدرة المنتهیٰ ته تشریف یوسلو. په لاره کښې حضور ﷺ لره حوضِ کوثر مخې لره راغې بیا جنت ته ورداخل شولو. په جنت کښې رسول الله ﷺ هغه عجیب وغریب څیزونه (نعمتونه) ولیدل چې انسان د هغې تصور هم نهٔ شی کولے. جنت پسې حضور ﷺ ته دوزخ رامخامخ کړے شو. چې له هر قسمه عذابونو او تکلیفونو نه ډك وه. دغه ځائے کښې رسول الله ﷺ یوه ډله ولیدله چې مرداره(مردار ځناور) خوری. حضور ﷺ تپوس وکړلو چې دا څوك دی؟ جبرئیل امین ورته ووئیل دا هغه خلق دی چې د خلقو غوښې خوری (یعنی غیبت کوی). بیا د دوزخ دروازه بنده کړے شوه. له دې نه پس حضور ﷺ نور هم مخکښې لاړلو او یو داسې مقام ته وورسیدلو چې د هغې نه مخکښې جبرائیل علیه السلام ته د تلو اجازت نهٔ وو. حضور ﷺ د هغې مقام نه یواځے د رب ملاقات لره لاړو. او اللّٰه تعالیٰ ته ډیر زیات نزدې شولو. د دغې قرب د حقیقت نه پوره پوره مولیٰ کریم خبر دے. په دغې موقع د اللّٰه تعالیٰ له طرفه حضور ﷺ ته پنځوس مونځونه چې بیا پنځو ته راکم شو. حضور ﷺ ته د ډالې په طور ورکړے شو. حضور ﷺ د دغې ډالې سره بیا لاندې زمکې ته تشریف راوړلو. او د براق په ذریعه د بیت المقدس نه مکې مکرمې ته راغے. د سحر ختلو نه مخکښې دا سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library


تمام شولو . د معراج په دغه سفر کښي په لاره د رسول الله ﷺ سره د قريشو دَ دريو قافلو ملاقات هم شوي وو . کله چي سحر شولو نو رسول الله ﷺ د دغي سفر په باره کښي قريشو ته خبر ورکړۀ . دا خبره چونکه د عقل نه بره او اوچته وه . ځکه قريشو ډير په تعجب سره د حضور ﷺ نه مختلف قسمه تپوسونه شورو کړل . حضور ﷺ د قريشو د هرتپوس پوره پوره جواب ورکړه . تردي چي ټول قريش مطمئنه شو . د قريشو څني کسان حضرت ابوبکر صديقؓ لره راغلل. او ورته ئي د معراج واقعه بيان کړه . حضرت ابوبکر صديقؓ ورته په جواب کښي اوفرمائيل : زۀ ئي د دي نه لوئي لوئي خبري منم او فوراً ئي د حضور ﷺ د خبري تائيد وکړه . د دغي تصديق په وجه د حضور ﷺ له طرفه حضرت ابوبکرؓ ته صديقؓ لقب ورکړے شو.( 85 )( 86 )( 87 )

## د قريشو سوالونه او د هغي جوابونه

قريشو دَ حضور ﷺ نه تپوس وکړۀ . کۀ چرته تاسو دا سفر کړي وي نو تاسو به دا خبره هم معلومه وي چي زمونږه هغه قافله چي شام طرف ته تلے ده اوس به کوم ځائے کښي وي ؟ رسول الله ﷺ ورته اُوفرمائيل د فلانکے قبيلي يوه تجارتي قافله ( ډله) د روحا ( د ځائے نوم ) سره نزدي وه. زۀ ( په دغي سفر کښي ) د هغوی سره خواته تيريدم د هغوی نه يو اوښ ورك شوي وو . هغوی ټول هغه اوښ پسي ووتي وو . زۀ د هغوی سامانونو لره ورغلم نو ما هلته هيڅ څوك اونۀ ليده . بيا ما د يو لوخي (کوزي) نه چي د اوبو دپاره وو . اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوځـكـلـېـ . د دغې واقعې نه پس زۀ د فلانكـې قبيلې د يوې قـافلې ( ډلې) سره خواته تيرشوم چې د تجارت په نيت سفر ته راووتـې وه . د هغې قافلې اوښانو چې براق وليدلو نو د ويرې د لاســه يـوخـوا بـل خـوا پـه منډه شو. يو تـرينـه د ويرې د لاسـه بيهـوشـه شـو. د دغـې قـافلې نه پس زۀ يوې دريمې قافلې ته ورنـزدې شـوم دغـه تـجـارتي قافله د فلانـكې قبيلې وه . يو ښږ اوښ تـريـنـه مـخـكښې روان وو. او زرده چې دغه قافله تاسو ته راښكاره شي .(يعنې زرده چې مكې مكرمې ته به دغه قافله راوورسي) .د مـكـې خـلـقـو پـه تـعـجب سره د حضور ﷺ نـه تپوس وكړۀ چې د كله پورې به دغه قافله دلته راشي ؟ حضور ﷺ ورتـه د شورو ورځ ياده كړه . بيا هم هغه شان اوشول څنګ چې حـضـور ﷺ فـرمائيلي وو. د شورو په ورځ هغه يوه قافله مـكې مكرمې ته راورسيدله . د دغې ښكاره معجزاتو باوجود قـريشـو د حـضـور ﷺ ديـن اونـه منلو او حضور ﷺ تـه ئې د كـيـنـې بُـغـض او حـسـد پـه وجـه ( معاذ اللّٰه ) جادوګر ، مجنون شاعر وئيل شورو كړه .( 88 )

## د اسلام نور په مدينه كښې

لـس كـالـه پـرلـه پسې حـضـور ﷺ د مـكې مكرمې په خلقو مـحـنـت وكـړه . پـه دغه ورځو كښې به حضور ﷺ د عكاظ او ذى الـمـجاز په بازارونو كښې خلق اسلام ته رابلل . د عكاظ او ذى الـمـجـاز بازارونـو ته به خلق د مختلفو علاقو نه راتلل . د دوى تـعـلـق به د مختلفو قبيلو سره وو . حضور ﷺ يوه ورځ د دغـې بـازارونـو نـه يو بازار كښې د اوس قبيلې څۀ كسانو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام دعوت ورکړۀ . د اوس قبیله په مدینه منوره کښې آباده وه . د حضور ﷺ په دعوت د دغې قبیلې دوه تنه اسعد بن زرارهؓ ، او ذکوان بن عبد قیسؓ مسلمانان شو . بیا څۀ لږه زمانه پس شپږ یا نهه تنه د اسلام په نور سره منوره شو . د دوی ټول د مدینې منورې اوسیدونکی وو . حضور ﷺ دوی ته اوفرمائیل :آیا تاسو به د دین په کار کښې زما ملګرتیا وکړئ ؟ هغوی عرض وکړۀ . اے د الله پیغمبره ! ﷺ نن صبا زمونږ په خپلو( اوس او خزرج ) کښې څۀ اختلافات دی جنګ جهګړے شوروی دی . تاسو کۀ مونږ ته لږ مهلت راکړۀ . نو راروان کال کیدے شی چې دا اختلافات ختم شوی وی او ټول په شریکه د اسلام نور ځان سره واخلی او ستا سو په لاس بیعت وکړی. حضور ﷺ ورسره د راروان کال نیته کیښودله او هغوی خپلې علاقې ( مدینې منورې ) ته لاړل . مولیٰ کریم ته منظوره وه په دغې کال د اوس او خزرج قبیلې اختلافات ختم شو . بیا د وعدې مطابق د دغې قبیلو نه دولس تنه د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شول . په دغې دولسو کسانو کښې لس تنه د خزرج د قبیلې وو او د دوؤ تنو تعلق د اوس قبیلې سره وو. دوی ټولو اسلام قبول کړلو . او د حضور ﷺ په لاس ئې بیعت وکړۀ . دا لاس نیوه ( بیعت ) چونکه د یو غټ کانړې سره شوې وو په دغه وجه دې بیعت ( لاس نیوے ) ته بیعت عقبه اولیٰ وئیلے شی ( دا د مدینې منورې د خلقو اولنې بیعت وو ځکه ورته اولیٰ یعنی اولنې وئیلې شی ). د دغه دولسو تنو له برکته د مدینې منورې هر

(c) ketabton.com: The Digital Library


کورته د اسلام رڼا ورسيدله . ( 89 ) او په هريو کور کښي د حضورﷺ او د اسلام تذکري شورو شوے . د مديني هريو تن دا غوښتله چي د اسلام او د اسلام د تعليماتو نه ځان خبر کړي . په دي وجه د اوس اود خزرج د قبيلي مشرانو حضورﷺ ته خط وليکلو چي زمونږ خلق د اسلام سره ډيره مينه ساتي د اسلام نه ځان خبرول غواړي . مونږ لره يو داسي مسلمان مديني منوري ته راوليږے چي مونږ ته قرآن اوښائي او د اسلام د تعليماتو نه مونږه خبر کړي . او زمونږ د ټولو امام جوړ شي . حضورﷺ ته چي کله دغه خط ملاو شولو نو رسول اللهﷺ مصعب بن عميرؓ ته دغه لويه ذمه داري وربه غاړه کړه. حضرت مصعب بن عميرؓ د حضورﷺ په امر سره مديني منوري ته لاړولو او هلته ئي خلقو ته قرآن ښودل شورو کړه .هم له دي نه په مدينه منوره کښي د يو اسلامي اداري بنياد کيښودلے شو. يو کال پس بيا د حج د ادا کولو په ورځو کښي يوه لويه قافله د مديني منوري نه د حضورﷺ په خدمت کښي حاضره شوه . په دغي قافله کښي اويا سړي او دو زنانه وے . حضورﷺ ئي استقبال وکړۀ او په يوه غونډي باندي ئي د ملاقات وعده ورسره اوکړله . د وعدي مطابق ټول د نيمي شپي په هغه مخصوص ځائے باندي را جمع شو . د حضورﷺ سره ذرسول اللهﷺ ترۀ حضرت عباسؓ هم دغه موقع دغه ځائے ته تشريف يوسلو . دغه وخت حضرت عباسؓ اسلام نۀ وو قبول کړے . کوم وخت چي ټول راجمع شو. نو حضرت عباسؓ دغي ډلي ته مخاطب شو. ورته ئي اوفرمائيل

(c) ketabton.com: The Digital Library


: ( اے د مدینې خلقو! ) دا زما ورارهٔ ( محمد ﷺ ) په خپله قبیله کښې همیشه په عزت او په امن سره پاتې شوي دے .تاسو دوی لره د ځان سره مدینې ته بوتلل غواړی .تا سو ښهٔ سوچ وکړی د دوی سره د دوی وعده به تاسو پوره کړے شے ؟ او د دښمنانو نه به ئې حفاظت وکړے شے ؟ کهٔ د دې دوو خبرو تاسو ذمه اخلې نو بیا خو ټهیک ده . خو کهٔ چرې تاسو د دې خبرو ذمه نهٔ شے اغستلے نو بیا ئې په خپل حال په خپله قبیله کښې پریږ دے . د مدینې منورې یو مشر چې په دغې ځائے کښې په دغې ټولګی کښې ناست وو هغهٔ ووئیل چې بیشکه د دې خبرو مونږه ذمه اخلو او زمونږه د ژوند مقصد هم دغه دے چې ستا سو سره شوې وعده پوره کړو. حضرت اسعد بن زرارهؓ چې یو پوهه او هوښیار سړے وو پاسیدلود مدینې منورې خلقو ! ته مخاطب ! شو ورته ئې اوفرمائیل : اے د مدینې وسیدنکو خلقو! لږ صبر وکړی او ښهٔ سوچ وکړئ . چې تاسو نه د کوم څیز په باره کښې بیعت اغستلے کیږی ؟ تاسو دا خبره یاده ساتې چې دا بیعت د ټول عرب اود عجم د مخالفت یو عهد دے ، کهٔ چرته تاسو دغه پوره کولے شے نو بیعت وکړئ او کهٔ تاسو ئې سرته نهٔ شے رسولے . نو بیا بیعت مهٔ کوی . ټولو په جمع ووئیل چې مونږه به په یو حالت کښې هم د دغې بیعت نه نه وروستو کیږو.بیا حاضرینو عرض وکړهٔ چې کهٔ چرته مونږه دغه عهد پوره کړلو نو مونږ ته به په دغې څهٔ اجر ملاویږی ؟ حضور ﷺ ورته اوفرمائیل د اللّٰه تعالیٰ رضا او جنت به ستاسو ځائے وی . د

(c) ketabton.com: The Digital Library


حضور ﷺ د بیان نه پس ټولو په یو آواز ووئیل چې مونږه راضي یو . تاسو لاس راوړندې کړئ مونږه بیعت کوو. حضور ﷺ لاس مبارك وړاندې کړلو او ټولو حاضرینو بیعت وکړلو . دغه وخت د بیعت کونکو نارینو تعداد درې اویا او د زنانوو تعداد دوه وو. دغې بیعت ته بیعتِ عقبه ثانیه وئیلے شي . بیا د بیعت نه پس د دغې ټولو مشرې دولسو تنو ته حواله شوه .( 90 )

## مدینې منورې ته د هجرت ابتدا

هرکله چې د دغې بیعت ( دلاس نیوے) نه قریش خبر شو. نو هریو قریشي باندې د غصې اوربل شو . په مسلمانانو ئې د مخکښې نه زیات ظلمونه شورو کړه . دغه وخت رسول اللّٰه ﷺ مسلمانانو (صحابهؓ ) ته مدینې منورې طرف ته دَ هجرت کولو اجازت ورکړه . صحابهؓ پټ په پټه یو یو دوه دوه د مکې مکرمې نه مدینې منورې ته روان شو. او په لږه موده کښې ډیرو مسلمانانو د مکې مکرمې نه مدینې منورې ته هجرت وکړلو . څه لږ هغه کسان پاتې شو. چا چې دغریبې په وجه د هجرت کولو طاقت نۀ لرلو او یا هغه غلامان پاتې شو . چاته چې د هغه آقا مدینې منورې ته د تللو اجازت نۀ ورکولو . د دغې مسلمانانو نه علاوه د حضور ﷺ سره حضرت ابوبکر صدیقؓ او حضرت علیؓ هم پاتې وو. او د هجرت کولو د پاره ئې د اللّٰه د حکم انتظار کولو . د هجرت په دغې ورځو شپو کښې د هجرت کونکو سره حضرت سیدنا ابوبکر صدیقؓ هم د هجرت نیت کړے وه . دوی خپله اراده حضور

(c) ketabton.com: The Digital Library


ﷺ ته ښکاره کړه نو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل . اے صدیقه ! تـرهغـه وختـه پورې ایسار شه ترڅو چې ماته اجازت نۀ وی ملاؤ شوے . حضرت سیدنا ابوبکرصدیقؓ د حضور ﷺ سره د هجـرت کـولـو د حـکـم پـه انتظار وو . د دغې سفـر د پاره حضـرت ابـوبـکـر صـدیقؓ دوه اوښـه تیـارے ساتلـے وے .

## د کافرانو سازش او منصوبه

قـریشـو تـه چې ددغې حـالاتـو او واقـعاتو پته ولګیده . نو د حضور ﷺ خـلاف د مشـورې د پاره په دارالندوه کښې راغنډ شـو . دارالـنـدوه پـه مـکه مکرمه کښې د کافرانو د مشورې یو ځـائـے وو پـه دغـې ځـائـے کـښـې به د اسلام خلاف سازشونه کیـدل . کـلـه چې قـریش دارالندوه ته راجمع شو . نو د حضور ﷺ خـلاف قـدم اوچـتـولـو د پـاره ئـې غـور فکـر شورو کـړه . د دغـې سـازش د پـاره د مکې مکرمې غټ غټ کافران راجمع شـوی وو . هـر یـو دا سـوچ کـولـو چې په دې موقع د حضور ﷺ خـلاف کـوم قـدم اوچـت کـړو . بعضـې مشـرانو په دغه موقع د حضور ﷺ د ( معاذ اللّٰه) قتـل مشوره ورکړه . بعضې مشرانو رائـے د قید کولو وه . بعضی مشرانو غوښتله چې حضور ﷺ پـه خپـل وطـن پـریـښـودو باندې مجبوره کړی . د هریو مشر په مشـوره ښـهٔ غـور اوفـکـر وکـړے شو . تـولـو ووئیل چې د خپل وطـن مـکـې مـکـرمـې نـه وویـستـل په دې وجه ښۀ نۀ دی . کۀ چرته حضور ﷺ بل ځـائـے ته لاړ نو د حضور ﷺ ملګرې به د حـضـور ﷺ د اخـلاقـو په وجه نور هم زیات شی . دغه شان د قیـدی کـولـو مشـوره په دې وجه ښۀ نۀ ده او غلطه ده کۀ چرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضور ﷺ مونږه قيدي جوړ کړه . نو د حضور ﷺ ملګرى به ئي زمونږ نـه پـه زورزبردستـي سره آزاد کړى . د بدبخت ابـوجهل مشوره د حضور ﷺ ( معاذ اللّه ) د قتل وه .د ټولو په دغـه مشـوره اتـفاق راغــے . بيا پـه مشوره ئي د حضور ﷺ د قتل د پاره ئي د هري يوي قبيلې نه يو يو ټن مقرر کړه . دا د دي مـقـصـد د پاره چي د حضور ﷺ په قتل کښي ( معاذ اللّه ) د هـري قبيـلـي بـرخـه ووشـى . بيـا کـۀ چرتـه بنى عبدمناف ( د حضور ﷺ قبيله) بدله اغسـتـل اوغواړى نو بدله اغسـتـل ورتـه ګـران وى . نـو مـجـبـوراً بـه بنى عبدمناف ديت اغسـتلو تـه تيار شى او ټولو قبيلو لره په شريکه باندي ديت ادا کول به ګران کار نۀ وى . دوى ټولو يوه مقرر شوي کسان د دغي کار د پاره مقرر کـړه . يـو خـوا کـافـرانـو دا مشوره وکړه بل طرف تـه اللّٰه تعالىٰ حـضـور ﷺ تـه د وحى په ذريعه د دغي مشوري په باره کښي خبـر ورکـړۀ . او ورسـره د مـولىٰ کريم نه حضور ﷺ تـه د مکـي مـکـرمـي نـه مدينـي منوري تـه د هجرت کولو حکم راغـے . کـومـه شپـه چي د مکي کافرانو د حضور ﷺ د قتلولو د پاره مـقـرر کـړے وه هـم پـه هـغـه شپـه حضور ﷺ د هجرت کولو اراده اوکـړلـه . د حـضـور ﷺ پـه حـکـم بـاندي حضرت علیؓ د حـضـور ﷺ پـه بسـتـره کـښـي سـمـلا سـتـلـو . بيـا حضور ﷺ مـديـنـي مـنـوري تـه خـپـل سفـر شـورو کـړه. کـوم وخت چي حضور ﷺ د خپل کور نه بهر راوتلو دغه وخت حضور ﷺ د سـورتِ يٰسـيـن پـه تـلاوت کـښـي مشغوله وو .بهر د قريشو يو لـوئـي جـمـاعـت ولاړ وو. په دي انتظار چي حضور ﷺ سحر د

(c) ketabton.com: The Digital Library


مونږ د پاره بهر راووځي نو مونږ ټول به ئې شريکه (معاذ اللّٰه) قتل کړو . قريش دمکې مشرکان په خپل مقصد کښې ناکامه پاتې شو . حضور ﷺ د کافرانو د مخې نه راتير شو . دغه وخت حضور ﷺ د قران کريم ايت فاغشينٰهم فهم لا يبصرون ★ بار بار لوستلو . د کافرانو په سترګو پردې راغلے . حضور ﷺ ترينه صحيح سلامت د سيدنا صديق اکبرؓ کور ته تشريف يوسلو . حضرت سيدنا صديق اکبرؓ د مخکښې نه د هجرت د سفر تيارے کړے وۀ . د حضور ﷺ ئې په خوشحالي سره استقبال وکړۀ او د حضور ﷺ سره مدينې منورې ته روان شولو .( 91,92,93,94 )

## په غارِثور کښې دمه

کافران د حضور ﷺ د کور نه بهر د حضور ﷺ د راوتلو په انتظار ولاړ وو . بل طرف ته حضور د معجزې په ذريعه د مشرکانو د شر نه په بشۀ کامل حفاظت سره د سيدنا صديق اکبرؓ کور ته وورسيدلو او د هغه ځائے نه بيا مدينې منورې ته روان شو . په لاره کښې د دمې او د مشرکانو د شرنه د حفاظت په غرض يو غار ته ورننه شو . دغه غار ته غارِ ثور وائی . کوم وخت چې حضور ﷺ غارِ ثور ته ورداخل شو د اللّٰه تعالیٰ په امر هغه وخت يو جولاګې د دې غار په خُله د خپل بدن نه تارونه راښکل د کوم دپاره چې جولاګان مشهور دي . ورسره دغه وخت د مولیٰ کريم په حکم د ځنګل نه يوه کمتره راغله او د غار په خلۀ کښې ئې ځان له جاله جوړه کړه . بل طرف ته قريشو ته چې پته ولګيده چې حضور د خپل کور نه تشريف

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورپے دے. هغوی د حضور ﷺ په تلاش کښې خوارهٔ شول .بعضې دهغوی نه د حضور ﷺ د قدمونه دا ثارو په ذريعه د غار خُلې ته راغلل . خو چې د جولاګې تارونه او د کمترې جاله ئې وليده . نو د غار دَ خلهٔ نه واپس شول . دغه وخت سيدنا ابوبكر صديقؓ ته د حضور ﷺ د حفاظت فكر ولګيدلو. حضور ﷺ سيدنا ابوبكر صديقؓ ته ووكتل نو د مخ د اثارو نه پرې پوهه شو نو ورته ئې اوفرمائيل : غم فكر مهٔ كوه اللّٰه تعالىٰ زمونږ ملګرے دے . په دغه غار كښې حضور ﷺ د سيدنا صديق اكبرؓ سره يو ځائے درې شپې ورځے تيرے كړے . په دغې ورځو شپو كښې به حضرت عبداللّٰه د سيدنا ابوبكر صديقؓ ځوئے دغه غار ته د قريشو خبرونه راوړلو لره راتللو. حضرت اسماء بنت صديق اكبرؓ ته د روټې انتظام ورپه غاړه شوې وو. دوى به حضور ﷺ لره او خپل والد محترم صديق اكبرؓ لره روټې ووړله . په دغې ورځو شپو كښې حضرت عبداللّٰه بن صديقؓ خپل غلام ته وئيلى وو چې هره ورځ د غار ثور په لاره چيلۍ بوځه او راوله چې ورسره زمونږ د قدمونه نخې نخانې ختميږى .( 95 )

## د سلو اوښانو انعام

قريش چې د حضور ﷺ په نيولو پسې سترى شو. او يو طرف ته ئې هم حضور ﷺ اونهٔ موندلو . نو د حضور ﷺ په په نيولو ئې د سلو اوښانو انعام وتړلو. د دغې انعام په لالچ ډير كسان د حضور ﷺ د نيولو په تكل په مختلفو طرفونو خوارهٔ شو . په دغه كسانو كښې يو نوم د سراقه بن مالك دے .

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د سراقه بن مالك قصه

سراقه بن مالك هم د انعام په لالچ د حضور ﷺ د نیولو د پاره ګرځیدلو . ناڅاهانه ئې حضور ﷺ ځان ته مخامخ په تللو ولیدلو . د سراقه دا خیال وو چې انعام خو ماوګټلو خو کوم وخت چې حضور ﷺ ته ورنزدے کیدلو نو آس په زوره یو تیندك وخوړلو او سراقه ترینه لاندې راګزار شو. هغه بیا په اس سور شولو او دوباره ئې د حضور ﷺ د نیولو اراده وکړه. بیا هم هغه شان اوشو سراقه چې حضور ﷺ ته ورنزدې شو نو د اس خپې ئې د پنډو پورې په زمکه کښې ښخے شوے . سراقه ترې په زمکه راګزار شو . هغه پاسیدو چې د اس خپے په زمکه کښې ښخے شوې . سراقه کوشش اوکړۀ چې د اس خپے په څه چل د زمکې نه رابهر کړی . هغه ډیر کوشش وکړۀ خو په خپل کوشش کښې ناکامه شو. مجبوراً ئې د نبی کریم ﷺ نه مدد وغښتلو . د حضور په برکت سره د هغه اس خپې د زمکې نه رابهر شوے. سراقه دغه وخت په خپلو سترګو ولیده چې زمکې د کومې حصې نه د اس خپې راوتے وے د هغه ځائے نه لوګې خیژی . په دې لیدلو سره هغه نور هم ویریدلو او حضور ﷺ ته ئې خپل خوراك او دغه شان نور څیزونه وړاندې کړه . حضور ﷺ د هغه څیزونو د قبلیدو نه انکار وکړه او سراقه ته ئې اوفرمائیل چې ته اسلام نۀ قبلوے نو زۀ دغه څیزونه نۀ شم قبلولے . بس تۀ صرف دومره وکړه چې زمونږه په باره کښې ستانه څوك تپوس کوی . نو زمونږه خبر پټ اوساته .بیا د حضور ﷺ نه سراقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رخصت واغستلو او مكي مكرمي ته روان شو . او حضور ﷺ د ابوبكرصديق رض سره مديني منوري ته سفر شوروكړه .( 96 )

## د حضور ﷺ يوه معجزه

د حضور ﷺ دغه سفر جاري وۀ . په لاره كښي د يوې زنانه د كور خواته تيريدلو . هغي زنانه يوه چيلۍ ساتلے وه خو لا تراوسه ئي پي ورکول نۀ وو شورو كړي . حضور ﷺ په دغه چيلۍ خپل لاس مبارك راښكلو او چيلۍ پي ورکول شورو كړل . حضور ﷺ ترينه پخپله هم پي اوڅكل او خپلو ملګرو ته ئي هم وړاندې كړل . بيا حضور ﷺ د دغي ځائے نه رخصت شو. د حضور ﷺ د رخصت كيدو نه پس د هغه كور خاوند چي خپل كور ته راغے او خپلي بي بي ورته تيره شوي تهولـه واقعـه بيان كړه. نو د كور مالك ووئيل معلوميږي داسي چي دا د مكي مكرمي هغه نيك انسان دے . او په يو بـل روايت كښي داسي راغلي دي چي ددي واقعي نه پس دغـي دوارو (ښځـه ، خاوند) هجرت وكړلو او پـه مدينه منوره كښي ئي اسلام قبول كړه .( 97 )

## په قبا كلي كښي ناسته او دمه

حضور ﷺ چي كله قبا ته ورسيدلو ( قبا مديني ته نزدي يوه علاقه ده) په دغه مقام انصارو ښۀ په مينه محبت او ډير په ښۀ انداز د حضور ﷺ استقبال وكړۀ . رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره څوارلس ورځے په قبا كښي مقيم وۀ .په دغي وخت كښي حضور ﷺ د يو جمات تيګـه ( بنياد) هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


ایخي وه . دغه جمات ته د اسلام اولني جمات وئیلے شي .

## د حضرت عليؓ هجرت او د حضور ﷺ سره ملاقات

هر کله چي حضرت عليؓ د خلقو ټول امانتونه خلقو ته واپس کړل . نو مديني منوري ته را روان شو . د قبا په مقام د حضور ﷺ سره یو ځائے شولو . بیا د حضور ﷺ سره یو ځائے مدیني منوري ته روان شو .( 98 )

## مدیني ته داخله

د ربیع الاول میاشت وه او د جمعي مبارکه ورځ وه . حضور ﷺ د قبا نه مدیني منوري ته سفر شورو کړۀ . د مدیني منوري انصار ترینه کیر چاپیره وو او د حضور ﷺ د سورلي سره څوك په سورلو سوارۀ او څوك پیاده روان وو . د مدیني منوري د هریو کس دا تمنا وه . چي حضور ﷺ د هغوی سره پاتي شي . د بنی سالم بن عوف آبادي سره د جمعي دمونځ وخت شو . حضور ﷺ د خپلي سورلي نه راکوز شولو او د صحابهؓ سره ئي هلته د جمعي مونځ ادا کړلو . بیا په سورلي سور شولو او مدیني منوري ته روان شو . کوم وخت چي د حضور ﷺ د مور له طرفه د خاندان کورونه راورسیدل د حضور ﷺ اوښه هغه کورونو سره خواته کیناستله . حضور ﷺ د خپلي سورلي نه راکوز شو . او د حضرت ابوایوب انصاريؓ په کور کښي دیره شو . یو څو ورځي شپي حضور ﷺ په دغه کور کښي دیره وو . ( 99,100 )

★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مسجد نبوی ﷺ تعمیر

په مدینه منوره کښې د جمات انتظام نهٔ وو .بس کوم ځائے چې به د مونځ وخت شولو هلته به مونځ ادا کيدلو . حضور ﷺ هغه ځائے په کوم ځائے کښې چې د اوښې ناسته شوې وه . په پيسو واغستلو . هغه ځائے د دوؤيتيمانانو وو . هغوی د قيمت اغستلو نه انکار وکړهٔ . خو حضور ﷺ ئې بيا هم قيمت ادا کړهٔ . هغه ځائے کښې د مسجد نبوی ﷺ بنياد کيښودلے شو . دا په مدينه منوره کښې اولنې جمات وه . ديوالونه ئې د کچه ښختو نه جوړ وو ، د کهجورو ونې پکښې د ستنو په ځائے لګيدلے وے .او چهت ئې د کهجورو د پانړو نه جوړ کړے شوے وهٔ. د جمات سره خواته دوه کوروته هم تيار کړے شول ، هغه کورونو کښې يو د حضرت عائشې بی بی ؓ د پاره وه . او بل کور د حضرت سودهٔ د پاره وهٔ . د مسجد نبوی د جوړيدلواود دغې کورونو د ودانيدلو نه وروستو حضور ﷺ د مکې مکرمې نه خپل ټبر(يعنی د کور خلق) راووُغستل . بل طرف ته دَ خپل والد محترم په حکم حضرت عبد اللّٰه بن صديق اکبرؓ دَ خپل کور خلق د ځان سره مدينې منورې ته راوستل . د دوی په هجرت سره په مکه کښې يو څوکسان چې ډير زيات غريبانان وه او د هجرت کولو ئې طاقت نهٔ لروپاتی شو .( 101 )

## د جهاد حکم او سريه حمزهٔ ؓ

هر کله چې په مسلمانانو باندې د مشرکانو له طرفه ظلمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات شو . نو د ربّ کریم له طرفه مسلمانانو ته د جهاد کولو اجازت ملاؤ شولو. په اسلام کښې اولنې جنګ په سریه حمزهؓ باندې یادیږي . چې د هجرت نه اووۀ میاشتې وروستو په میاشت د رمضان کښې شوي دے . حضور ﷺ د قریشو د یوې قافلې د مقابلې د پاره د حضرت حمزهؓ په مشرۍ کښې د د مهاجرینو مسلمانانو یو لښکر ولیږلو . د د غې لښکر مشر ته حضور ﷺ یوه سپینه جهنډا ورکړه هرکله چې دغه لښکر په لاره د سیند غاړې ته ورسیدلو. په دغه مقام دوی ته د قریشو ټولګې رامخامخ شو. مقابله شوروشوه . دغه وخت مجدی بن عمرو جهني دغه جهګړه د صلح په ذریعه ختمه کړه .

## په غزوات او سریو باندې سرسرې نظر

★د هجرت په اولنې کال د حضور ﷺ په امر دوه سریې رواني شوي وے.

★ سریه حمزهؓ ★ سریه عبیدهؓ

★د هجرت په دویم کال پینځۀ هغه جنګونه (غزوے) شوي وے چې په کومو جنګونو کښې حضور ﷺ پخپله شریك شوي وۀ . هغه نګ چې پکښې حضور ﷺ پخپله شرکت کړے وی هغې ته غزوه وئیلے شي .

★ غزوۀ ابوا ، دغه غزوه په غزوۀ ودان هم یادیږي

★غزوۀ بدر کبریٰ ★ غزوۀ بواط ★ غزوۀ بني قینقاع

★ غزوۀ سویق

او په دغې کال دري سریې رواني کړے شوے وے .

★ سریه عبدالله بن جحش ، سریه عمیرؓ ، سریه سالم

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هجرت په دريم کال دري غزوے (جنګونه) شوے وے .

★ غزوۀ غطفان ★ غزوۀ احد ★ غزوه حمراء الاسد

او په دغي کال دوۀ سريے روانه کړے شوے وے .

★ سريه محمد بن مسلمؓ ★ سريه زيد بن حارثؓ

★ د هجرت په څلورم کال دوۀ غزوے شوے وے.

★ غزوۀ بني نضير ★ غزوۀ بدر صغرئ

او څلور سريے ليږلے شوے وے .

★ سريه ابو سلمهؓ ★ سريه عبد اللّه بن انيس

★ سريه منذر ★ سريه مرثد

★ د هجرت په پنځم کال څلور غزوے شوے وے.

★ غزوۀ ذات الرقاع ★ غزوۀ دومة الجندل

★ غزوۀ مريسيع دغي غزوے ته غزوۀ بنی المصطلق

هم وئيلے شي. ★ غزوه خندق يا احزاب

★ د هجرت په شپږم کال دري غزوے شوے وے .

★ غزوۀ بنی لحيان ★ غزوۀ غابه دغي غزوے ته ذي قرد

هم وئيلے شي . ★ غزوه حديبيه

او په دغي کال يوولس سريے رواني کړے شوے وے .

★ سريه محمد بن مسلمه قرطا طرف ته ★ سريه عکاشه

★ سريه محمد بن مسلمه ذی القصد طرف ته ★ سريه عليؓ

★ سريه زيد بن حارثؓ بنو سليم طرف ته ★ سريه کرز بن جابر

★ سريه عبد اللّه بن عوف ★ سريه زيد بن حارثؓ ام قرفه طرف

ته . ★ سريه عبد اللّه بن عتيك ★ سريه عبد اللّه بن رواحهؓ

★ سريه عمر الضمری

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ د هجرت پـه ووم ( ۷ ) کـال یـوه غزوهٔ شوے ده چې ورتـه غـزوهٔ خیبـر وئیـلـے شي . پـه دغـې کـال پینځـهٔ سریـے روانه کړے شوے وے .

★ سریـه ابوبکـر ★ سریـه بشیـر بن سعد ★ سریه غالب بن عبـدالـلّـه ★ سـریـه بشیـر ★ سـریـه اجـزم

★د هـجـرت پـه اتهـم کـال څلور غـزوے شوے وے .

★ غـزوهٔ مـوتـه ★ فتـح مـکـه ★ غزوهٔ حنین ★ غزوهٔ طائف

او پـه دغـې کـال لـس سـریـے روانـه کـړے شوی دی .

★سریـه غـالب بنو الـمـلـوح طرف تـه ★سریـه غالب فدك طرف تـه ★ سریـه شجاع ★ سریـه کعب ★ سریه عمرو بن العـاص ★ سـریـه ابوعبیده بن الجراحؓ ★ سریـه ابوقتاده

★ سـریـه قطبـه ★ سـریـه خالد چې ورتـه سریـه غمیصا هـم وئیـلـے شـي . ★ سـریـه طـفیـل

★ د هجرت په نهم کال یوه غزوهٔ چې ورته غزوهٔ تبوك وئیلے شـي . واقـع شـوے ده .پـه دغـې کـال درے سـریـے روانه کړے شوے وے .

★ سـریـه عـلـقـمـه ★ سـریـه علیؓ ★ سـریـه عـکـاشـه

★ د هجرت پـه لسم کـال د غزوے نوبت نهٔ دے راغلے . پـه دغـې کـال دوهٔ سـریـے روانـه کـړے شوے وے .

★ سـریـه خـالـد بـن ولیدؓ نـجـران طـرف تـه .

★ سریه علیؓ یمن طرف ته

## سریه عبیده بن الحارثؓ

بیا د دغې سریـه حمزهؓ نـه وروستو د شوال میاشت کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library


حضور ﷺ حضرت عبیده بن الحارث ؓ ته د شپیتو کسانو مشری حواله کړه . او د ابو سفیان مقابلې دپاره ئې ولیږلو . په دغه سریه کښې سعد بن ابی وقاص ؓ په کافرانو باندې د غشي ګزار کړے وۀ . دغه اولنې غشې وۀ چې د اسلام د ترقي د پاره کافرانو طرف ته ګزار شوې وۀ .( 102 )

## د قبلې دبدلیدلو حکم

د هجرت په دویم کال د وحی په ذریعه حضور ﷺ ته حکم وشو چې خپل مخ د بیت المقدس نه بیت الله ته (کعبې) راواړه وۀ . دغه حکم سره په راروان وخت کښې د مسلمانانو قبله کعبه وګرځیده . له دې نه مخکښې په مدینه منوره کښې د مسلمانانو قبله بیت المقدس وه . هم هغه طرف ته به مسلمانانو مونځونه کول . په دې حکم سره مسلمانانو خپل مخونه کعبې طرف ته راواړول . او د حضور ﷺ د زړۀ یو خواهش چې د قبلې د بدلیدلو وو پوره شو .( 103 )

## سریه عبدالله بن جحش ؓ

په دغه کال رسول الله ﷺ د ولسو مهاجرینو یوه ډله د حضرت عبدالله بن جحش ؓ په مشری کښې د قریشو د یوې قافلې د مخ نیوی د پاره روانه کړه . میاشت د رجب المرجب وه. مسلمانان د قریشو قافلې ته د رجب په اولنې تاریخ باندې مخامخ شول . د غه وخت د مسلمانانو خیال دا وو چې ګنې د جمادی الثانیه دیرشم تاریخ دے ځکه چې د عرب په کوټ کوټ کښې په رجب المرجب کښې د عام قتل وقتال ممانعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو . ( رجب المرجب په څلورو میاشتو کښې یوه میاشت ده چې په هغې کښې د عربو ټولو قبیلو د یو بل سره جنګ جګړې نه کولے ) د مشورې نه پس مسلمانانو د هغې قافلې سره مقابله وکړه . په هغه قافله کښې د قافلے مشر ژوبل شو او دوه کسان د هغه قافلې بندي جوړ شو . نورو ټولو تیخته وکړه . مسلمانانو مال غنیمت راجمع کړۀ او بیا وروستو هغه د شریعت موافق تقسیم شولو . دغه جنګ په رجب کښې شوے وو له دې وجې مشرکانو د عربو د حضور ﷺ متعلق دا خبره مشهوره کړه . چې حضور ﷺ د حرمت په میاشت کښې هم قتل او قتال روا کړلو . . د قریشو د دغې اعتراض جواب د پاره مولیٰ کریم په قرآن کښې آیت ﴿ یسئلونك عن الشهر الحرام ﴾ نازل کړلو . په دغه آیت کریمه کښې د عربو د اعتراض پوره پوره جواب پروت وو .
( 104 , 105 , 106 )

## غزوۀ بدر

بدر د یو کوهی نوم دے هم په دغه نوم ورسره خواته یو کلې آباد دے . دغه کلې او کوهی د مدینې منورې نه اتیا میله لرے دے په دغه ځائے کښې د اسلام اولنې عظیم الشانه غزوه شوې ده . چې د تاریخ په صفحو کښې په غزوه بدر سره یادیږی . د یو خبر راوړونکی په ذریعه حضور ﷺ ته معلومه شوه چې د قریشو یوه لویه قافله سره د سامانه د شام له طرفه د مدینې په طرف راروانه ده . حضور ﷺ د رمضان په دولسم تاریخ په دویمې هجرې کښې د درې سوو او دیارلسو انصارو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهاجرينو سره روحا طرف ته روان شولو . (روحا د مديني منوري نه څلويښت ميله لرے د يو ځائے نوم دے) بل طرف ته د قريشو د قافلي مشر ته چې پته ولګيده . چې حضور ﷺ هغوی ته په لاره کښې په انتظار ولاړ دے . نو د قافلي مشر هغه لاره پريښودله او په بدله لاره ئې قافله روانه کړله او ورسره ئې د قافلي نه مخکښې په تيز رفتارۍ سره يو قاصد مکې مکرمې ته روان کړلو چې د مکې مکرمې قريش د دغې حالاتو باندې خبر کړي . قريشو ته د قاصد په ذريعه چې د دغې حالاتو پته ولګيدله . نو هغوی له نوره هم غصه ورغله او ډيرزيات فکر مند شو او په تادې سره ئې د مسلمانانو د مقابلې د پاره يو لوئے لښکر تيار کړلو . دا لښکر نهه نيم سوو کسانو وو . بعضې خلقو دا تعداد زر ليکلې دے . په دغه لښکر کښې د قريشو سره سل اسونه او اووۀ سوه اوښان وو . بل طرف ته چې مسلمانانو ته پته ولګيده چې د کومې قافلې په تکل هغوی د مدينې منورې نه راوتي وو هغه قافله ترينه په يوه بله لاره تلے ده . او د دوی د مقابلې د پاره د مکې مکرمې نه د قريشو او د اهل مکه يو لوئې لښکر راروان دے . دغه وخت حضور ﷺ د صحابوؓ سره مشوره وکړه . هريو صحابيؓ خپل ځان د قربانۍ د پاره پيش کړۀ . د خزرج قبيلې مشر سعد بن عبادهؓ ووئيل کۀ چرته تاسو حکم وکړئ نو مونږ سيند ته توپ کيدو ته هم تيار يو . حضرت مقدادؓ ووئيل اے د الله پيغمبره ! ﷺ مونږ به ستا نه مخکښې وروستو ښي او ګس طرف ته جنګيږو . د صحابهؓ دغې جذبې

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره حضور ﷺ ډیر خوشحاله شو . او د مقابلې د پاره ئې د مخکښې د تګ حکم جاري کړۀ . مسلمانان د هغې مقام نه روان شو او بدرته ورسیدل . د بدر په میدان حضور ﷺ او مسلمانانو ته پته ولګیده. چې د دې میدان په بل طرف قریش د مخکښې نه دیره شوې دی . بل طرف ته هغه قافله چې د ابو سفیان په مشرې کښې د شام نه راروانه وه د مسلمانانو نه ډیره مخکښې تلے ده. اوس داوخت یو طرف ته د بدر په میدان کافران دیره وو بل طرف ته د مسلمانانو لښکر د جنګ د پاره تیار ولاړ وو. ابوجهل چې قریشو د لښکر ئې مشرې کوله . هغۀ خپلو مشرکانو ملګروته ووئیل چې نن به په هره طریقه چې وی د مسلمانانو سره به داسې جهګړه کوو چې د هغوی نومې نخانې پاتې نشی .د بدر په میدان کښې دمسلمانانو لښکر په هغه ځائے ولاړ وۀ . کوم ځائے چې د اُوبو کمې وۀ . هر طرف ته شګې وے . قریش دغه وخت د جنګ د پاره په یوښۀ خاورینه زمکه دیره شوی وو. چې په هغې تلل هم آسان وو. او ورسره په دغه ځائے کښې اوبه هم وے . دغه وخت مولٰی کریم د آسمانه باران وکړلو . چې دهغې په وجه هغه خاورینه زمکه ختړه شوله . او هغه شګلنه زمکه د ګرځیدو قابله شوه . دغې باران سره یو طرف ته مسلمانانو ته سهولت پیدا شو نو بل طرف ته دمکې قریش په تکلیف او مصیبت کښې ګرفتاره شو . د جنګ شورو کیدو کښې لږ وخت وو . حضور ﷺ په دغې موقع د مولٰی کریم نه د مسلمانانو د کامیابۍ دپاره ډیرې دعاګانې وغښتلے . مولٰی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـریـم هـغـه ټـولـي دعاګاني قبولي کړلے او حضور ﷺ ته ئي دوحـي پـه ذريـعـه د قـريـشـو د ذلـيـلـه کيدو زيـرے ورکـړه .
د جـنـګِ بـدر پـه ميدان يـو طـرف ته حضور ﷺ د مسلمانانو صـفـونـه سمول ، بل طرف ته ابو جهل ملعون د غرور نه ډك د مشـرکـانو صفونوله ترتيب ورکوۀ . دا جنګ ديو ي وړي ډلي ( چي تعداد ئي دري سوه او ديارلس وه) ديو لوئي جمات ( چي پـه شمير سره زر ته وو) سره وه . د بدر ميدان وو . صفونه تيار شـو .اول نه ديو يو مقابله شورو شوه . د قريشو د لښکر نه دري تنه (عتبه، شيبه، وليد ) راووتل . د دوی مقابله حضرت عليؓ ، حـضـرت حـمـزهؓ او حضرت عبيده بن الحارثؓ وکړه .دري واړه مشـرکـان قتـل شـو . بيـا يـو عـظيم الشان جنګ شورو شو . د جنګ پـه اخـر کښي مشـرکـانـو تيـختـه وکـړه او مسلمانانو کـاميابی اوموندله . د بدر په دغه جنګ کښي د مسلمانانو نه څـوارلـس تنه شهيدان شو او د کافرانو اويا تنه مردار شول . اويا تـنـه د مشـرکـانـو نـه بـندي جوړ شو . او ډيرزيات مال غنيمت مسـلـمـانـانو ته په لاس ورغـے.کوم وخت چي د بدر د قيديانو سره د مسلمانانو قافله مديني منوري ته ورسيده . حضور ﷺ د بدر قيـديـان د نـور مـالِ غـنيـمـت سـره پـه مسلمانانو کښي تـقسيـم کـړل .او ټـولـو تـه حضور ﷺ دا امر وکړۀ . چي د بدر قيـديـانو سره ښۀ سلوك او رويه ووساتئ . د حضور ﷺ د دغي فـرمان په وجه صحابهؓ په خپله په کهجورو ګزاره کوله او د بدر قيـديـانـو لـره بـه ئي ښـۀ روټي ورکـولـه . بيا د حضور ﷺ پـه مشـوره سـره د بـدر ټـول قيـديان د فديې په عوض پريښو دلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. په دغه قيديانو کښي د حضورﷺ تره حضرت عباسؓ او د حضورﷺ خوم ابوالعاصؓ هم وو د حضرت ابوالعاصؓ په نکاح کښي حضورﷺ مشره لورحضرت زينبؓ وه .دوی ( حضرت عباسؓ او حضرت ابوالعاصؓ ) هم د نورو قيديانو په شان د فديي په بدله کښي پريښودلے شو . دا واقعه د اسلامي مساوات يوه بهترينه نمونه وه . حضرت عباسؓ مالداره وه . هغه نه د نورو مالدارو په شان زياته فديه واغستلے شوه . او د ابوالعاصؓ د فديي دپاره د مکي مکرمي نه حضرت زينبؓ خپل اميل چي ورته خپلي مورد واده په موقع ورکړے وۀ . د حضورﷺ لره راووليږلو. حضورﷺ ته چي هغه اميل مخامخ شو نو بي اختياره ئي دسترګو مبارکو نه اوښکے روانے شولے او صحابهؓ ته ئي اوفرمائيل که چرته تاسو ټول راضي ئي نو دا اميل به حضرت زينبؓ ته واپس کړو. ځکه چي دا ورسره د خپلي موريو نښه پاتي ده .صحابوؓ په يو اواز اوؤئيل چي مونږ ټول راضي يو . بيا حضرت زينبؓ ته هغه اميل واپس کړے شو. او د آزدئ د پاره ئي ابوالعاصؓ نه لوظ واغستلو چي تۀ به حضرت زينبؓ لره مديني منوري ته راليږي . ابو العاصؓ ته چي کله ازادي اومنندله او مکي مکرمي ته راغے . نو د حضورﷺ د لوظ مطابق ئي حضرت زينبؓ مديني منوري ته روانه کړه . ابوالعاصؓ يو لوئي سوداګر وۀ . په يوه بله موقع بيا دوی مسلمانانو ته په لاس ورغلل . په دغه موقع چي کله راخلاص شو او مکي مکرمي ته راغے. نو او ل ئي د ټولو قريشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



امانتونه واپس کړل او بیا ئي د اسلام د قبلیدلو اعلان وکړلو.

د بدر بعضي قیدیان ډیر زیات غریبا نان وۀ . چي د فدیي ورکولو طاقت ئي نۀ لرلو . خو د لیکلو اولوستلو هنر ورسره وۀ . هغوي ته وویلی شو چي تاسولره دا فدیه ده چي تاسو د مسلمانانو لسو لسو تنو ته لیکل او لوستل وښائي . حضرت زید بن ثابت ؓ په دغه موقع لیکل زده کړي وۀ .
( 107, 108,109 )

## غزوۀ غطفان

د غزوۀ بدر نه وروستو دعشور د یو لښکر سره ( چي څلورسوه تنه وو) په مدیني منوري باندي د حملي کولو اراده وکړه.هر کله چي حضور ﷺ ته نزدي شولو نو د لښکر ټول کسان تر ینه وتختیدل . او غرونو کښي ئي پناه واغستله . حضور ﷺ چي میدان صفا ولیدلو نو واپسی ئي وکړله . دغه وخت مولیٰ کریم ﷻ د اسمانه باران راوورولو چي په هغي سره د حضور ﷺ کپړے لمدے شولے . رسول اللّٰه ﷺ خپلي کپړے د وچولو دپاره په یوه ونۀ کښي زوړندے کړلے او په خپله د هغه ونې په سیوري کښي د آرام کولو په نیت سملاستلو. بل طرف ته دعشور دا منظر دلري نه لیدلو . هغۀ چي ولیدل چي حضور ﷺ د هغۀ نه ناخبره ملاست دے . هغه وخت په تیزي سره هغه د حضور ﷺ سر مبارك ته نزدي راغے توره ورسره په لاس کښي وه . حضور ﷺ ته ئي ووئیل اوس به تاسو مانه څوك خلاصوي ؟ . حضور ﷺ ښۀ په اطمینان سره جواب ورکړه . زما اللّٰه به ماتانه خلاصوي . دعشور چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضور ﷺ د خلۀ مبارك دغه كلمات واوريدل . نو ويره پرې راغله .توره ئې د لاس نه ګزار شوه . هغه توره چې د دعشور د لاسو نه پريوتے وه بنۀ په اطمينان سره حضور ﷺ راؤچته كړه او د دعشور نۀ ئې تپوس وكړۀ اوس تۀ ا ووايه چې تا به زما نه څوك خلاصوی ؟ . دعشور په عاجزي سره ووئيل : زما خلاصولو والا هيڅ څوك نشته . حضور ﷺ چې د دعشور عاجزی او محتاجي وليده نو بې له انتقامه ئې معاف كړلو. دعشور باندې ددغې واقعې دومره ډير اثر ووشو . چې وروستو په خپله هم مسلمان شولو او د خپل قوم د پاره يو لوئې مسلمان مبلغ جوړ شولو. ( 110 ) دا د حضور ﷺ د اخلاقو يوه نمونه وه .داسې واقعات د سيرت په نورو كتابونو كښې ډيرزيات ليكلي شوی دی .

## د حضرت حفصهؓ او زينبؓ سره نكاح

د هجرت په دريم كال د شعبان په مياشت كښې حضرت حفصهؓ بنت عمرؓ د حضور ﷺ په نكاح كښې راغله او بيا د رمضان المبارك په مياشت كښې حضور ﷺ د حضرت زينب بنت خزيمهؓ سره نكاح وكړله .( 111 )

## غزوۀ احد

دا هل علم په دې خبره اتفاق دے چې د احد جنګ (غزوه) د هجرت په دريم كال د شوال په مياشت كښې شوې دے . كوم وخت چې مشركان د بدر د شكست خوړلو نه وروستو مكې مكرمې ته لاړل . نو هغوی د بدر د انتقام اخستلو دپاره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیرزیات اهتمام سره تیاري شوروکړۀ . هم په دغه نیت ئي یو
لوئي لښکرتیارکړلو . په دغه لښکرکښي دري زره کسانو
سره دوه سوه اسونه ، دري زره اوښان وو . او څلوار لس زنانه د
دي مقصد دپاره وے چي کۀ چرته دوی تیخته کوی نو ورته به
د بدر جنګ رایادوی او د جنګ نه په تیخته به ورته غیرت
ورولی .حضرت عباسؓ چي په پټه ئي اسلام قبول کړے وو او
لاتراوسه ئي هجرت نه ووکړے . هغوی حضور ﷺ ته د
مکي مکرمي د مشرکانو حالات ولیکل او د یو تیر رفتار
قاصد په ذریعه ئي دغه لیکل حضور ﷺ ته ولیږل. حضور
ﷺ ته چي پته ولګیدله نو د پوره حقیقت معلومولو دپاره ئي
دوه کسان د مدیني منوري نه مکي مکرمي ته روان کړل.
چي د قریشو پوره پوره حالات حضور ﷺ لره راوړی . هغي
دوؤ تنو حضور ﷺ ته خبر ورکړهٔ چي د قریشو لښکر دمکي
مکرمي نه راروان شوي دے او مدیني منوري ته نژدي
رارسیدلے دے . حضور ﷺ د دغه قاصدانو د خبر په رڼا
کښي یو څو تنه څوکیداران د مدیني منوري نه ګیر چاپیره په
اهمو ځایونو باندي مقرر کړل. بیا حضور ﷺ د صحابهؓ نه
مشوره واغستله .د مشوري نه پس حضور ﷺ سحر وختی د
زرو تنو سره د مدیني منوري نه بهر ووتلو .په دغه زرو تنو
کښي د رئیس المنافقین عبد اللّٰه بن ابی منافق دري سوه
ملګری هم وو. رئیس المنافقین عبداللّٰه بن ابیٔ او د هغهٔ
ملګری د اسلامی لښکر نه په لاره کښي جدا شو. او دا بهانه
ئي وکړه چي د هغوی مشوره نهٔ ده منلے شوے . ځکه دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جنګ کښي حصه نۀ اخلي . د منافقينو د اسلامي لښکر
نه په جدا کيدو سره د اسلامي لښکر تعداد صرف اووۀ سوه
پاتي شو. حضور ﷺ د مديني منوري نه بهر تشريف يو ړلو او
د اسلامي لښکر ئي په خپله معائنه وکړه . د معايني په وخت
حضور ﷺ بعضي واړۀ واړۀ هلکان وليده چي د جهاد له
شوقه په صفونو کښي ولاړ دی . حضور ﷺ هغه هلکان
مديني ته واپس وليږل . په دغي هلکانو کښي رافع بن خديج ؓ
هم وۀ . کوم وخت چي هغۀ ته ووئيلی شو. چي تۀ لا ماشوم
ئي او دجهاد کولو طاقت نۀ لرے په دي وجه مديني منوري ته
واپس لاړ شه . هغه د پښو په ګوتو اودريدلو. حضور ﷺ چي
د هغۀ هغه شوق اوجذبه وليدله نو ورله ئي په اسلامي لښکر
کښي د شاملولو اجازت ورکړۀ . سمره بن جندبؓ چي وکتل .
چي په وجود کمزوري رافعؓ ته په اسلامي لښکر کښي د
شاملولو اجازت ملاؤ شو. نو هغۀ حضور ﷺ ته ووئيل چي
زۀ د رافعؓ نه په وجود کښي تکړه يم . ځکه چي هغۀ ته
اجازت ورکړے شوے دے دغه شان دے ماته هم په اسلامي
لښکر کښي د شامليدلو اجازت راکړے شي . حضور ﷺ د
امتحان په غرض دوی يو بل لره په پرڅونو وروستل . سمرهؓ په
دغه موقع رافعؓ لره په زمکه څملولو . حضور ﷺ وليدل چي
سمرهؓ د رافعؓ نه مضبوط او تکړه دے . نو د رافعؓ سره سره ئي
سمرهؓ ته هم په اسلامي لښکر کښي د شاملولو اجازت ورکړۀ .
د مسلمانانو صفونه حضور ﷺ پخپله تيار کړل . حضور ﷺ د
پنځوسو تنو يوه ډله د اُحد د غريه څوکه کينوله چي دښمن د

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروستو نه په مسلمانانو حمله ونکړي . ورسره ئي هغې جمات ته دا امر هم وکړه . چي تاسو به خپل ځايونه نهٔ پريږدئ . مسلمانان کهٔ برے مومي او کهٔ ورته شکست رسی . بيا يو ډير لويي جنګ شوروشو . شورو شورو کښي د مسلمانانو تلهٔ درنه وهٔ . او مسلمانان په ګټه کښي روان وهٔ . قريشو تيخته کول غنيمت ګڼل .مسلمانانو د قريشو نه پاتي مال غنيمت راټولول شوروکړل. هغه پنځوسو تنو ( چي د مسلمانانو د څوکيداری د پاره دا احد د غر د پاسه حضورﷺ کينولی وو) چي دغه منظر وليدهٔ . نو هغوی خپل ځائے له دی وجي پريښودلو چي د حضورﷺ فرمان د دي وخته پوري وهٔ . د هغوی مشر عبدالله بن جبيرؓ ورته ډير په تاکيد سره بار بار ووئيل چي د حضورﷺ فرمان دے چي دا ځائے به تاسو په هيڅ حالت کښي نهٔ پريږدئ . هغوی ووئيل چي مسلمانانو ته فتح نصيب شوے ده اوس دلته د پاتے کيدلو څهٔ ضرورت پاتے نهٔ شو . د حضرت عبدالله بن جبيرؓ سره صرف يو څو تنه په دغه مقام باندي پاتے شو. خالد بن وليد ( چي لا تراوسه ئي ايمان نهٔ وو راوړے ) چي دغه ځائے خالي وليدهٔ نو د وروستو نه ئي په مسلمانانو حمله وکړهٔ . عبدالله بن جبيرؓ او د هغهٔ ملګرو ډير په ښهٔ انداز سره د هغوی مقابله وکړه . ولي د تعداد د کم والی په وجه خالد بن وليد او د هغهٔ لښکر ئي رامنع نهٔ کړے شو او دوی ټول د خالد بن وليد او د هغهٔ لښکر سره په مقابله کښي شهيدان شو . د حضرت عبدالله بن جبيرؓ او د هغهٔ د ملګرو په شهادت سره خالد بن وليد ته لاره صفا شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پـه اسلامي لښکر ئي د وروستو نه يوه زورداره حمله وکړه . بـل طرف تـه چـي قـريش په تيختـه وو هغوی هم راوپس شو. دغـه وخت ټـول مسـلمانان د کافرانو د دوؤ ډلو په مينځ کښي راګير شو . يو طرف ته د خالد بن وليد لښکر وؤ او بل طرف ته د قـريشـو لښـکـر وؤ . مسـلمـانان دغه وخت يو عجيبه امتحان کښي وو . مصعب بن عمير ؓ چي د حضور ﷺ سره په صورت مبارك کښـي يو شان ښکاريدلو په دغه موقع شهيد شولو نو دا خبـره ګډه شوه چي حضور ﷺ شهيد شولو . د مسلمانانو غـوږونـو تـه چـي کـلـه دغـه خبره وورسيدله . نو بي حوصلي شـو .او دا خيـال کـول ئي شورو کړؤ چي د حضور ﷺ نه بغير د دنيـا د ژونـد بـه څـۀ خوند کوی . دغه وخت دقريشو دلاسه ډير مسـلـمـانـان شهيـدان شـو. ډيـر صـحـابـهٔ ژوبل شـو . ناګهانـه د حـضـرت کـعـب بـن مـالـكؓ نـظـر پـه حـضـور پـريـوتـلـو او د خـوشـحـالـي نـه ئـي يـوه چـغـه کـړه . چـي راشـے مسلمانانو حـضـور ﷺ صـحـيـح سـلامـت دے . صحابوؓ چـي د حضرت کـعـب بـن مالكؓ اواز واوريدلو نو ټول د حضور ﷺ طرف ته را پـه منـډه شـول . دغـه وخت مشـرکانو ډير زور ولګولو چي حـضـور ﷺ شهيـد کـړي او پرلـه پسـي ئي په حضور ﷺ باندي حملي وکړلے .صحابهٔ د حضور ﷺ مخي ته د يو ډهال پشان ولاړ وو . او د کـافـرانـو مشـرکانو د هري حملي جواب به ئي په ښـۀ طـريقه ورکولو . حضرت طلحهؓ دغه وخت د خپل وجود ( جـسـم ) پـه ذريـعـه د مشـرکـانـو ګـزارونه منع کول، د جنګ نه وروستـو د هـغـوی پـه جسـم اويا زخمونه جوړ شوی وو . دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موقع وه چي حضور ﷺ وفرمائيل خوك دى چي زما نه ځان
قربان كړى ؟ حضرت زيادؓ سره د ځلورو ملګرو حضور ﷺ لره
نږدي راغـے او د كافرانو سره په مقابلې كښې شهيدان شول .
پـه دغـه مـوقـع د قـريشـو د يو تن عبدالله بن قميـه د لاسـه د
حضور ﷺ مخ مبارك زخمي شو . هغۀ په حضور ﷺ باندي د
توري ګزار وكړلو چي د هغې په وجه د مخ د ټوپۍ نه دوه كړي
د حضـور ﷺ مخ مبارك ته وردننه شولے .په دغې ګزار سره د
حضـور ﷺ يو غاښ مبارك هم شهيد شولو .حضرت سيدنا
صـديـق اكبـرؓ اراده وكـړه چـي د حضور ﷺ د مخ د زخم نه دغه
كـړي لـري كـړى خـو حـضـرت ابـوعـبيدهؓ ورته د دغې سعادت
حـاصـلـولـو د پـاره مـنـت وكـړلـو . حـضرت ابوعبيدهؓ چي د
حضـور ﷺ د مـخ مبـارك نـه د خـلـې پـه ذريعـه دغـه كـړي
اوويستـلـے نـو ورسـره ئې خپل دوه غاښونه هم پريوتل . دغه
غـزوه كښـې حضور ﷺ يوي كندي ته وغـرځيدلو . هغه كنده
مشـركـانـو د ايـمـان خـاونـدانو ته د نقصان رسولو د پاره جوړه
كـړي وه . پـه دغـه غزوه كښـې دوه ويشت ، يا درى ويشت تنه د
كـافـرانـو نـه مـردار شـوى وو . او د مسلمانانو نه اويا تنه شهيدان
شـوى وو. پـه دغـه شهيـدانـو كښې د حضور ﷺ تره حضرت
حـمـزهؓ هـم وه . چـي د هـغـوى پـه شهادت حضور ﷺ تـه ډير
تـكـليف رسيدلے وو. هنده چي لا تراوسه ئې ايمان نۀ وو قبول
كـړے او د ابـوسـفـيـان كـور والا وه . هغـې د حضور ﷺ د تـره
حـضـرت حـمـزهؓ سـره د هـغـه د شـهـادت نـه پس ډير بد سلوك
كـړے وه . د دغـې جـنګ پـه مـوقـع مـسـلـمـانانو خپل بچي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


زنانه په مختلفو قلعو کښې د يهوديانو نه د حفاظت دپاره بندے کړے وے . صرف هغه زنانه په ميدان کښې موجود وے چاچې د مسلمانانو مرسته او علاج کولے شو .حضرت فاطمې په دغې موقع د خپل والد محترم د زخمونو علاج ته تياره ولاړه وه . حضرت عائشهؓ ، حضرت ام سليمؓ او حضرت اُمِ سليطؓ زخميانو لره په مشکونو کښې اوبه راچلولے . حضرت صفيهؓ چې د حضرت حمزهؓ خور او د حضور ﷺ ترور ده . هغې ته چې پته ولګيده چې مسلمانانو ته په جنګ کښې ډير زيات نقصان رسيدلے دے نو د مدينې منورې نه په تيزۍ سره راروانه شوه .او د احد ميدان ته راغله . حضور ﷺ ته چې د ترور د راتګ پته ولګيدۀ نو حضرت زبيرؓ ته ئې وفرمائيل د حضرت حمزهؓ د وجود ټکرې راغونډې کړه خور ته ئې پته اونۀ لګى . د دغې خبرې خبر چې حضرت صفيهؓ ته اوشو نو هغې اوفرمائيل .زۀ د خپل د ورور نه خبر شوې يم د اللّٰه په لاره کښې دغه قربانى څۀ لويه قربانى نۀ ده . د دغې وينا نه پس حضور ﷺ خپلې ترور له د حضرت حمزهؓ د ليدلو اجازت ورکړۀ .هغې چې خپل ورور وليدۀ نو انا للّٰه وانا اليه راجعون ئې ووئيل او دې امت ته ئې د صبر کولو يوه بهترينه نـــــمـــــونـــــه پـــــريښـــــوده .

دغـه جنګ کښې د يو انصارى زنانه پلار ، ورور او خاوند شهيدان شوى وو . پرله پسې د يو يو د شهادت خبر چې دغې زنانه ته راغـے نو هغې زنانه به د هر خبر راؤړونکى نه دا تپوس کولو چې حضور ﷺ څنګه دے؟ حضور ﷺ خو روږغ

(c) ketabton.com: The Digital Library


دے کنـه ؟ ورتـه بـه ووئیلـی شـو چي حضور ﷺ صحیح سلامـت دے . نـود ربّ شـكـريـه ئي اوياسلو.بيا هم د ځان د تسلـي د پاره د حـضـور ﷺ پـه ديدن پسي گرځيدله . هر كله چي ئي پـه حضور ﷺ باندي نظر پريوتلو نو د ربّ شكر ئي ادا كـړۀ او چغـه ئـي كـړه چـي تـاسـو سلامـت ئي نو نور مـصـيبتـونـه مـصـيبتـونـه نـهٔ دي . د دغي واقعي نـه پـس د مسـلـمـانـانـو زمـكـي تـه د سپـارلو(تدفين ) وخت راغـے نو مسـلـمـانانو سره د غريبي په وجه دومره كپړه نهٔ وه چي د دغي شهيـدانـو تـريـنـه كفن جوړ شي . د حضرت مصعب بن عمير جنـازه تيـاره وه . خو د كفن د پاره ئي كپړه نه وه .به كپړي سره سـر بـه ئي ورلـه پټـولـو نـو خـپـے بـه ئي ښكاره كيدے او كهٔ خپـے بـه ئي ورلـه پټـولـے نـو سـر به ئي ښكاره كيدلو. بيا د حـضـور ﷺ پـه امر سره سر مبارك ئي پټ كړے شو او په خپو ئي ورلـه واښـهٔ واچـول. دا هـغـه مـنـظر او هغه وخت وو چي مسـلـمـانانو ته به كله هم وربه ياد شو نو ژړا به ورتله .د جنگ احد شهيدان بغير له غسله ( لامبولو ) په هغه وينو كښي لت پت د جنازو نه پس خپلو خپلو قبرونو ته اوسپارلے شو. په دي جـنـگ كښي مسـلـمـانـانـو تـه ډير زيات نقصان رسيدلے وو. قـريـش مكـي مكرمي ته روان شوی وو . خو د دي خبري يره وه چي كيـدے شـی قـريـش پـه مسـلـمـانانو دوباره حمله وكړي . ځـكـه رسـول الـلّٰه ﷺ د اوياتنو يوه ډله چي پكښي حضرت ابـوبـكـرؓ او حـضـرت زبيـرؓ هم وو . د ابو سفيانؓ او د هغه لښكر پسـي وروستـو روانـه كـړے وه . ابو سفيانؓ په لاره كښي بيا په

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسلمانانو باندي د حملي کولو اراده لرله خو د خزاعه قبيلي مشر معبد چي پټ پټه د مسلمانانو سره ملګري وو . هغه ابوسفيان ته ووئيل تۀ د مسلمانانو سره د مقابلي کولو طاقت نۀ لرے . زۀ ديو خبر راوړونکی په ذريعه خبر شوے يم چي محمد ﷺ تاسره دوباره مقابله کول غواړی او يو لښکر ئي ستا د مقابلي د پاره تاپسي ورستو راروان کړے دے . ښۀ خو دا ده چي صحيح او روغ ځان مکي مکرمي ته وورسے . ابوسفيان چي د معبد خبره واوريدله نو خپله اراده ترينه هيره شوه او مکي مکرمي ته روان شو. حضور ﷺ ته چي د ابوسفيان او دقريشو دلښکر پته ولګيده چي مکي مکرمي ته ورسيدل نو مسلمانانو ښۀ په اطمينان سره د حمراء نومي علاقي نه مديني منوري ته واپسی وکړه. ( 112 , 113 )

## د يهوديانو مخالفت

د مديني منوري فضا د مسلمانانو د پاره ښه وه . خو دلته هم د اسلام دښمنان وو . چي د تاريخ په کتابونو کښي په يهود سره ياديږی د يهوديانو دري قبيلي وے . بنو نضير ، بنو قينقاع ، بنو قريظه . په شورو کښي د دوی سره حضور ﷺ يوه د امن معاهده کړے وه چي ورته ميثاقِ مدينه وائی . د دي معاهدي مقصد دا وو چي د مديني خلق د باهر دښمن سره په شريکه مقابله وکړی . دغه يهوديان په شورو شورو کښي د مسلمانانو ملګری وو او دوی به دمسلمانانو سره په شورو شورو کښي ملګرتيا کوله ځکه چي کومه خبره به مسلمانانو کوله . نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغـې خبرے په ذريعه به دوی د خپلے خبرې ( چې د أسماني کتاب سره به ئې تعلق وه) تائيد حاصلولو. ديهوديانو دا خيال وه چې د مسـلـمـانـانـو پـه ذريـعـه بـه د دوی په سلطنت کښې وسـعـت او زيـات والـے راشـي .خـو يهوديان په دغې مقصد او اراده کښې کـاميـابـه نـهٔ شـو. پـه رو رو د وخت تيريدو سره يهـوديـانـو تـه پتـه ولـګيـده چې د کوم مقصد د پاره دوی د مسلمانانو سره مرسته او ملګرتيا کووی. هغه مقصد دوی ته نـهٔ حاصليږي د هغې مقصد نه دوی لرې روان دی . په مزه مزه يهوديان په دې هم پوهه شو. چې د مسلمانانو عقيده زمونږ د عـقـيـدې نـه ډيـره زيـاتـه بـدلـه ده . پـه دې وجه ئې پټ په پټه د مسـلـمـانـانـو مخالفت شورو کړه . د دغې ځائے نه يهوديانو د مسلمانانو سره دښمنی شورو کړه . د يهوديانو په زړونو کښې د مسـلـمانانو د پاره د محبت په ځائے کينه بغض حسد راپيدا شـو. يهـوديـانـو د مسلمانانو د ويرې د لاسه ئې دغه دښمنی نه ښـکـاره کـولـه. بيـا هـم هـغــه کـارونـه بـه ئې کول چې پـه کـومـو کـارونـو اسـلام او مسـلـمـان بـدنام شي او په څهٔ طريقه اسـلام او مسـلـمــان تــه نـقـصـان اورسی . اوس اوخزرج چې د اسـلام پـه نور راجمع شوی وو او د يوبل سره ئې دښمنی ختمه شوے وه . د يهوديانو دا کوشش وو چې دغه دښمني بيا راتازه کړي . په دوی کښې بيا شرفساد ښور کړي . خود اسلام په وجه دوی تـه خپـل مـقـصـد حـاصـلـول ډير ګران وو . له دې وجې له پټـې نـه ښـکـاره مـخالفت ته راغلل . او هغه معاهده ئې ماته کـړه کـومــه چـې د مـسـلـمــانــانـو او د يهـوديـانو تـرمينځـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وه . د دغې شر ابتدا د بنو قینقاع نه اوشوه .

## بنو قینقاع سره جنګ

په اسلامي میاشتو کښې د شوال میاشت وه او د هجرت دویم کال وه . یوه مسلمانه زنانه د څۀ کار د پاره د بنو قینقاع محلې ته لاړه . هلته ئې د یو دکان نۀ څه اغستل . د هغه دکان مالك دغې مسلمانې زنانه ته په غلط نیت لاس واچولو . دغه ځائے یو بل مسلمان ولاړ وو هغې چې ولیدل چې د یو مسلمانې زنانه عزت پاتې نۀ شولو نو کوم یهودی چې دغه حرکت کړے وو . هغه ئې مردار کړه. بیا یهودیانو د یهود په بدله کښې مسلمان شهید کړه . حضور ﷺ ته چې د دغې واقعې پته ولګیدله نو رسول اللّٰه ﷺ د دوی سره د مقابله کولو مسلمانانو ته د تیارې کولو حکم وکړۀ . بنو قینقاع ته چې معلومه شوه چې رسول اللّٰه ﷺ د مسلمانانو سره دوی طرف ته راروان دے او په دوی حمله کوونکے دے . نو دوی ځان په یوه قلعه کښې بند کړۀ . حضور ﷺ ترینه ګیره تاؤ کړه او پنځلس ورځے ئې د دوی په انتظار د دغې قلعې نه بهر تیرے کړے . بنو قینقاع ته پته ولګیده چې مسلمانان خو د دې ځائے نه د تلو نوم نۀ اخلي. نو د قلعې نه بهر راوتو ته مجبوره شو . او ټولو ووئیل چې حضور ﷺ د دوی په حق کښې څۀ فیصله وکړه . نو هغوی ته به منظوره وی . حضور ﷺ د عبداللّٰه بن ابی په سفارش ( چې د مسلمانانو حلیف وۀ ) دوی ته د خپل وطن نه د وتلو اجازت ورکړۀ . دوی خپلې زمکې او کورونه پریښودل او شام طرف ته لاړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



( 114,115,116 )

## د اويا (۷۰) قاريانو واقعه

د اسلام نور رو رو بسوريدلو . په دغه زمانه كښي د كلاب قبيلي مشر د حضور ﷺ په خدمت كښي حاضر شو .او حضور ﷺ ته ئي درخواست وكړلو چي تاسو ماسره څۀ مسلمانان ملګرى كړى چي زما قوم قبيله اسلام ته راوبلي . او د اسلام رڼا سره د هغوى زړونه منوره شى . حضور ﷺ ورته ووئيل د نجد خلق د بهروسي خلق نۀ دى . هغۀ ووئيل چي د دغي خبري زۀ ضامن جوړيږم . حضور ﷺ د هغۀ سره اويا تنه ملګرى كړل چي د قرآن كريم بهترين لوستونكي وو. دوى چي كله د بنوسليم علاقي معونه ته ورسيدل .او هلته ئي دمه كوله . دغه وخت د دغي علاقي مشر عامر بن طفيل د دوى نه ګهير چا پيره څۀ كسانو ګهيره وا چوله .او دوى ئي ټول قتل كړل .صرف يو صحابى عمرو بن اميه ؓ ئي پريښودولو .چي د چا په ذريعه د مديني منوري خلقو د دغي مظلومو قاريانو واقعه واؤروله .( 117 )

## د رجيع مقام شهيدان

په دغه ورځو كښي د عضل او د قاره قبيلي څۀ تنه حضور ﷺ لره راغلل او درخواست ئي وكړۀ چي زمونږه قبيله د اسلام په نور سره منوّره شوے ده . تاسو مونږ لره هغوى ته د اسلام سبق ښودلو دپاره يو څو كسان راكړئ . حضور ﷺ دوى سره لس تنه ملګرى كړل . دوى چي كله رجيع ځائے ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورسيدل نو دغي ظالمانو خپله وعده هيره كړه . د بنى لحيان
دوه سوه كسان غشي ويشتونكي د دوى نه ګهير چاپيره شو .
دغه لس تنه مسلمانان د حفاظت دپاره يو غر ته وختل . او د
دوو تنو نه علاوه ټول شهيدان شو . هغۀ دوؤ كسانو كښې د
يو نوم حبيبؓ او د بل نوم زيدؓ وه. دغه مشركانو حضرت زيدؓ او
حضرت حبيبؓ مكي مكرمي ته راوستلو . حضرت زيدؓ ئې
په يو قريشى مشرك باندې خرڅ كړه . هغه حضرت زيدؓ په
دې نيت واغستلو چې د مكې مكرمې خلق د دۀ د قتل تماشا
ووينې . هركله چې قاتل د توري سره حضرت زيدؓ ته مخامخ
راغے نو دغه وخت ابو سفيان ( چې لا ايمان ئې نۀ وو راوړے)
حضرت زيدؓ ته ووئيل . اے زيدهٔ ! رښتيا ووايا كه چرته نن
ستا په بدله كښې محمد ﷺ ( معاذ الله) قتل شوے وے نو
تۀ به خوشحاله شوے وے ؟ حضرت زيدؓ ووئيل . زما دے په
ربّ باندې قسم وى چې د رسول الله د خپو تلى د غنو نه د بچ
كولو د پاره كۀ چرته زما دا وجود قربان شوے وے نو دا به زما
نيك بختى وے. د دغې فقرې وئيل وو چې قاتل د حضرت
زيدؓ سر مبارك د تن نه جدا كړلو او حضرت زيدؓ ته د شهادت
لويه مرتبه ملاؤ شوه . بل طرف ته حضرت حبيبؓ د حارث
بن عامر ځامنو واغستلو . دا هغه حارث دے چې د اُحد په
كښې جنګ كښې د حضرت حبيبؓ د توري د لاندې راغلے
وه او مردار شوې وه . هر كله چې حضرت حبيبؓ لره د
پهانسې ځائے ته بوتللے شو . نو دغه وخت حضرت حبيبؓ د
دوه ركعته نفل ادا كولو اجازت اوغښتلو . مشركانو ورته د

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوافلو ادا کولو اجازت ورکړه . د هغې نه وروستو حضرت حبیبؓ ته پهانسي ورکړے شوه. ( 119 , 118 )

## د بنو نضیر قبیلې سازش

بنو نضیر د مدینې منورې دیهودیانو دویمه غټه قبیله وه . د دوی دمسلمانانو سره یوه معاهده شوې وه . چې کۀ د دغې قبیلې ( بنې نضیر ) نه یو کس په غلطۍ سره مړې وکړئ . نو د هغه مړ کس دیت به مسلمانان او یهودیان دواړه فریقه په شریکه ادا کوی . هم دغه شان کۀ چرته د یو مسلمان نه په غلطۍ سره مړې وشی . نو د هغې مړی دیت به هم په شریکه مسلمانان او یهودیان ادا کوی . په دغه زمانه کښې د بنی عامر دوه کسان د یو مسلمان د لاسه په غلطۍ سره قتل شو. د مقتولینو سره د حضورﷺ له طرفه د امن ملاویدلو یوه چهیتهی پرته وه . د دغه معاهدې مطابق د دغې دووتنو (مقتولینو) دیت په مسلمانانو او په یهودیانو ( بنو نضیر ) دواړو راتللو . مسلمانانو د بنی نضیر نه په دغه دیت کښې د هغې حصې مطالبه وکړۀ . او د دغې مقصد د پاره حضورﷺ د بنو نضیر محلې ته هم لاړلو . په ظاهره خو دوی د حضورﷺ خبره اومنله ، خو د دننه نه دوی دیت ورکولو ته تیار نۀ وو . حضورﷺ ئې په دغه سلسله کښې د یو دیوال سره خواته کینولو . ورسره ئې دغه منصوبه هم جوړه کړه چې دغه دیوال سره د بره نه به یو لوئې کاڼې په حضورﷺ راګزار کړو . ( د هغې د لاسه به حضورﷺ شهید شی نو نۀ به حضورﷺ پاتې شي او نه به دیت مطالبه وی ) .حضورﷺ ته د وحې په

(c) ketabton.com: The Digital Library


ذريعه د دغي سازش پته ولګيده . سمدست د هغۀ ځائے نه
پاسيدلو او مديني منورې ته روان شو. بنو نضيرته چي د
حضور ﷺ د تللو خبروشو د هغوی يو تن د حضور ﷺ خوا
لره مديني منورې ته وليږلو . او ورته ئې دا پيغام ورکړۀ . چي
حضور ﷺ ته ووايه . چي تاسو هم ديرش تنه راولې او مونږ به
هم د خپل پوهه ديرش کسان راجمع کړو بيا کۀ چرته زمونږ د
دين پوهه خلقو ستاسو خبره ومنله نومونږ به ترينه هم انکار
ونکړو. د هغوی په منلو سره به بيا مونږ ته څۀ اعتراض نۀ
وی . حضور ﷺ ورته خبر واستولو چي ترڅو تاسو يو کلک
عهد نۀ وی ليکلے .زه په تاسو بهروسه نۀ شم کولے .
د عهد راتازه کولو د پاره حضور ﷺ د بنو قريظه ته هم يو
قاصد وليږلو هغوی په خوشحالۍ سره خپل هغه زوړ عهد
راتازه کړلو . بنو نضير اول انکار وکړۀ بيا ئې عهد تازه کولو ته
سر کيښودلو . او حضور ﷺ ته ئې خبر ورکړۀ چي تاسو د دري
تنو سره راشے چي دغه عهد تازه کړو . حضور ﷺ چي کله
هغوی طرف ته روان شولو . نو په لاره کښې ورته معلومه
شوه چي بنو نضير د تورو سره ( د جګهړے په نيت ) په لاره
کښې د حضور ﷺ او د مسلمانانو انتظار کوی . د هغوی
منصوبه دا وه . چي دغه ځائے ته د راتلو سره په حضور ﷺ
باندې حمله وکړي او ( معاذ اللّٰه ) حضور ﷺ شهيد کړي .
حضور ﷺ دوباره د لارې نه راواپس شولو . او د مسلمانانو د يو
لښکر سره ئې د بنو نضير د علاقې نه ګيره تاؤ کړه.
بنونضير په ځان پسې د قلعو دروازے بندې کړے . بنو نضير

(c) ketabton.com: The Digital Library


پنځلس ورځې د مسلمانانو په ګېره کښې وو . آخرپه دي شرط د خپلو قلعو نه راوتلو ته تيار شو . چي څومره سامان مونږ دځان سره په اوښانو وړے شو هغه به د ځان سره واخلو او دا ځائے به مسلمانانو ته پرېږدو. حضور ﷺ د هغوی خبره وومنله او هغوی چي د ځان سره څومره مال په سورلو وړلے شو د ځان سره اوچت کړه او خيبر ته نورو يهوديانو لره لاړل بيا هم هلته ديره شو .دغه وخت د بنو نضير په دغه مشرانو کښې غټ غټ يهوديان لکه ابو رافع سلام بن ابی الحقيق ، کنانه بن الربيع او حُيَی بن اخطب هم وو. په دي طريقه د مسلمانانو قوت او طاقت نور هم زيات شو . ( 120 )

## د خندق يا د احزاب جهګړه

کوم وخت چي بنو نضير د مدينې منورې نه بهر ووتل او په خيبر کښې ديره شو . د هلته نه هغوی په جمع د مسلمانانو د ختمولو سازشونه شورو کړل . او په دغه مقصد کښې ئې د ځان سره د عربو نورې قبيلې هم شاملې کړے . له دي دجې دغې جهګړے ته د احزاب ( د ډيرو ډلو) جهګړه وئيلے شي . احزاب په عربی ژبه کښې ډيرو ډلو ته وائی . چونکه په دي جهګړه کښې د عربو ډير قبائل د مسلمانانو خلاف رايو ځائے شوی وو . ځکه دي جنګ ته د احزاب جنګ وئيلے شي . د مسلمانانو په دغې مخالفينو کښې د بنو نضير سره ملګرو کښې په خصوصی توګه د قبيله بنی غطفان ، قبيله بنو اسد ، او د قريشو نوم اغستلے شي . دوی ټولو د لس زرو لښکر تيار کړلو او مدينه ته راروان شو. حضور ﷺ ته چي کله ددغي

(c) ketabton.com: The Digital Library


حالاتو پته ولګيدله نو مسلمانان ئي راجمع کړل او د هغوی نه ئي د دغي لښکر ( مشترکه دښمن )په باره کښي مشوره واغستله . هريو صحابیؓ خپله رائي وړاندي کړه . حضرت سلمانؓ چي د فارس( موجوده ايران) سره ئي تعلق لرلو هغه ووئيل چي د مديني منوري دري طرفونه په کورونو او د کهجورو په باغو نو سره محفوظ دی . صرف يو طرف داسي دے چي نۀ پکښي کورونه شته او نۀ دغه ځائے څه نور د حفاظت سامان شته .دا وخت پکار دا دی چي په دغه مقام باندي يو خندق (کنده ) وکنستلے شی . چي د کافرانو مدينه ته د راتګ لاره بنده شی . حضور ﷺد حضرت سلمانؓ رأئے خوښه کړله او په هغي باندي ئي د عمل کولو حکم ورکړلو . حضور ﷺد دري زرو صحابوؓ سره دغه خندق کسنتلو . هريو صحابیؓ ډير په اخلاص سره په دغه خندق کښي کار کولو . دا ګران کار په ډير محنت سره شلو ورځو کښي سر ته ورسيدلو . په دغه موقع يو خبر راوړونکي دا خبر راوړلو چي د کافرانو لښکر مديني منوري ته رانژدي شوي دے . منافقينو ته چي پته ولګيدله نو په مختلفو حيلو او بهانو ئي ځان د مسلمانانو د لښکر نه جدا کړلو او خپلو کورونو ته لاړل . د مسلمانانو سره په مدينه کښي د يهوديانو يوه قبيله پاتے کيدله .مسلمانانو ته د دغي قبيلي نه هم خطره وه . په دغي وجه د دغي قبيلي دپاره دوه سوه تنه جدا کړے شوی وو چي په دوی باندي نظر ساتی . بنوقريظه قبيلي لاتراوسه پوري د مسلمانانو مخالفت نۀ کولو په ظاهره ئي د کافرانو ، مشرکانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ملګرتيانهٔ کوله . په پټه پټه دوی هم د کافرانو ملګری وه خو د
دي خبرې نه ويريدل چې کهٔ چرته مونږ د دغه کافرانو او
قريشو ملګری شو . صبا خو به دوی لاړ شي او مونږ ته به
مدينه کښې پاتې کيدل ګران شي . بنوقريظه ته حيی بن
اخطب د بنو نضير مشرپيغام وليږلو کهٔ چرته تاسو نن د
مسلمانانو خلاف زمونږمرستهٔ او ملګرتيا وکړۀ . نو زمونږه د
مسلمانانو خلاف دغه جنګ ګټل به يقيني شی ځکه چې
نن د عرب ټولې قبيلې د مسلمانانو د ختمولو د پاره د مدينې
نه بهر راجمع شوی دی .د حيی بن اخطب په سازش سره
بنوقريظه قبيلې خپل عهد چې د نبی کريم ﷺ او د
مسلمانانو سره ئې کړے وو هير کړلو او د مسلمانانو خلاف
په دغه جنګ کښې د قريشو د او د نورو کافرانو ملګری شو .
قريش او دغه رنګ نور کافران د مدينې منورې نه بهر
ديرشوی وو . او د يو داسې ځائے په تالاش کښې وو چې د
هغې په ذريعه مدينې منورې ته دننه شي . او د مسلمانانو
سره مقابله وکړئ .. خو داسې يو ځائے ئې هم ونهٔ موندلو
چې د هغې په ذريعه د کافرانو دغه لښکر په مسلمانانو حمله
وکړئ . په دغه حالت او کيفيت کښې قريشو او نورکافرانو د
مدينې منورې نه بهر شل ورځے تيرې کړے . د مدينې
منورې د مسلمانانو او په د مکې مکرمې د کافرانو په مينځ
کښې بس د يو خندق فاصله وه . دغې خندق سره کافرانو د
مسلمانانو خوا له نزدې نشو تللے .مسلمانانو د کافرانو د شر
او حملې نه په دغې خند ق سره بچ وو. عمرو بن ودّ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دقریشو یو ډیر زیات بهادر سړے یادیدیو هغه د خندق (کنده) نـه بل طرف ته د پوري وتلو کوشش وکړۀ . خو د مسلمانانو له طرفه حضرت علیؓ د هغه کوشش ناکامه کړه . کافرانو به هره ورځ پـه مسـلـمـانـانـو بـانـدې د کـانړو او غشو یو باران جوړوو. مسـلـمـانـان دلـته په دغه تکلیف او مصیبت کښې وو . ورسره بـل طرف ته د مسلمانانو زنانه چې په کومه قلعه کښې پاتې کېدلے هـغـه قـلـعـه د بـنـوقـریـظه د آبادي سره خواته وه . یو یهـودی د دغې قبیـلې نـه دغه قلعه ته نزدې شو او قلعې ته د ورننوتـلو په کوشش وو دغه وخت حضرت صفیهؓ چې دنورو زنانو سره په دغې قلعه کښې وه .د مسلمانانو زنانو د حفاظت د پاره تـوره پـه لاس تیاره ولاړه وه . هغې د هغه یهودی سر د تن نـه پـه تـورې سـره جدا کـړلـو . اونورو یهودیانو ته ئې د عبرت اخستـلـو د پاره پـه یـو میدان کښې وروغرځولو . بنوقریظې قبیـلې چې دغه حالت او کیفیت ولیده . نو ویریدله او دا خیال او ګمان ئې وکړه چې ګنې په قلعه کښې د مسلمانانو د لښکر یـوه حـصـه د قـلـعې د حفاظت د پاره موجوده ده . مسلمانان په دغـه آزمـائـش او امـتـحـان کښـې وو . یو طرف تـه د مدینې مـنـورې یهـودیان وو چې د مسـلـمـانـانـو پټ په پټه ډیر زیات مـخـالف وو . بـل طرف تـه د قـریـشـو اود نورو ډیرو قبیلو هغه لـوئـې لښـکـر وو . د دغـې حــالــت او کـیـفـیـت پـه وجـه د مسـلـمـانـانـو تـکـلـیفونه ورځ تروړځه زیاتیدل . بل طرف ته کـافـران او د مکې مکرمې قریش په خیمو کښې په زیات دیره کیدلو سره تنګ شوی وو . دغه وخت وو چې د غطفان قبیلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو كس چي په پټه ئي ايمان راوړے وو قريش ته ورغلو او قريش ئي د نورو كافرانو نه ئي بد ظنه كړل . بيا نورو قبيلو ته ورغلو او هغوي ئي د قريشو نه بد ظنه كړل . په دغه طريقه د قريشو او د نورو قبيلو په مينځ اختلاف جوړ شو . دغي اختلاف سره سره په دوی د شپي يوه تيزه سيلي راغله . هغي طوفان او سيلي د كافرانو خيمي په هوا كړے د كافرانو لوښي د يو ځائے نه بل ځائے ته لاړو . دغي حالت او كيفيت قريش او نوري قبيلي دي خبري ته مجبوره كړے چي خپلو خپلو كلو ته لاړ شي . اول بنوقريظه ميدان خالي پريښودلو او كورونو ته لاړل بيا وريسے نوروكافرانو هم د ميدان نه تيخته وكړه اونمبر په نمبر خپلو خپلو كلو ، علاقو ته روان شو . د كافرانو په تلو سره مسلمانانو ساه واغستله . او د مولیٰ كريم ئي ډير ډير شكر ادا كړۀ چي د يو لوئي آزمائش او امتحان نه بچ شو .( 121,122, )

## د بنوقريظه د عهدشكني انجام

هركله چي مسلمانان د قريشو او نورو قبيلو د شر اوفساد نه په كوم وخت چي دعربو قبيلو او قريشو د مديني منوري نه گهيره اوچته كړه او مسلمانانو د بهرد هر قسمه خطري نه په امن كښي شو .نو حضور ﷺ دمسلمانانو سره د بنو قريظه نه د عهد ماتولو بدل اغستلو دپاره د بنوقريظي د قلعو نه گيره تاؤ كړله . بنوقريظه ترپوي مياشتي پوري په خپله قلعه كښي بند وو .آخر كار تنگ شو او د راوتلو د پاره ئي حضو ﷺ ته درخواست وكړۀ . حضور ﷺ د بنوقريظه نه د عهد ماتولو

(c) ketabton.com: The Digital Library


د بدل اغستلو د پاره چي زمونږ فيصله دي د اوس د قبيلي مشر حضرت سعدؓ بن معاذؓ وكړي . هغه چي څهٔ فيصله وكړه . مونږ ته به منظوره وي . حضرت سعدؓ چي د خندق په جهګړه كښي زخمي شوي وه او ډير په تكليف او مصيبت كښي وه . د دغي تكليف باوجود حضرت سعدؓ د فيصلي كولو د پاره دغي مقام ته تشريف راوړلو . د حضرت سعدؓ قبيلي غوښتل چي د بنوقريظه سره نرمي وشي او هغوی ته د هغوی غلطي معاف كړي شي . خو حضرت سعدؓ او نۀ منل او فيصله ئي وكړه چي په بنو قريظه كښي څوك چي د جنګ كولو قابل دي هغوی دے قتل كړے شي .زنانه او ماشومان دي بندي ( قيديان) جوړ شي . او د دوی مال او زمكي دي په غريبانانو مسلمانانو كښي تقسيم كړے شي . د حضرت سعدؓ په دغه فيصله باندي عمل وكړے شو او په دي طريقه د بنوقريظي مخ نيوه وشوه .( 123 , 124 )

## د حديبيے راضي نامه

د مسلمانانو د ډير وخت نه دا آرزو او تمنا لرله چي د اللّٰه تعالیٰ د ښكلي كور طواف او ديدن وكړي . خو د مشركانو او كافرانو د لاسه مسلمانان د دغي نعمت نه تر ډير وخته پوري محرومه پاتي شوی وو . هم دغه تمنا د حضور ﷺ په زړهٔ كښي وه په دغه زمانه كښي حضور ﷺ يو خوب وليدلو . چي د عمري د ادا كولو د پاره حضور ﷺ د خو تنو صحابهؓ سره مكرمي مكرمي ته سفر كړے دے او بيا د عمري د ادا كولو نه وروستو هغوی كښي بعضي كسانو سرونه خرولي دي او بعضو ترينه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سر ځـۀ وینبتـۀ اغستی دی . دغه خوب چي د حضور ﷺ د
خلـې مبـارکـې نـه صحـابهؓ ته بیان شولو نو د هغوی جذبه او
شوق نـور هـم راوچـت شـولـو . پـه دغـې وجـه حضور ﷺ د
څـلـوارلسـو سوو ( بعضي روایتونو کښي تعداد کم او بعضي
کښي زیات هـم بیان شوے دے ) تنو سره د عمري د ادا کولو
په نیت د مدیني منوري نه مکي مکرمي ته د تللو اراده وکړه .
دا ساعـت د ذی القعدي ړومبي تاریخ وه او د هجرت شپږم کال
وه . د ذوالحـلیفـه نه حضور ﷺ احرام وتړلو او بسر بن سفیان
ئي د قریشو د حالاتو دمعلولو د پاره د ځان نه مخکښي مکي
مکرمي ته روان کړلو . د حضور ﷺ دا سفر د جنګ کولو د پاره
نـۀ وو پـه دي وجـه د غـي قـافـلـه سره وسلـه ( د جنګ کولو
څیزونه ) نۀ وه . حضور ﷺ مکي مکرمي ته روان وو په لاره وو
پـه لاره کښي یو خبر راوړونکي حضور ﷺ لره خبر راړلو چي
قریشو ته د مسلمانانو د راتللو پته لګیدلے ده او هغوی ټول د
دي خبري د پاره راجمع شوی دی چي حضور ﷺ او صحابهؓ به
پـه هیـڅ شـکل کښي مکي مکرمي ته دا خلیدو ته نۀ پریږدو.
اود قـریشو یو لښـکرچي پکښي دوه سوه کسان دی د خالد بن
ولیـد پـه مشـري کښـي د مسـلـمـانـانـو د مقابلي د پاره را روان
کـړے شـوے دے . او په غمیم کښي دیره دے . حضور ﷺ ته
چي پتـه ولـګیـده . نو رسول الله ﷺ هغه لاره پریښودله او په
بـلـه لاره حدیبي تـه وورسیـدلـو . حدیبیه کښي د حضور ﷺ
اوښـه ( قـصـوئ ) کیـنـاسـتـلـه . دغه ساعت حضور ﷺ مکي
مـکـرمـي تـه د تـلـلـو اراده وکـړلـه او اوښه ئي پاسوله خو اوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاسیدلو ته تیاره نهٔ شوه . خلقو ډیر کوشش وکړهٔ خو هر کوشش صرف کوشش پاتې شو. بعضي خلقو اوئیل چې قصوئ ( اوبه) سترے شوے ده . حضورﷺاوفرمائیل چې قصوئ ( اوبه) سترے شوے نهٔ ده . دلته ورته دالله له طرفه د پاتې کیدلو حکم دے . بیا حضورﷺاوفرمائیل زما دے په هغه ذات باندې قسم وی چې د چا په په لاس ( اختیار) کښې چې زما دا ژوند دے نن کهٔ قریش زما نه د داسې څیز مطالبه وکړئ چې پکښې د شعائرالله تعظیم وی نو زهٔ به د هغوی هغه مطالبه منمه . بیا حضورﷺ په حدیبیه کښې د پاتې کیدلو اعلان وکړلو . د ګرمې موسم وه . سخته ګرمي وه . په دغې وجه مسلمانانو سره د څکلو اوبه په مزه مزه په ختمیدلو شولے او ډیر په کم مقدار د څکلو اوبه پاتې شولے . دغه وخت د حضورﷺد معجزې په ذریعه د اوبو یو ډیره لویه ذخیره مسلمانانو ته ملاؤ شوله چې ورسره د ټول لښکر تنده ماته شوه او بیا ئې ترینه خپل خپل لوښي هم ډك كړل . بیا حضورﷺ حضرت عثمانؓ له مکې مکرمې ته ولیږلو چې قریشو ته اطلاع وکړی چې د حضورﷺاود مسلمانانو اراده د عمرې د ادا کولو ده بله څهٔ اراده ئې نشته . هرکله چې حضرت عثمانؓ مکې مکرمې ته لاړو نو مشرکانو د ځان سره ایسار کړلو .بل طرف ته په مسلمانانو کښې دا خبره ګډه شوه چې حضرت عثمانؓ د مکې کافرانو شهید کړلو . دا خبر چې حضورﷺواوریدلو نو د یو کیکر ونې د لاندې حضورﷺ کینساتلو او د حضرت عثمانؓ د بدل اغستلو دپاره ئې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحابهؓ نه بيعت( لاس نيوه) اغستل شورو كړه او په لړ وخت كښي ټول لښكر د حضور ﷺ په لاس باندي بيعت وكړلو. دغي بيعت ته بيعتِ رضوان وئيلے شي . مولىٰ كريم د دغي بيعت ذكر په قرآن كښي هم راوستے دے . د بيعت نه وروستو پته ولګيدله چي د حضرت عثمانؓ د شهادت خبر غلط وو، حضرت عثمانؓ په مكه مكرمه كښي صحيح سلامت دے . هركله چي قريشو ته د دغي بيعت پته ولګيدله نو ډير زيات فكر مند شو او ويره پري راغله . نو د راضي نامي كولو كوشش ئي شورو كړه . په دغه راضي نامه كښي د قريشو له طرف سهيل بن عمرو د قريشو نمائنده وو . هركله چي هغه مسلمانانو ته رامخامخ شولونو حضور ﷺ وفرمائيل چي اوس ستاسو كار آسان شو. سهيل بن عمرو د راضي نامه په باره كښي د حضور ﷺ سره ډيري خبري وكړلے . بيا په يو څو شرطونو سره راضي نامه وشوله . هغه شرطونه په ظاهره د مسلمانانو خلاف كيښودلے شوي وو بيا هم دغي راضي نامي ته په قرآ ن كښي لويه ګټه ( فتح)وئيلے شوے ده . د دغي په باره كښي د سورة فتح اياتونه نازل شوي دي . حضور ﷺ حضرت عليؓ ته حكم وكړۀ چي دغه راضي نامه په يو تحريري شكل كښي وليكي . حضرت عليؓ دغه تحرير د بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم نه شورو كړه نو سهيل بن عمرو اعتراض وكړۀ چي زۀ خو دغه ټكى نه پيژنم . په دغه وجه په تحرير كښي د بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم په ځائے باسمك اللّٰهم وليكلے شو .دغه ټكي به عربيانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library


عامو خطونو کښې په ابتداء کښې لیکلو. بیا حضور ﷺ حضرت علیؓ ته ووئیل چې ولیکله چې دا راضی نامه ده چې په دې سره محمد ﷺ چې داللّٰه رسول ﷺ دے راضی شوے دے. دغه وخت سهیل بیا اعتراض وکړۀ. اعتراض دا وه چې د اللّٰه درسول ﷺ دا ټکې دے ترینه ختم کړے شی ځکه چې مونږ ورته د اللّٰه رسول نۀ وایو. حضور ﷺ حضرت علیؓ ته حکم وکړۀ چې دغه ټکې ترینه وروان کړه. او دغې په ځائے محمد بن عبداللّٰه ولیکله. حضرت علیؓ ته د هغه ټکې ورانول ګران وو په دغې وجه حضور ﷺ پخپله هغه ټکې وران کړلو. بیا د راضی نامې لاندینې شرطونه ولیکلے شول.

★لس کاله به په خپلو کښې جنګ جهګړه نۀ کوو.

★مسلمانان دے اوس واپس لاړ شی

★راروان کال به عمره ادا کوی خو په مکه کښې به صرف درې ورځې به تیروی.

★دځان سره به وسله (د جنګ سامان) نۀ راوړی.

★د مکې اوسیدونکی مسلمانان به د ځان سره نۀ بوځی.

★کۀ یو مسلمان په مکه کښې پاتې کیدل غواړی نو هغۀ ته به د مسلمانانو له طرفه څۀ رکاوټ نه جوړیږی

★بل طرف ته کۀ یو تن (مسلمان) د مکې مکرمې نه مدینې منورې تلل غواړی او مدینې ته لاړ شی نو هغه به د مکې مکرمې خلقو ته واپس کیږی. او کۀ یوتن (اسلام نه پس مرتد شی او بیا) د مدینې منورې نه مکې مکرمې ته راشی نود مکې مکرمې خلق به هغه د مدینې خلقو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نۀ حواله کوی.

★ د عربو نورو تهولو قبیلو ته دے اختیار ورکړے شی چي د
چا سره ملګرتیا یا تعلقات ساتل غواړی هغوی سره دے
ملګري شي . د دغي عهدنامي په رڼا کښي بنو خزاعه د
مسلمانانو ملګری شو او بنو بکر د قریشو ملګرتیا
خوښه کړه .راضی نامه لا په لیکلو سره پوره شوي نۀ وه . دغه
وخت د سهیل ځوئے ابو جندلؓ چي د قریشو سره د اسلام
قبلولو په وجه بندی وو د قید نه ئي په څه چل ځان راخلاص
کړلو او د حضور ﷺ په خدمت کښي د پناه اغستلو د پاره
راغے . سهیل چي ابو جندلؓ ولیده نو سمدست ئي ووئیل
چي د عهدنامي مطابق دا اولني کس دے . چي زمونږ نه
تاسو لره درغلے دے . تاسو دي مونږ ته حواله کړے .
د ډیرو خبرو اترو نه پس حضور ﷺ ابو جندلؓ سهیل ته
حواله کړلو . بیا ورله حضور ﷺ تسلي ورکړه او د
صبر کولو نصحیت ئي ورته وکړۀ .بیا په هغي عهد نامي
باندي فریقینو دستخطونه وکړل . د راضي نامي نه پس
حضور ﷺ صحابهؓ ته د قرباني کولو او د سربنرولو امر وکړلو
.بیا په خپله ئي قرباني وکړله او په سر ئي اُستره راښکله .
صحابوؓ چي حضور ﷺ ولیدۀ نو هغوی هم قرباني وکړلے او
سرونه ئي وُښرول .څه لږه موده پس حضور ﷺ د دغي مقام نه
مدیني منوري ته سفر شورو کړلو .په لاره کښي د سورة فتح
آیاتونه نازل شول. امام زهريؒ لیکی چي دغه واقعه د
مسلمانانو د پاره یوه ښکاره کټه( فتح) وه . چي د دي په وجه د

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسلمانانو او کافرانو په مینځ کښې جهګړے ختمې شولے او هرطرف ته د امن فضا جوړه شوه . او هغه خلق چې مخکښې به ئې اسلام پټولو هغوی ښکاره کړلو . د نفرت هواګانې ختمې شوے . یو بل سره د خبرو موقع ملاؤ شوه . اهل عرب قرآن کریم په غور سره واوریدلو . او د هغې د اسرار او برکات نه خبر شول .په دغې وجه دغه راضې نامه د انجام په اعتبار سره د ټولو مسلمانانو د پاره یوه لویه فتحه( ګټه) وه . بیا په مزه مزه رسول الله ﷺ مدینې منورې ته ورسیدلو . ابوبصیرؓ چې د مشرکانو سره بندی وۀ . هغه د مشرکانو دقید نه په څۀ چل ځان راخلاص کړلو . او مدینې منورې ته راغللو. قریشو د ابوبصیرؓ د ګرفتارې د پاره دوه تنه د مکې مکرمې نه مدینې منورې ته راوولیږل . چې د حضور ﷺ نه د ابوبصیرؓ د واپسې مطالبه وکړئ . دغه دواړه تنه د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او د ابو بصیرؓ د واپس کولو مطالبه ئې وکړۀ . حضور ﷺ ورته د عهدنامې مطابق ابوبصیرؓ حواله کړۀ .کوم وخت چې ابو بصیرؓ د حضور ﷺ نه جدا کیدلو هغه وخت حضور ﷺ ابوبصیرؓ ته د صبر کولو تلقین وکړۀ او ورته ئې اوفرمائیل زرده چې الله تعالیٰ به ستا د پاره د نجات یوه لاره راپیدا کړی. ابو بصیرؓ د قریشو دغه دوو کسانو سره د مدینې منورې نه مکې مکرمې ته روان شو . کوم وخت چې دوی ذوالحلیفه ته ورسیدل نو د آرام کولو د پاره او د کهجورو او د دم(د قربانۍ ځناور) اغستلو د پاره ئې هلته کښې دمې ته ودریدل . دغه موقعه وه چې یو د هغه دوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


تنو (مشرکانو) نه خپله توره په لاسو کښې نیولې وه . ابو بصیر ورته ووئیل چي دا خو ډیره اعلیٰ ښکاری . او اجازت ئي ترینه د کتلو د پاره وغښتو . هغه قریشي مشرك ورله هغه توره د کتلو د پاره ورکړه . ابو بصیر ته چي توره لاس له ورغله نو سمدس ئي د هغه دووتنو نه په یوتن د توري ګزار وکړهٔ . په هغه ګزار سره د هغه مشرك سر د تن نه جدا شولو . د هغه ملګری چي دغه حال ولیدهٔ نو په منډه منډه مدیني منوري ته لاړو . بیا د هغه نه وروستو ابو بصیر دوباره مدیني منوري ته لاړو . خو چي هغه ته محسوسه شوه . چي د عهدنامي موافق به بیا زهٔ د قریشو لاسو ته ورځم . نو د مدیني منوري نه بهر د یو سیند خواته دیره شو . دده په دغه ځائے کښې دیره کیدلو سره د دهٔ نه د مکي مکرمي نور مسلمانان خبر شول هغوی ته هم د پناه ځائے ملاؤ شولو . هغوی یو یو د ابوبصیرؓ ملګری کیدل . په دغه ورځو کښې ابو جندلؓ هم د ابوبصیر خواله راغے . په مزه مزه په دغه ځائے کښې د مسلمانانو تعداد اویا ته ورسیدلو . د قریشو چي کومه یوه قافله به هم د دوی سره خواته تیریدله نو دوی به د هغي قافلي نه ګهیره راتاووله بیا چي څومره مال به د هغي قافلي سره وو . هغهٔ به ئي ترینه په زوروه اغستلو . دغه سامان او دغه طریقه کار د دوی د ژوند د تیرولو یوه ذریعه وه . په دغي طریقي سره د دوی ورځے شپے تیریدلے . د دوی په دغي طریقه کار سره د مکي کافران دغي خبري ته مجبوره شو . چي په دغي مقام څومره مسلمانان پاتي کیږی حضور ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے ئي ځان تـه راووبلي . حضور ﷺ د قریشو په مطالبه د یو خط پـه ذریعه ابو بصیرؓ او د هغه ملګری تپول ځان ته راوبلل. هـرکـله چي د حضور ﷺ خط مبارك ابوبصیرؓ ته ملاؤ شولو هغـه وخـت د ابو بصیرؓ د زنکدن وه. .ابو جندل په هغه ځائے کښي د ابـو بـصـیرؓ د تدفین انتظامات وکړه او هم هلته ئي قبر تـه وسپـارلـو . بیـا د حـضـور ﷺ پـه حـکـم د نورو مسلمانانو سـره د هـغـه ځـائـے نـه مـدینـي منوري تـه راغـے .
( 125,126,127,128 )

## د شاهانو په نومونو خطونه

هـر کـلـه چي حضور ﷺ د قریشو د شراوفساد نه په امن کښي شـو نو اراده ئي اوکړه چي دغه دینِ اسلام د دنیا ګوټ ګوټ ته ورسی . پـه دغي نیت حضور ﷺ د مختلفو علاقو د بادشاهانو پـه نـومـونـو خـطـونـه ولیـکـل . حـضرت عمرو بن امیـهؓ ئي نـجـاشـی( د حبشـی بـادشـاه) بادشاه ته ولیږلو . هغه د حضور ﷺ خط مبارك په خپلو سترګو باندي کینبودلو ( دغه د خط د خکلو یو صورت دے ).بیا د خپل تخت نه راکوز شولو او په خوشـحـالـی سـره اسلام قبول کـړلـو . د دغي بادشاه نوم مـؤرخینـو اصـمـحـه لیـکـلے دے . او د حضور ﷺ پـه دغي مبـارکـو وخـتـونـو کښـي وفـات شـو .دغـه شان دحیـه کلبیؓ د حـضـور ﷺ د قاصد په حیثیت هرقل بادشاه له لاړلو .هغهٔ تـه هـم د اسـلام د حـقـانیت پتـه ولـګیدله خو د خپلي قبیلي او د مـلـك د خلقو د ویري د لاسه د اسلام د نعمت نه محرومه پاتـے شـو .د حـضـور ﷺ پـه دغـه قـاصـدانو کښي یو عبداللّٰه بن

(c) ketabton.com: The Digital Library


حذافـهؓ وه . هغـه د حـضـور ﷺ د قاصد په حیثیت کسریٰ خسـرو پـرویـز تـه تلـے وه . دغي بدبخت خسرو پرویز د حضور ﷺ خط مبارك وشلولو . او ټکړے ټکړے ئي کړلو . کله چي حـضـور ﷺ تـه د خسـرو پـرویـز ددغي عـمـل پته ولګیدله نو حضور ﷺ ورته بددعا وکړه . حضور ﷺ اوفرمائیل : اے اللّٰه ! څنګ چي دۀ ( خسـرو پرویز) زما خط ټکړے ټکړے کړے دے هم دغـه شان د دۀ مـلك ټـکړے ټکړے کړے . د حضور ﷺ د بـددعـا اثـر وو لږ وخـت پـس خسـرو پرویز د خپل ځوی د لاسـه مـردار شو . د حضور ﷺ په قاصدانو یو نوم د حاطب بن ابی بلـتـعـهؓ هم دے . حضور ﷺ دوی لره د مصر او اسکندریه (مـقوقس) بادشاه په نوم خط ورکړے وۀ . دوی هم د اسلام او د اسـلام د تـعـلیـمـاتـو نـه ډیـر مـتـاثـره شو. د ډالي په شکل دوی حـضـور ﷺ لـره د نـورو ډیـرو ځیـزونـو سـره یـوه وینځه او سپین خـر( چـي ورتــه د ډیــري میـنـي د وجــي دلدل وئیلـے کیدو) راوولیـږلو . د دغي وینځي نوم ماریه قبطیه وه. حضرت عمرو بن العاصؓ د حضور ﷺ د قاصد په حیثیت دعمان بادشاهانو ( جـعـفـر او عبداللّٰه ) تـه لیږلے شوے وو. دوی تـه هم د دلائلو په ذریـعـه د اسـلام د حـقـانیت پتـه ولـګیـدلـه . دوی دواړو اسـلام قبول کـړۀ او د زکوٰة پـه نیـت ئـي د مـال یوه حصه حضرت عمرو بن العاصؓ ته حواله کړه .( 129 )

## غزوه خیبر

رسـول الـلّٰـه ﷺ چـي کـلـه د حدیبي نه واپس شولو او په لاره کښي د سورتِ فتـح نـزول وشـولـو . په دغه ایت کښي د اللّٰه

(c) ketabton.com: The Digital Library


تعالیٰ د مسلمانانو سره او بیا خاص د د غه بیعت کوونکي صحابهؓ سره دا وعده وه چې دوی ته به په راروان وخت کښي ډیرزیات مالِ غنیمت او فتوحات ملاوېږي . غزوه خیبر د هغي وعدي تکمیل وو . خیبر د مدیني منوري سره نژدي یو ځائے وۀ . په دغه مقام یهودیان ډیره شوي وو . دوی د مسلمانانو د ختمولو د پاره دغزوه خندق ( جنګ احزاب ) په موقع د عربو نوري قبیلې راغنډي کړے وے .د غزوه احزاب ( غزوۀ خندق) سبب او باعث یهودیان وو . دغي یهودیانو مسلمانانو ته ډیر تکلیفونه رسوُلی وو . د محرم الحرام میاشت وه . رسول اللّٰه ﷺ ته د وحی په ذریعه حکم وشو چې د خیبر د یهودیانو نه د بدل اغستلو د پاره د هغوی سره مقابله وکړے . حضور ﷺ د څلوارلس سوؤو پیاده مسلمانانو او د دؤو سوو سوارۀ کسانو سره خیبر ته روان شو . دغه وخت دمنافقینو خواهش او تمنا وه . چې دوی ته هم په اسلامی لښکر کښي د شاملیدلو اجازت ملاؤ شي . ( د دوی په اسلامی لښکر کښي د شمولیت مقصد صرف د مالِ غنیمت حاصلول وو ). مولیٰ کریم رسول اللّٰه ﷺ ته د وحی په ذریعه حکم راوولیږلو . چې دغه منافقین د ځان سره مۀ بوځه . حضور ﷺ خیبر طرف ته روان شو . په ازواجِ مطهرات کښي حضرت امّ سلمهؓ په دغه سفر کښي د حضور ﷺ سره ملګري وه . اسلامی لښکر په لاره کښي رجیع ( دیو ځائے نوم) نومي ځائے کښي اودریدلو . رجیع د خیبر او غطفان په مینځ کښي یو ځائے دے . په دغه مقام غطفان قبیله آباده وه . په رجیع کښي د اودریدلو مقصد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وو . چي د غطفان قبيلي يهوديان وېرېږي او د مسلمانانو خلاف د خيبر د يهودو مدد اونكړي . د څۀ لږ ساعت دمي نه پس مسلمانان خيبر طرف ته روان شو . مسلمانان چي خيبر ته اورسيدل . نو د شپي تياره لګيدلے وه . د حضور ﷺ عادت مبارك په دښمن باندي د شپي د حملي كولو نه وو . په دي وجه رسول الله ﷺ د سحر كيدو په انتظار شو . سحر چي تيارۀ لاړه او د خيبر كلي نه د بانګو آوازونه را نۀ غلل . نو رسول الله ﷺ صحابۀ ته په خيبر باندي د حملي كولو د پاره د ځان تيار ساتلو حكم وكړۀ . ( د بانګو آواز نۀ راتلل دا د دي خبري علامه وه چي په دغي علاقه كښي مسلمانان نشته ) دلته يو طرف ته مسلمانانو په خيبر باندي حملي ته ځان تيار كړۀ . بل طرف ته دخيبر يهوديانو ته پته ولګيده چي حضور ﷺ د دوي سره د مقابله د پاره خيبر ته تشريف راوړے دے نو د ويري د لاسه ئي په ځان پسي د قلعي دروازي بندي كړے . خيبر كښي يهوديانو د خپل حفاظت د پاره ډيرے قلعے جوړے كړے وے . د هري يوي قلعي فتح كول ضروري وو. حضور ﷺ اول د مسلمانانو دلښكر په ناعم قلعه باندي حمله وكړۀ . او ډير زر ئي په هغي قبضه واچوله . قلعه ناعم په خيبر كښي د يهوديانو اولني قلعه وه چي د يهوديانو د لاسو نه مسلمانانو ته ورغله . بيا قموص قلعه باندي مسلمانانو قبضه واچوله .بياد دغي قلعي نه ورستو صعب بن معاذ قلعه مسلمانانو ته په لاس ورغله . بيا حصن قُله قلعه د يهوديانو د لاس نه ووتله .په دغه طريقه يوه يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلعه د یهودیانو د لاسو نه وتله او د مسلمانانو په قبضه کښي راتله. آخرکار مسلمانانو په ټول خیبر باندي قبضه وکړه .( 130,131,132,133 )

## د فدك فتح کیدل

د فدك خلقو ته چي پته ولګیدله چي د خیبر علاقه مسلمانانو ته په قبضه ورغله نو ورسره د خپلو ځانونو ویره پیدا شوه او حضور ﷺ ته ئي پیغام واستولو چي مونږ هر څه پرېښودلو ته تیار یو .خو مونږ ته امان راکړئ . حضور ﷺ د هغوی خبره اومنله . او د فدك علاقه بغیر څه جنګه او بغیر څه کوششه حضور ﷺ ته په قبضه کښي ورغله . په دي وجه د فدك زمکه او نور څیزونه حضور ﷺ سره تر آخره وخته پورې وو . د خیبر مال په مسلمانانو کښي تقسیم شولو او هر شریك ته د مالِ غنیمت یوه مقرره حصه ملاؤ شوه . د خیبر په دغه جنګ کښي پنځلس یا شوارلس تنه د مسلمانانو نه شهیدان شوی وو . او د کافرانو نه ووه کم سل تنه (۹۳) مردار شوی وو.( 134 )

## د حضرت صفیهؓ سره د حضور ﷺ نکاح

د خیبر په قیدیانو کښي حضرت صفیه هم شامله وه چي د حی بن اخطب لور وه او د حضرت هارون علیه السلام د خاندان سره ئي تعلق لرو . کله چي قیدیان جمع کړے شو نو حضرت دحیه حضور ﷺ ته دا خواست وکړه چي ماله یوه وینځه راکړه . حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چي ځان له خوښه کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت دحیهؓ حضرت صفیهؓ ته کوته ونیوله . صحابوؓ
حضور ﷺ ته ووئیل چې دا خو د یو د یهودیانو د یو مشر
سردار لور ده . ښهٔ دا ده چې تا تاسو سره وی .په دې حضور ﷺ
حضرت دحیهؓ لره د حضرت صفیهؓ په بدل کښې بله وینځه (
چې د حضرت صفیهؓ د ترهٔ لور وه ) ورکړهٔ او حضرت صفیهؓ
ئې د ځان سره ایساره کړه .بیا څهٔ وخت پس حضور ﷺ ورسره
نکاح وکړهٔ . د انکاح د حضرت صفیهٔ د آزادولو نه پس وه .
( 135 )

## قضاشوې عمره

په صلح حدیبیه کښې کښې دا لیکل شوی وو چې حضور
ﷺ دے اوس واپس مدینې منورې ته لاړ شی بیا راروان کال
دے د عمرې د پاره راشی . او د عمرې ادا کولو نه پس په درې
ورځو کښې دننه دننه دې د مکې مکرمې نه مدینې منورې
ته واپسی وکړی .حضور ﷺ د هغه عهدنامې مطابق د
ذیقعدې په میاشت کښې د هغې عمرې د ادا کولو اراده
اوفرمائیله . او هغه ټول صحابهٔ ئې په دې سفر کښې د ځان
سره ملګری کړل چا چې په صلح حدیبیه کښې برخه
اغستے وه . حضور ﷺ سره په دې سفر کښې د صحابهٔ یو
لوئې تعداد وو . د قربانۍ دپاره اویا اوښان اغستلے شوی وو.
حضور ﷺ د ذوالحلیفه نه د نورو مسلمانانو (صحابهٔ) سره د
عمرې د ادا کولو د پاره احرام وتړلو. او بیا د بیت الله ( کعبې
په طرف روان شولو . حضور ﷺ او صحابهٔ تلبیه وئیله . اول
مسلمانانو د بیت الله طواف وکړهٔ بیا ئې په صفا مروئ کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library


سعـی وکـړهٔ د سعـی نـه پـس ئې قـربانـی وکـړه. بیا ټولو مسلـمانانو حلق یاقصر وکړهٔ او د عمرې په مکمل کیدلو سره حـلال شـو. د عـمرې د ادا کولو نه پس درې ورځـې حضور ﷺ پـه مـکـه مـکـرمـه کښـې تیرے کړے. پهدغه ورځو کښې د حـضـور ﷺ سـره د حضرت میمونهؓ نکاح اوشوه . بیا په مزه مـزه د مسـلـمانانو قافله د مکې مکرمې نه مدینې منورې ته روانـه شـوه .مسـلـمـانـان د ذی الـحـجې پـه میاشـت کښـې مدینې منورې ته وورسیدل .( 137, 136 )

## بنو سلیم ته د اسلام دعوت ورکول

د هـجـرت ووم کـال وهٔ .پـه اسلامی میاشت ذی الحجې کښې حـضـور ﷺ پـنځوس تنه بنو سلیم ته د تبلیغ په سلسله کښې ولیـږل .هـغوی اسلام ته سپك وکتل او په هغه پنځوسو(۵۰) تـنو ئې د غشـو باران جوړ کړهٔ . په دغې غشو سره د یوتن نه عـلاوه نـور ټـول مسلمانان شهیدان شو. هغه یو مسلمان چې بـنـوسـلـیـم پـه مـړو کښـې شمیر کړے وهٔ . د زخمونو د لاسـه خـوزیـدونـهٔ شـو . څـهٔ لـږه مـوده پـس مولیٰ کریم ورله صحت ورکـړلـو بیا د مدینې منورې په طرف را روان شولو او د صفر په میـاشـت کښـې مـدیـنـې مـنـورې تـه را وورسیـدلـو . دغـه صحابیؓ په اخرم نوم سره یادیږی.( 138 )

## سریه غالب بن عبدالله لیثیؓ

د هـجـرت پـه اتـهـم کال د صفر په میاشت کښې حضور ﷺ یو لښـکـر د غالب بن عبداللهؓ په مشرې کښې بنی الملوح طرف

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته ولیږلو . مسلمانانو په بني الملوح باندې د شپې حمله وکړه . او د اوښانو په شکل ئې ترینه مالِ غنیمت حاصل کړه . بیا مدینې منورې ته ئې واپسی اوشوه.( 139 )

## د موته جنګ

په کوم کال چې حضور ﷺ د بادشاهانو او د لویو لویو مشرانو په نومونو خطونه لیګلي وو . په دغه خطونو کښې یو خط د شرجیل بن عمرو غساني په نوم وۀ. شرجیل د قیصر له طرفه د شام مشر وۀ .د حضور ﷺ خط د حارث بن عمیرؓ په ذریعه شرجیل بن عمرو غساني ته وورسیدلو . شرجیل چې د حضور ﷺ خط ولیدلو نو په غصه شو او د حضور ﷺ قاصد حارث بن عمیرؓ ئې شهید کړلو . حضور ﷺ ته چې د خپل قاصد حضرت حارث بن عمیرؓ د شهادت پته ولګیدله نو د شرجیل د مقابلې د پاره ئې د مسلمانانو یو لښکر روان کړلو . دغه لښکر کښې درې زره مسلمانان وو. حضرت زید بن حارثهؓ ئې د لښکر مشر جوړ کړۀ او ورسره ئې د مسلمانانو لښکر ته اوفرمائیل: کوم وخت چې حضرت زیدؓ شهید شي نو بیا به د لښکر مشرى حضرت جعفر بن ابی طالبؓ کوی . بیا کۀ چرے حضرت جعفرؓ هم شهید شی نو عبدالله بن رواحۀؓ به د لښکر مشر وی . او کۀ چرے حضرت عبدالله هم شهید شو نو بیا د مسلمانانو خوښه ده چې هرڅوك ئې د خپل لښکر مشر جوړ کړۀ . په دې وجه دغې جنګ ته جیش الامراء هم وئیلے شي . بیا ئې یوه سپینه جهنډا حضرت زید بن حارثۀؓ ته حواله کړه . او ورته ئې ارشاد وفرمائیلو د دلته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


اول هغه ځائے ته لاړه شه کوم ځائے کښي چي حضرت حارث بن عمیرؓ ته شهادت ملاؤ شوے وو. بیا د هغه ځائے خلقو ته د اسلام دعوت ورکړۀ . کۀ چرته هغوی د اسلام دعوت قبول کړۀ او په اسلام کښي داخل شو نو ډیره ښه ده خو کۀ چرته هغوی د اسلام د قبلیدو نه انکار وکړۀ . نو بیا ورسره مقابله( جنګ ) وکړۀ . بیا حضور ﷺ په ثنیة الوداع کښي د لښکر امیر ته د تقویٰ او پرهیزګاري سره سره نور وعظ او نصیحت وکړلو . او په دغه طریقه حضور ﷺ دغه لښکر د ثینة الوداع نه رخصت کړلو . بل طرف ته چي شرجیل ته پته ولګیدله چي د مسلمانانو لښکر د دوی د مقابلي د پاره راروان دے . نو د مقابلي د پاره ئي یو لاکه ( ۱۰۰۰۰۰ ) لښکر تیار کړلو . د شرجیل د مدد دپاره هرقل هم یو لاکه( ۱۰۰۰۰۰ ) فوجیان راوستل . یو طرف ته د کافرانو د لښکر دوه لاکه کسان وو بل طرف ته د مسلمانانو د لښکر صرف دري زره تنه وو. د دوی په موته کښي د یو بل سره مقابله وشوه . د مسلمانانو د رعب جذبي او د خلوص په برکت دښمنان په وروستو شو . او مسلمانانو ته ډیر مال غنیمت ملاؤ شو. په دغه جنګ کښي د مسلمانانو نه دولس تنه شهیدان شو. د هغوی نومونه دا دي:

★ حضرت زید بن حارثۃؓ ★ حضرت جعفر بن ابی طالبؓ ★ حضرت عبداللّٰه بن رواحهؓ ★ مسعود بن اوسؓ ★ وهب بن سعدؓ ★ عباد بن قیسؓ ★ حارث بن نعمان ★ سراقه بن عمرؓ ★ ابو کلیبؓ بن عمرو بن زیدؓ ★ حضرت جابر بن عمرو بن زیدؓ ★عمرو بن سعدؓ ★ عامر بن سعدؓ

(c) ketabton.com: The Digital Library


په کومه ورځ چي د دغي لښکر د مشرانو ( اميرانو ) د شهادت واقعه پيښه شوې وه . هغه ورځ د معجزې په ذريعه حضور ﷺ ته د جنګِ موته منظر مخامخ کړے شو حضور ﷺ دغه ټول د جنګ موته منظر مديني منوري صحابهؓ ته يو په يو بيانولو . موته په شام کښي د بلقاء علاقه سره نژدي د يو ځائے نوم دے . د دغي علاقي په وجه دغي جنګ ته جنګِ موته وئيلے شي .-( 140,141 )

## په مکه مکرمه د مسلمانانو قبضه

د حديبي په راضي نامه کښي چي څۀ ليکلي شوي وو .مسلمانان او مشرکان دواړه په هغي باندي په عمل کولو پابند وو.په هغه راضي نامه کښي ليکلي شوي وو چي د عربو قبيلو ته اختيار دے چي د چا سره ملګرتيا کول غواړي . او د چا سره په دوستي ځان شريکوي . د دغي قاعدي ضابطي مطابق بنوبکر د قريشو ملګرتيا خوښه کړے وه او بنو خزاعه د رسول اللّه ﷺ ملګري شو . د غه دوه د عرب دا سي قبيلي وے چي پکښي د ډير مخکښي نه خفګانونه او دښمني راروانې وے . بنو بکر د صلح حديبي په زمانه کښي يوه شپه د شپي په تيارۀ کښي په بنو خزاعه باندي حمله وکړۀ . په دغه واقعه کښي قريشو د بنوبکر سره هر قسمه تعاون او ملګرتيا وکړۀ . او په شريکه ئي د بنو خزاعه څۀ کسان قتل کړل . د قريشو دا خيال وو چي حضور ﷺ ته به د دي پته ونۀ لګي . قريش لا په دغه وهم وګمان کښي وو چي د بنو خزاعه يو وفد د عمرو بن سالم خزاعی په مشري کښي مدينه ته لاړو

(c) ketabton.com: The Digital Library


او حضور ﷺ ته ئي خپل فرياد وړاندي کړلو . حضور ﷺ دغه وخت په جمات کښي تشريف فرما وه . حضور ﷺ د دغي وفد نه تپوس وکړۀ . آيا په دغه واقعه کښي تهول بنوبکر شريك وو ؟ عمرو بن سالم خزاعی ووئيل دغه ظلم د بنو نفاثه خلقو کړے دے . حضور ﷺ د هغه مظلومانو وفد لره تسلی ورکړۀ او ورته ئي د مسلمانانو له طرفه د هر قسمه تعاون مرسته کولو يقين دهانی ورکړۀ . کله چي هغه وفد رخصت شولو . نو حضور ﷺ د يو قاصد په ذريعه قريشو ته پيغام وليږلو چي په دري خبرو کښي يوه خبره خوښه کړے . يا د خزاعه د مقتولينو ديت ورکړے يا د بنونفاثه ملګرتيا پريږدے يا د حديبي د صلحي د ختمولو اعلان وکړئ . کله چي د حضور ﷺ قاصد قريشو ته دغه دري خبرے واورولے نو قريشو د اولنو دوو خبرو د منلونه انکار وکړۀ . دريمي خبري ته تيار شو او د حديبي د عهدنامي د ختمولو اعلان ئي وکړۀ . بيا کوم وخت چي د دغي خبر سره دحضور ﷺ قاصد د مکي مکرمي نه مديني منوري ته روان شو . قريشو محسوسه کړه . چي د دوی نه خو ډيره غټه غلطی اوشوه . اوپه خپلو کړو باندي ستومانه شو . نو د خپلي غلطي د ازالي ( ختمولو ) دپاره ئي ابوسفيان مديني منوري ته روان کړلو . د ابوسفيان ئي ډيوټی ولګوله چي د حضور ﷺ په خدمت کښي حاضر شی . او حديبيي هغه عهدنامه راتازه کړه . حضور ﷺ ته د وحی په ذريعه د ابوسفيان د راتګ پته ولګيده . او د ابوسفيان د راتګ خبر ئي صحابهؓ ته ورکړۀ. حضور ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


صحابهؓ ته اوفرمائیل : ابوسفیان د مکي مکرمي نه مدیني منوري ته د حدیبیي عهدنامي د وخت زیاتولو او د هغي د مضبوطولو د پاره راروان دے . په لاره کښي د ابوسفیان ملاقات د بدیل بن ورقه خزاعی سره وشولو . ابوسفیان ترینه ( په خبرو خبرو کښي ) تپوس وکړهٔ چي د کوم ځائے نه راروان ئي ؟ هغه ورته ووے د دغي نزدي غنډي ( وادي ) نه راروان شوے یم بیا ترینه بدیل مکي مکرمي ته روان شو . کوم وخت چي بدیل د ابوسفیان نه جدا شو ابوسفیان فکرمند شو د بدیل ددمي کولو ځائے لره ورغے . هلته ئي د اوښانو غوشان ولیدل په هغي کښي د کهجورو هډوکی وو . نو پوهه شو چي بدیل د مدیني منوري نه راروان شوے وو . ابوسفیان د بدیل د ملاقات نه پس نور زیات فکر مند شو . بیا د دغي فکر سره مدیني منوري ته داخل شو نو اول په مدینه منوره کښي د خپلي لور ام المؤمنین ام حبیبهؓ خواله لاړلو . د ام المؤمنین امّ حبیبيؓ سره خواته یو بستره خوره پرته وهٔ. ابوسفیان په هغي باندي ناسته غوستله . امّ حبیبهؓ چي د ابوسفیانؓ په نیت پوهه شوه نو بستره ئي راغونډه کړه . ابوسفیان ترینه تپوس وکړهٔ لوري دا بستره دے ولے راغونډه کړه ؟ دا دے زما لائقه ونګڼله ؟ یا زهٔ دے ددي بسترے لائق ونګڼلم ؟ حضرت ام حبیبهؓ ورته په جواب کښي ووئیل چي دا د حضورﷺ بستره ده . په دي باندي یو مشرکه چي د شرک په ګندګي ګنده وی ناسته نهٔ شوے کولے. ابوسفیان له غصه ورغله او په غصه کښي ئي خپلي لور ردے بدے ووئیلے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ام حبيبهؓ ورته په جواب كښي ووئيل زهٔ د كفر دتيرو نـه د اسلام په رڼا كښي داخله شوے يم . او په دي خبره تعجب كـوم چي تـهٔ د قـريشـو يـو مشـر ئي بيـا هـم تهٔ داسي كانو ته سجدي كوے چي نهٔ ليدل كوى او نهٔ اوريدل كوى . ابو سفيان د لـورد كـور نـه د غـصـي پـه حـالت كـښي جمات ته لاړو. دغه وخـت حـضـور ﷺ په جمات كـښي تشريف فرما وهٔ . ابو سفيان حـضـور ﷺ تـه مـخـامـخ كيناستلو بيا ئي د مكي مكرمي نه مـديـنـي مـنـوري تـه د راتـلـو وجـه بيـان كـړه . حضور ﷺ د ابـو سـفيان خبره واوريدله خو ورله ئي هيڅ څهٔ جواب ورنكړه . ابـو سـفـيـان سـره نـور هـم زيـات فـكـر شـو او د حـضـرت ابـوبـكـر صـديـقؓ خـوالـه ورغـے . خـو د هغوى نه ورته هم څه جواب مـلاؤ نـهٔ شـولـو . نو د حضرت عمر بن الخطابؓ خواله راغـے .حـضـرت عـمرؓ هم په دغه سلسله كښي د ابو سفيان د مـدد كـولـو نـه انـكـار وكـړهٔ . نو مجبوراً د حضرت عليؓ نه ئي مـدد وغـښـتـلـو . حضرت عليؓ ورته ووئيل چي حضور ﷺ په دي باره كښي خپله څهٔ فيصله كړے ده . له دغي وجي په دي بـاره كـښـي هـيـڅ څـوك حضور ﷺ ته سفارش نهٔ شي كولے . ابو سفيان چي د حضرت عليؓ نه په دغه سلسله كښي نااميده شـو نـو حـضـرت فـاطـمـيؓ تـه ئي د خپلي تېرداري خپلولي واسطه وركړهٔ . او ورته ئي ووے اے د محمد ﷺ لوري ﷺ ! كـهٔ چـرتـه دے ماشوم ( حسنؓ ) دومره ووئيل چي ما قريشو ته پـنـاه وركړے ده نو د ټول عربو به مشر وومنلے شي . حضرت فـاطـمـيؓ ورتـه پـه جـواب كـښي اوفرمائيل چي دا خو ماشوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے یعنی پناه ورکول د مشرانو کار دے .بلکه دا چې د حضور ﷺ د اجازت او مرضے خلاف څوك چاته پناه ورکولے شي ؟ ابوسفیان چې ولیدۀ د هغۀ خبره څائے نۀ نیوی . نو حضرت علیؓ ته ئې ووئیل چې آخر په دې موقع ماله څۀ کول پکار دی ؟ حضرت علیؓ ورته ووئیل: جمات ته لاړ شه او هلته کښې په زوره زوره ووایه زۀ د حدیبیې عهد راتازه کوم او د هغې وخت زیاتووم . بیا خپل کلی ښار (یعنی مکې مکرمې) ته واپس لاړ شه . ابوسفیان د حضرت علیؓ په مشوره عمل وکړۀ . جمات ته لاړو هلته ئې په چغه چغه ووئیل چې زۀ د حدیبیې عهد راتازه کوم او د هغې عهد وخت نور هم زیاتوم . بیا مکې مکرمې ته لاړو . ابوسفیان چې مکې مکرمې ته ورسیدلو او د مدینې ټول حالات ئې قریشو ته بیان کړل . نو قریشو ابوسفیان ته ووئیل . تا چې کوم وخت په چغه چغه دغه اعلان وکړۀ نو حضور ﷺ د دغې اعلان په باره څۀ اوفرمائیل . ابوسفیان ووئیل چې هیڅ هم نه .قریشو ووئیل چې د محمد ﷺ د اجازت او رضا نه بغیر دغه اعلان هیڅ فائده نۀ لری .تا خو نۀ د راضی نامې خبر راوړے دے او نه دغه دهغوی د طرف نه د جنګ اعلان دے .چې د هغې د پاره تیارے ووشي . بل طرف ته حضور ﷺ صحابهؓ ته د جنګ د پاره ځان د تیار ساتلو حکم وکړۀ . او ورسره رسول اللّٰه ﷺ دا فرمان جاری کړۀ چې د دغې تیارې پته د مکې مکرمې خلقو ته ونۀ لګی.

## د حاطب بن ابی بلتعهؓ خط

په صحیح بخاری کښې راغلی دی په دغه ورځو کښې حاطب

(c) ketabton.com: The Digital Library


بن ابی بلتعهؓ د مکي مکرمي دخلقو په نوم یو خط ولیکلو .
په خط کښې ئې دا مضمون لیکلے وو چې حضورﷺ مکي
ته د تللو اراده لري . او په دغه سلسله کښې تیاري شورو دے .
بیا ئې هغه خط یوې زنانه ته حواله کړه . چې دغه خط د
مکي مکرمي خلقو ته وورسوی . حضورﷺ ته د وحی په
ذریعه د دغې خط په باره کښې پته ولګیدله . نو حضورﷺ
دري صحابهؓ حضرت علیؓ ، حضرت زبیرؓ او حضرت مقدادؓ
د هغه خط د واپس راوړلو د پاره ولیږل او ورته ئې اوفرمائیل
چې کله تاسو روضه خاخ ( د ځائے نوم دے ) ته ورسیږے نو
هلته به تاسو ته په اوښ باندي سوره یوه زنانه ملاؤ شی . د
هغې زنانه سره به د حاطب بن ابی بلتعه خط وی دغه خط
حاطب بن ابی بلتعه د مکي مکرمي د مشرکانو په نوم ئې
لیکلے دے . هغه ترینه ( په زوره ) واخلے او ماله ئې راوړے .
حضرت علیؓ ، حضرت زبیرؓ او حضرت مقدادؓ روان شول .
دوی چې کله روضه خاخ ته ورسیدل نو هلته ورته د
حضورﷺ د اطلاع مطابق یو اوښ باندي سوره زنانه میلاؤ
شوه . دوی د هغې تالاشی واغستله خو خط ورسره ونهٔ
موندلے شو . دوی ورته ووئیل چې زمونږه نبیﷺ خبره
هیڅ کله دروغ نه شی کیدے . د هغوی هر خبر صحیح او
رښتیا دے . د هغوی خبر غلط نشی کیدے . په دې وجه په
په رضا رااله هغه خط راکړۀ . کهٔ تهٔ دغه خط مونږ ته په رضا
نهٔ حواله کوے . نو ستا په تالاشے کښې مونږه ستانه کپړے
هم ویستلے شو . هغې زنانه چې د دوی دا خبره واوریدله نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل سر د وینبو نه ئې یو خط راووباسلو او مونږ ته ئې حواله کړۀ . مونږ هغه خط د حضورﷺ په خدمت کښې پیش کړۀ. حضورﷺ حاطب بن ابی بلتعه راووغښتلو او د دغې خط د لیکلو په باره کښې ئې ترینه تپوس وکړۀ . حاطب بن ابی بلتعه ډیر په ادب او عاجزی سره ووئیل اے د الله پیغمبرهﷺ ! زما د قریشو سره هیڅ څۀ رشته داری نشته لکه څنګ چې د نورو مهاجرینو د قریشو سره ده . د هغوی د هغې خپلولې په وجه د مهاجرینو خپل خپلوان په مکه مکرمه کښې په امن او سکون سره ژوند تیروی . ما د دې خط په ذریعه په قریشو باندې یو احسان کول غوښتل چې د هغې احسان په بدله کښې بیا زما د کور د خلقو خیال اُوساتی . نۀ ما خپل دین پریښے دے او نه مې د اسلام نه پس کفر خوښ کړے دے . زما د خط لیکلو بس دغه یو مقصد وو. حضرت عمرؓ چې په دغه مجلس کښې ناست وو هغه ووئیل اے د الله پیغمبرهﷺ! ماته اجازت راکړئ چې زۀ د دې منافق نه سر جدا کړم . حضورﷺ ورته په جواب کښې اوفرمائیل : حاطب په هغه کسانو کښې دے چا چې په غزوه بدر کښې برخه اغستے ده . اے عمره ! کیدے شي الله د ډیر زیات رحمت په وجه د بدر مسلمانانو شریکانو ته دا وئیلی وی . چې دوی څۀ کوی ورته اجازت دے . دوی ټولو ته معافی شوے ده . حضورﷺ چې دغه خبره وکړله نو د حضرت عمرؓ د سترګو نه اوښکے روانے شوے او ګویا شو چې الله او د الله رسولﷺ ډیر زیات ښۀ پوهیږی . د دغې واقعې نه پس د رمضان

(c) ketabton.com: The Digital Library


المبارك په لسم تاریخ د هجرت په اتهم كال حضور ﷺ د لس زره پاكو خلقو سره د مازیگر مونځ نه وروستو د مدینې منورې نه مكې مكرمې ته روان شو. هركله چې حضور ﷺ په لاره ذوالحلیفه او د بعضې روایتونو مطابق جحفه ( د ځائے نوم ) ته ورسیدلو. په دغه مقام حضرت عباس د خپل كور د خلقو سره د مسلمانانو لښكر سره ملاؤ شو . حضور ﷺ حضرت عباسؓ ته اوفرمائیل : اے عباسؓ ! دا ستا آخیري هجرت دے . لكه څنگ چې زما نبوت آخیري نبوت دے .حضرت عباس اسلام ډیر مخكښې راوړے وو . د حضور ﷺ په امر باندې په مكه مكرمه كښې پاتې كیدو . او د مكې مكرمې د حالاتو نه به ئې حضور ﷺ خبر ولو . د حضور ﷺ سفر جاري وو په دغې سفر كښې ابو سفیان بن حارث او عبدالله بن ابی امیه ته هم د ایمان دولت نصیب شو او په لاره لاره كښې دوی هم د مسلمانانو د لښكر یوه حصه وگرځیدل . میاشت د رمضان وه . حضور ﷺ دغه سفر د روژے په حالت كښې شورو كړے وو . هركله چې حضور ﷺ كدید ( د مكې مكرمې نه دوه اویا میله لرې د یو ځائے نوم ) ته وورسیدلو . هلته كښې حضور ﷺ او نورو مسلمانانو روژه ماته كړه . مسلمانانو د كدید نه وروستو مر الظهران( دیو ځائے نوم ) ته سفر وكړۀ او هلته ئې د شپې تیرولو د پاره خیمې ( تانبان) ولگولے . د هریو تانبو( خیمې ) مخامخ اور بل كړے شو.بل طرف ته قریشو سره د بد عهدې ( د عهد ماتولو ) د بد انجام فكر وو. د دغې فكر ختمولو د پاره ابو سفیان بن حرب ، بدیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـن ورقاء اور حکیم د مکې مکرمې نه راووتې وو . دوی ولیدهٔ
چې پـه مرّالظهران کښې یو لښکر دیره شوے دے . دوی د یو
بـل نـه تپوس کولو . دغه وخت په خبرو خبرو کښې ابو سفیان
ووئیـل چې دا ( مر الظهران کښې مخامخ ) لښکر د چا کیدے
شـی؟ بـدیـل ورتـه ووئیـل چې دا دخـزاعه قبیلې لښکر دے .
ابـو سـفیـان ووئیـل چې د خزاعې قبیلې سره خو دومره لښکر
نشـتـه . دغـه خبـرے دوی کـولـے . چې نـاڅـا هـانـه یو څو تنه
راغـلـل چې د مسـلمانانو دلښکر د نګرانۍ د پاره مقرر کړے
شـوی وو . هغوی دوی ونیول نو دوی ترینه تپوس وکړه چې دا
د چا لښکر دے؟ . هغوی په جواب کښې ورته ووئیل دا لښکر
د مـحـمدر سول اللهﷺ او د هغه ملګرو (صحابهؓ) دے . دوی
دغـه خبـرے کـولـے . پـه خبـرو خبـرو کښې دوی ته مخامخ په
سـورلـې سـور حـضـرت عباسؓ رابښکاره شولو. هغه د حضور
ﷺ پـه سـورلـې بـانـدې سـور وو او د لښـکـر سره سره د هغـه
عـلاقـې نـه ئې څـان خبرولو د پاره راووتـے وو. حضرت عباسؓ
چې ابو سفیان ولیدلو . نو ورته ئې ووئیـل اے ابو سفیانه ! که د
محمد ﷺ لښکر په تا باندې برے اوموندلو نو ستا سر به ستا
د تـن نـه جدا کـړی . د قـریـشـو د پاره ښـهٔ خبـره دا ده چې د
حضور ﷺ په امان کښې راشې . او د حضور ﷺ خبره اومنې .
ابـو سـفیـان چې د حـضـرت عباسؓ خبره واوریدله نو د حضرت
عبـاسؓ نـه د تپوس وکړهٔ . اے عباسهؓ ! بیا کومه طریقه باندې
زهٔ خـلاصیـدے شـم . حـضـرت عبـاسؓ ورته اووئیل ماسره په
سـورلـې سور شه .تابه زهٔ د حضور ﷺ خواله بوځم او د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به تاڵره امان اوغواړم . ابوسفیان د حضرت عباسؓ سره په سورلي سور شو او دواړه د حضور ﷺ په خدمت کښي حاضر شو . په لاره کښي حضرت عمرؓ ډیر کوشش اوکړو چي ابوسفیان ( چي د اسلام راوړلو نه مخکښي د حضور ﷺ سخت دښمن وو ) ته نقصان ورسوی . خو حضرت عباسؓ ورته ووئیل ما دوی ته امان ورکړے دے . د حضرت عباس د ضمانت په وجه ابوسفیان د حضرت عمرؓ د توري نه محفوظه وو. بیا رسول اللّٰه ﷺ حضرت عباسؓ ته اوفرمائیل ابوسفیان د ځان سره خپلي خیمي ته بوځه او سحر ئي دوباره ماله راوله . یو طرف ته حضرت عباسؓ سره ابوسفیانؓ په خیمه کښي شپه تیره کړه بل طرف ته د ابوسفیان نورو دوو ملګرو حکیم بن حزام او بدیل بن ورقاء اسلام قبول کړۀ . حضور ﷺ ترینه څۀ لږ ساعت د مکي مکرمي په باره کښي تپوسونه وکړل بیا ئي دواړه مکي مکرمي ته ولیږل چي د مکي مکرمي خلقو ته د حضور ﷺ د راتګ په باره کښي خبر ورکړئ . شپه تیره شوه بیا سحر وختی حضرت عباسؓ د ابوسفیان سره یو ځائے د حضور ﷺ په خدمت حاضر شو . دغه وخت ابوسفیانؓ د اسلامی تعلیماتو نه متاثره شوے وو . د څۀ لږو خبرو نه وروستو ابوسفیان د اسلام په دولت مالا مال شو او اسلام ئي قبول کړه . حضرت عباسؓ حضور ﷺ ته ووئیل اے د اللّٰه پیغمبره ﷺ ! ابوسفیان د مکي مکرمي په سردارنو ( مشرانو) کښي دے . د دوی په باره کښي تاسو یو داسي اعلان وکړئ چي دوی ته پري عزت ملاؤ شی . حضور ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوفـرمـائيـل . پـه هر ځائـے کښي اعلان وکړئ چي څوك هم د ابـوسـفيـان کـورتـه دننـه شو . هغوی ته د حضور ﷺ له طرفه امان دے . ابـو سفيـان ! ووئيـل اے د اللّٰه پيغمبره ﷺ ! زما پـه کـور کښي خو تـول خلق نشي راتلـے . حضور ﷺ اوفرمائيـل . بـل هغـه کس تـه هم امان حاصل دے چا چي پـه مسجد حرام کښـي پناه واغستـلـه . ابوسفيان بيا اووئيـل . اے د اللّٰه رسولـه ! ﷺ مسـجـد حـرام هـم کـافـی نـه دے ( ځکـه چي د مکـي مـکـرمي خلق ډير زيات دی ) . حضور ﷺ بيا ارشاد اوفرمائيلو : او هغه کس هم په امان کښي دے چا چي د خپـل کـور دروازه پـه ځـان پسي بنده کړه . ابوسفيان چي د حضور ﷺ دغه خبره واوريـدلـه نـو ډيـر خـوشحالـه شو او فوراً ئي ووئيـل پـه دي خبره کښي ډير زيات ګنجائش او وسعت پروت دے . بيا حضور ﷺ د مرّ الظهران نه د روانيدلو اراده وکړۀ نو حضرت عباس ؓ ته ئي اوفـرمـائيـل ابـوسـفيـان بـره د غـرسـوکـي لـره بوځه چي د مسـلـمـانـانـو د طـاقـت ورتـه اندازه ولګـی . ابوسـفيـان چي د حـضـرت عبـاس ؓ سـره بره د غر سوکي ته ووختلو نو ډير زيات حيـران پـاتـي شـو . او حضرت عباس ؓ ته ئي ووئيـل چي د ورارۀ مشـري کښـي خـو دي ډيـره دنيـا ده . حـضـرت عباس ؓ ورتـه پـه جـواب کښـي اوفرمائيـل . دا بادشاهت نه دے دا ( اثر د ) نبوت دے .( چي د هـغـي لـه برکت دا ټوله دنيا دلـتـه راغونډه شوے ده .) بيـا ابـوسـفيـان د حـضـور ﷺ نه رخصت واغستلو او پـه تيـزی سره مکي مکرمي تـه روان شو . بيا ئي پـه مکـه مکرمه کښـي خـلـق راجـمـع کړل او ورته ئي ووئيـل چي محمد ﷺ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل يو لوئي لښكر سره مكي مكرمي ته راروان دے .او ډير رانږدي شوے دے .ستاسو كاميابي په دي خبره كښي ده چي اسلام قبول كړے .يا دخپل ځان د حفاظت د پاره زما كور ته دننه شے يا مسجدِ حرام كښي پناه واخلي يا دخپل كور دروازه په ځان پسے بنده كړے . خلقو چي د ابوسفيان خبرے واوريدلے نو څنو مسجدِ حرام طرف ته او بعضي خلقو خپلو كورونو ته منډي كړے . حضور ﷺ د كداء ( د يو ځائے نوم ) له طرف نه مكي مكرمي ته داخل شو . دغه وخت حضور ﷺ په يوه اوښه باندي سور وه او په ښۀ ښكلي آواز سره ئي د سورتِ فتح آياتونه لوستل د بعضي روايتونو نه د سورتِ نصر تلاوت كول هم معلوميږي . حضرت خالد بن وليدؓ د حضور ﷺ په حكم مكي مكرمي ته د لښكر يوے حصه سره په بله لاره رادننه شو . حضور ﷺ مكي مكرمي ته د داخليدو نه مخكښي صحابهؓ ته نصيحت كړے وو چي ترڅو تاسو باندي بل تن ګزار نۀ وي كړے تر هغي پوري تاسو ورسره جنګ مۀ كوے . حضور ﷺ په عاجزي ، سكون او اطمينان سره مكي مكرمي ته داخل شو د يو څو تنو نه علاوه ئي عام د معافي اعلان وكړه . كله چي مكه فتح شوه نو حضور ﷺ د امّ هاني كورته تشريف يوسلو او اته ( ۸ ) كعته نفل ئي د شكراني په نيت ادا كړل . د مونځ نه پس حضور ﷺ شعب ابي طالب ته تشريف يوسلو .په دغي ځائے كښي د حضور ﷺ د پاره د مخكښي نه تانبو لګولے شوے وو .كوم وخت چي تولـه مكه مكرمه د مسلمانانو په قبضه كښي راغله نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضور ﷺ حرم شريف ته تشريف يوسلو اول ئي د بيت الله ( كعبي ) طواف شورو كړۀ. په حرم شريف كښي دغه وخت د كعبي نه ګير چاپيره دري سوه او شپيتۀ بتان وو . حضور ﷺ به يو يو ته ديو چوكے په ذريعه اشاره كوله او ورسره به ئي د قران ايت ﴿ جآء الحق وزهق الباطل ﴾ تلاوت كولو .په دي عمل سره هغه بت هغه وخت سر د لاندي راپريوتلو . په دي طوراو طريقه ټول حرم شريف د بتانو نه پاك شو . بيا د حضور ﷺ په حكم د طواف نه وروستو عثمان بن طلحه راوغښتلے شو . او د كعبي چابي ئي ترينه واغستله . د بيت اللّه دروازه كهلاؤ كړے شوه او حضور ﷺ كعبي ته دننه ورداخل شو . حضور ﷺوليدل چي كعبه كښي دننه تصويران دی نو د هغي د ورانولو فرمان ئي جاری كړۀ . دغه وخت ټول تصويران د حضور ﷺ په امر وران كړے شو بيا كعبه د زم زم په اوبو ووينځلے شوه . په دغه موقع حضور ﷺ مونځ اداكړۀ . بيا رسول اللّه ﷺ يوه لويه خطبه ارشاد اوفرمائيله . په دغه خطبه كښي حضور ﷺ انسان لره د فضيلت سبب تقوىٰ بيان كړۀ . د خطبي نه وروستو حضور ﷺ په حرم شريف كښي كيناستلو . او د كعبي كنجياني ئي بيا عثمان بن طلحه ته حواله كړے . او ورته ئي اوفرمائيل چي دا كنجياني د هميشه د پاره واخله ( يعني دا كنجياني به تاسره او بيا ستاخاندان سره ترقيامته پوري وی ) . دا ما تاته نه دی دركړے بلكه د اللّه تعالىٰ له طرفه دركړے شوی دی . د ظالم او غاصب( په زوره اغستونكي ) نه علاوه دا ستا نه هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library


څوك نشي اغستلے .د ماسپښين وخت شو . دغه وخت حضورﷺ حضرت بلالؓ ته حكم وكړۀ چې كعبې ته بره وخيژه او د كعبې د چهت دپاسه بانګ ووايه. د حضورﷺ د امر مطابق حضرت بلالؓ اذان وكړۀ . د طواف كولو نه وروستو حضورﷺ د صفا غونډې ته بره اوختلو .او تر ډير وخته پورې په دعا كښې مشغوله وه. بيا د دعا نه وروستو حضورﷺ كيناستلو . او په يو لوئې تعداد سره خلقو د حضورﷺ په لاس بيعت وكړۀ . حضورﷺ پنځلس ورځے په مكه مكرمه كښې تيرے كړلے . بيا د اللّٰه په حكم حضورﷺ د مكې مكرمې نه مدينې منورې ته روان شولو .

( 142,143,144 )

## سريه خالد بن وليدؓ

د اسلام په نور سره مكه مكرمه د بتانو او له شرك نه پاكه شوه. نو حضورﷺ د نورو قبيلو د اصلاح د پاره دصحابهٓ واړه واړه ټولګى د مكې مكرمې نه يو خوا بل خوا وليږل . په دغه ټولګو كښې يو ټولګې د حضورﷺ په امر سره د حضرت خالد بن وليدؓ په مشرې كښې نخله ځائے ته روان كړے شو . دوى ته د عزٰى د و روانولو ذمه دارى ورپه غاړه شوى وه . حضرت خالد بن وليدؓ دغه كار په ښۀ طريقے سره انجام ته وورسولو او واپس دوباره دمسلمانانو لښكر سره رايو ځائے شولو .( 145 )

★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریه عمرو بن العاصؓ

د حضور ﷺ په امر حضرت عمرو بن العاصؓ ته د سواع بت د ماتولو ذمه داری ورپه غاړه شوي وه . دغه بت د مکي مکرمي نه دري میله لري په یو ځائے کښي وۀ. حضرت عمرو بن العاصؓ چي بت لره نزدي لاړو نو د بت مجاور( هغه کس چي د بت سره نزدي ناسته کوی او په دغه ځائے کښي خپل ژوند تیروی ) ورته ووئیل تۀ دا کار نه شی کولے .سواع به تا په خپله دد غي کار نه منع کړي . حضرت عمرو بن العاصؓ چي د مجاور خبره واوریدله نو ډیري خبري ئي ورته وکړے او ډیر ئي ملامتا کړۀ . ورته ئي اوفرمائیل چي تۀ لا تراوسه په دغه باطله عقیده کښي پروت ئي .بیا ئي په یو ګزار سره سواع بت ټکړے ټکړے کړۀ .مجاور چي ولیدل چي سواع بت دخپل ځان حفاظت ونکړے شو نو بل چا به څۀ حفاظت او مدد وکړئ. هغه وخت ئي کلمه وئیله او اسلام ئي قبول کړۀ .( 145)

## سریه سعد بن زیدؓ

د حضرت سعد بن زیدؓ په ذمه د مناة بت ماتول وو. حضرت سعدؓ د شلو تنو سره مقامِ مشلل ته لاړو او دغه ذمه داری ئي په ښۀ طریقي سره ادا کړه.منات بت ئي ټکړے ټکړے کړۀ. د هغي نه پس ئي مدیني منوري ته واپسی وکړۀ.( 145 )

## غزوه حنین

حنین د طائف او د مکي مکرمي په مینځ کښي د یو ځائے

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوم دے . په دغه ځائے کښې د هوازن او ثقيف قبيله آباده وه.
. د قبيلهٔ ثقيف او د قبيلهٔ هوازن خلقو د فتح مکې نه
وروستو په خپلو کښې مشوره اوکړه. چې نن دے او کهٔ صبا
دے . مسلمانان به د دوی مقابله ته راووځی. مخکښې د دې
نه چې مسلمانان په دوی حمله وکړئ . په مسلمانانو حمله
کول پکار دی .د دغې مقصد د پاره د د غې قبيلې مشر مالك
بن عوف د شل زروتنو سره روان شو. حضور ﷺ ته چې پته
ولګيدهٔ . نو د حالاتو رُخ معلومولو د پاره ئې عبدالله بن ابی
حدرد اسلمیؓ د غې علاقې ته وليږلو . حضرت عبدالله بن ابی
حدرد اسلمیؓ دوه ورځے په پټه د دښمن په لښکر کښې پاتې
شو او د ټول حالاتو نه ئې ځان خبر کړلو بيا ئې هغه ټول
حالات حضور ﷺ ته بيان کړهٔ . حضور ﷺ د هغې خبر په رڼا
کښې د شوال مياشت په اتهم تاريخ د هجرت په اتهم کال د
دولسو زرو لښکر سره د مکې مکرمې نه حنين طرف ته سفر
شورو کړهٔ .د مسلمانانو په دې لښکر کښې لس زره هغه
مسلمانان وو. چا چې د حضور ﷺ سره د مدينې منورې نه
مکې مکرمې ته سفر کړے وو .او دوه زره نوی ايمان لرونکی
کسان وو . د دولسو زرو د مسلمانانو دا لښکر د حنين په طرف
روان وو. په دغه سفر کښې يوتن ووئيل چې نن خو زمونږ
تعداد ډير زيات دے .( په دې وجه نن خو د دښمن سره مقابله
به انتهائی آسانه وی ) مولیٰ کريم ته دغه خبره خوښه نهٔ شوه
. بيا هغه ووشول کوم چې د دې د پاره په تقدير کښې ليکلې
شوے وو. اسلامی لښکر حنين ته ورسيدلو او د حنين د

(c) ketabton.com: The Digital Library


غـرونـو پـه مینځ کښې تیریدلو دغه وخت هغهٔ مشرکانو چي دواړو طرفـونـو تـه ئي ځان په غرونو کښي پټ کړے وو. په مسـلـمـانـان بـاندي ئي حمله وکړه . دا حمله ناڅاهانه وه په دې وجـه مسـلـمـانـان یو طرف ته بل طرف ته په منډه شو . په دغه مـوقـع د حـضـور ﷺ سره نـزدې صـرف یو څو تـنه پاتې شو . حـضـور ﷺ چي د مسـلـمانانو دا حالت او کیفیت ولیدلو نو فـوراً ئـي اوفـرمـائیـل اے خـلـقو ! دلته راشئ زهٔ د اللّٰه تعالیٰ رسول یم ، مـحـمـد بـن عبـداللّٰه یم .بیا حضور ﷺ حضرت عباس ؓ ته اوفرمائیل چي تهٔ انصارو او مهاجرینو ته آواز وکړهٔ . د حضرت عباس ؓ آواز تیز وهٔ . هغوی آواز وکړهٔ . اے د انصارو ټولیه ! اے هغه خلقو ! چا چي د کیکر د لاندي د حضور ﷺ په لاس بـاندي بیعت کړے وو . دا آواز چي کله صحابهٔ واوریدلو نـو د حـضـور ﷺ نـه ئـي د حـفـاظت د پاره ګیره را تاؤ کړله . یو طـرف تـه کافرانو پرله پسي په حضور ﷺ باندي حملي کولے . بل طرف ته صحابهٔ د دغي حملو دمنع کولو د پاره لکه د غر پـه شـان ولاړ وو. حـضـور ﷺ دغـه سـاعـت یو مټـي خاوره راوا غسـتـلـه او د کافرانو په طرف ئي وویشتله . دغه خاوره د د دغـي لښـکـر هر کافر مشرك سترګو ته وورسیدله او د دغي په برکت مشرکان په شا شو . په دغه جنګ کښي د مسلمانانو نه صـرف څـلـور تـنـه شهیـدان شـوی وو او د کـافـرانو اویا تـنـه مردار شوی وو. ( 146,147 )

## غزوه طائف

کـوم وخـت چي په حنین کښي مسلمانانو ته بري ملاؤ شولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کافران په تيخته شو . په دغه تيخته کونکو کښې يو د هغه لښکر مشر مالك بن عوف هم وو . هغه د يو لښکر سره طائف طرف ته روان شو او هلته ئي ساه واغستله . حضور ﷺ ته چې پته ولګيدله چې مالك بن عوف په طائف کښې پناه اغستې ده نو طائف طرف ته روان شو. حضور ﷺ طائف ته د روانيدو نه مخکښې دا فرمان جاری کړۀ چې د حنين ټول مالِ غنيمت او قيديان دے په جعرانه( د ځائے نوم ) کښې راجمع کړے شي . حضور ﷺ او صحابهٓ په تيزے سره طائف ته اورسيدل . مالك بن عوف ته چې دمسلمانانو د راتلو پته ولګيدۀ نو د حفاظت د پاره ئي د طائف د قلعې دروازه په ځان پسې بنده کړه . مالك بن عوف د مخکښې نه د ځان سره ډيره غله ( د خوراك څيزونه ) جمع کړے وه . حضور ﷺ د صحابهٓ سره د دغې قلعې مخه ونيوله .او د منجنيق په ذريعه ئي په دغې قلعې د کاڼو ګزارونه وکړل .چې ورسره د قلعې ديوالونه مات شي . بل طرف ته کافرانو د بندے قعلې نه په مسلمانانو غشې راوورول . په هغې سره دولس مسلمانان شهيدان شو او ډير کسان له مسلمانانو نه زخميان شو . مسلمانان لا په دغه مقام ديره وو چې حضور ﷺ يو خواب وليدۀ چې د پيو يوه پيالۍ د حضور ﷺ په خدمت کښې پيش کړے شوه .يو بانګې په هغه لوخې کښې ټونګه ووهله چې دهغې سره هغه پيې تويې شو. حضور ﷺ دغه خوب سيدنا ابو بکر صديقٓ ته واورولو ، هغوي حضور ﷺ ته مشوره ورکړه چې معلوميږي داسې چې داقلعه اوس زمونږ لاسو ته نۀ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتـلـے . بیـا حضور ﷺ په دغي باره کښي د نوفل بن معاویه دیـلـمیؓ نه مشوره واغـسـتله .د نوفل بن معاویه دیلمي خبري هم د حضرت سیدنا صدیق اکبرؓ د خبري ملگرتیا کوله . د ابن سـعـد په روایت کښي دی . حضرت عمرؓ حضور ﷺ ته ووئیل چي اے د الـلّٰـه پیغمبره ! ﷺ دوی ته بد دعاوکړی .رسول اللّٰه ﷺ په جواب کښي حضرت عمرؓ ته اوفرمائیل اللّٰه تعالیٰ ماته د دي خبـري اجازت نۀ دے راکړے .حضرت عمرؓ د حضور ﷺ نـه تپـوس وکـړۀ نـو بیـا مـونـږتـه د دوی سره د جنگ کولو څۀ ضـرورت دے ؟ حـضـور ﷺ چي د حضرت عمرؓ خبره واوریدله نـو د روانیـدو فـرمـان ئي جاری کړۀ . او په روانه روانه ئي دا دعا وکـړۀ . اے الـلّٰـه ! ثقیف ته نیغه لار وښایه اودوی د اسلام سره زمـا خـوا لـه راولـے . د تاریخ کتابونو لیکلی دی چي دغه قلعه بیـا پـه خپـلـه فتح شوه . هغه ټول خلق مسلمانان شول . مالك بـن عـوف چـي د هـغـي قبیلي مشروه پخپله د حضور ﷺ په خدمت کښي حاضر شو او اسلام ئي قبول کړۀ . حضور ﷺ د طـائف نـه روان شـو او د ذی الـقـعـدي په پنځم تاریخ جعرانه( د ځـائـے نـوم ) ته وورسیدلو .بیا د جنگِ حنین ټول مالِ غنیمت ئي پـه مـسـلـمـانانو کښي تقسیم کړلو . په دغي مالِ غنیمت کښـي شپـږ زره قیـدیان ، څلیـریشت زره اوښان ، څلویښت زره چیلي ، اور څلور زره اوقیه سپین زر وو . په دغي مقام حضور ﷺ د هـوازن قبیـلـي په انتظار لس ورځـے تیـرے کـړے . چي کیـدے شي د هـوازن قبیلي خلق د خپلو خپلوانو د خلاصولو د پاره کـوشش وکړي او دلتـه راشي . خو هیڅ څوك هم د دغي

(c) ketabton.com: The Digital Library


قیدیانو د خلاصولو د پاره رانغلل . د ډیر انتظار نه پس حضور ﷺ هغه قیدیان په مسلمانانو کښې تقسیم کړل . د تقسیم نه وروستو د نهه تنو یوه ډله (وفد) چې د قبیله هوازن سره ئې تعلق لرلو د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه . هغوی اول اسلام قبول کړه . او بیا ئې د حضور ﷺ په لاس بیعت وکړۀ . بیا ئې د هغه خپلوخپلوانو چې په غزوه حنین کښې بندی جوړ شوی وو د پریښودلو حضور ﷺ ته درخواست وکړلو . دهغې قبیلې مشر ووئیل اے د اللّٰه پیغمبره ! ﷺ په دغه قیدی خلقو کښې ستا د پلار او مور له طرفه تروریانې، اوستا سره په ماشوم والی باندې مینه کونکې زنانه هم دی . که چرته ستا په شان تعلقات زمونږه بل چا سره وے .نو هغه به مونږ سره ډیره زیات مینه ، ګزاره او د رحم وکرم معامله کړے وے .ستاشان اومقام خو د ټولو خلقو نه اعلیٰ دے . مونږنن په مصیبت کښې یو . او زمونږ دا مصیبت ستانه پټ نه دے زمونږ سره د احسان معامله وکړئ . د دې په بدله کښې به اللّٰه تعالیٰ تاسو سره د احسان معامله وکړئ . حضور ﷺ ورته اوفرمائیل ماستاسو ډیر انتظار وکړۀ . اوس مالِ غنیمت تقسیم شوے دے . بیا هم تاسو په دوو څیزونو کښې یو خوښ کړے . ستا سو مال پکار دے یا ستاسو خپل خپلوان (چې قیدیان جوړې شوی دی) ؟ .هغه وفد( ډلې) حضور ﷺ ته ووئیل چې مونږ د مال تپوس نه کوؤ زمونږ خپل خلق ( چې تاسو سره قیدیان شوی دی ) پکار دی .چې هغوی ستاسو دقید نه راخلاص شي .حضور ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورته اوفرمائيل . په مالِ غنيمت کښي زما سره د بنو هاشم او دبني عبدالمطلب چي څومره حصه رسيدلے ده . هغه تولي ستاسو شوه .خو چي کومه حصه د نورو مسلمانانو رسيدلے ده . د هغي په باره کښي مالره د ماسپښين مونځ نه پس راشي . زۀ به نورو مسلمانانو ته ستاسو سفارش وکړم . بيا د ماسپښين مونځ نه پس هغه وفد( ډله) حضور ﷺ لره لاړه. نو حضور ﷺ يو ډيرښائسته پُراثر بيان وکړلو . د دغي بيان په برکت سره په يو وخت کښي دغه ټوله قبيله د غلامي نه ازاده شوه . ټولو مسلمانانو په خوشحالي سره هغه ټول خلق پريښودل . بيا د دغي واقعي نه وروستو حضور ﷺ د جعرانه(د ځائے نوم) نه مکي مکرمي ته د عمري د ادا کولو په نيت روان شو . هلته ئي عتاب بن اسيد د مکي مکرمي مشر ( والي) جوړ کړلو او معاذ بن جبلؓ ته ئي د دين د تعليم او تعلم ذمه داری ورپه غاړه کړه . حضور ﷺ په مکه مکرمه کښي دوه مياشتي او لس ورځے قيام وکړۀ . بيا د ذيقعدي په وويشتم تاريخ د صحابهؓ سره يو ځائے مديني منوري ته روان شو . ( 148,149,150 )

## د زکوٰة د راجمع کولو د فريضي آغاز

د طائف د سفر نه وروستو د هجرت په نهم کال حضور ﷺ مختلفو طرفونه ته د زکوٰة د اغستلو او راجمع کولو د پاره څۀ کسان وليږل . عيينه بن حصن فرازیؓ ئي بنو تميم قبيلي ته ، بريده بن الحصيبؓ ئي قبيله اسلم و غفار ته ، عباد بن بشرؓ ئي سليم او مزينه ته ، رافع بن مکيثؓ ئي جبينه ته ، عمرو بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



العاص ؓ ئي بني فزاره ته ، ضحاك بن سفيان ؓ ئي بنو كلاب ته ، بسر بن سفيان ؓ ئي بنو كعب ته ، ابن اللتبيه ازدیؓ ئي بنو ذبيان ته ، علاء بن الحضرمي ؓ ئي بحرين ته ، حضرت علیؓ ئي نجران ته ، عدی بن حاتم ؓ ئي قبليه طے او بنو اسد ته او مالك بن نويرةؓ ئي بنو حنظله ته وليږلو .( 151 )

## غزوه تبوك

حضور ﷺ په مدينه منوره کښي مقيم وه . دغه وخت حضور ﷺ ته خبر ورکړے شو چي روميان د اسلامي سلطلنت او د اسلام د ختمولو د پاره صلاح مشورے کوی او د دغي مقصد د پاره ئي ډيرلوئي لښکر تيار کړے دے . حضور ﷺ د هغوی سره د مقابلي دپاره د صحابهؓ نه د انفاق فی سبيل الله ( د الله په لاره کښي د خرچ کولو) مطالبه وکړۀ . په دغه موقع سيدنا صديق اكبرؓ د كور ټول سامان د حضور ﷺ په خدمت په پيش كړۀ . حضرت عمرؓ د كور د نيم سامان قرباني وركړۀ . حضرت عثمانؓ دري سوه اوښان سره د ( بوجهونو) سامانه او د زرو دينارو حضور ﷺ ته حواله كړل . هريو صحابیؓ په دغي موقع د خپل وس او توفيق مطابق د خرج كولو كوشش وكړۀ . مختصر دا چي حضور ﷺ د رجب المرجب په مياشت کښي د ديرش زره لښکر سره د مديني منوري نه تبوك ته روان شو. تبوك ته د رسيدو نه يوه ورځ وړاندي چي لا مسلمانان په لاره کښي وو حضور ﷺ صحابهؓ ته اوفرمائيل صبا چي نمر لږ ډير رابره شوی وی تاسو به د تبوك چيني ته ورسيږے . د حضور ﷺ د وينا او اطلاع مطابق صحابهؓ په صبا هم په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کوم وخت چې نبي کريم ﷺ او ملګري ورسره مسلمانان د
تبوك چينې ته ورسېدل . دوى چې کله هغه چينې لره نژدي
ورغلل نو د هغې نه يو يو څاڅکې بهيدلو( دغه چينه وچيدو
ته نـژدې وه ) . د حضـور ﷺ په حکم هغه وخت هغه يو يو
څاڅکې د اوبه په يو لوښي کښې راجمع کړے شو .بيا
حضـور ﷺ په هغه اوبه خپل لاسونه او خُله مبارکه کنګاله
کړۀ . بيا ئې هغه اوبۀ هغې چينې سره خواته توپي کړے .
د حضـور ﷺ په دغې عمل د دغې اوچې چينې نه د اوبو يوه
فـواره جاري شوه . دا اوبۀ دومره ډيرے وے . چې په هغې سره
د ټول لښکر تنده ماته شوه . بيا هم هغه شان هغه چينه جاري
وۀ .بيا حضور ﷺ حضرت معاذ بن جبل ؓ ته اوفرمائيل کۀ اللّٰه
تعالىٰ تالره ډير عمر درکړۀ نو تۀ به دا ځايونه په باغونو سره
ښکلي ووينې . ابن اسحاق مؤرخ ليکي چې هغه چينه
تراوسه پورې جاري ده . په تبوك کښې حضور ﷺ شل ورځے
پاتې شولو .روميان ويريدل . او د مقابلې نه په شا شو .
د دنيا خلقو د اسلام عظمت او طاقت وليدلو . تبوك سره نژدې
اهل جربه ، اذرع او د ايله په مشر ويره راغله مجبوراً
مسلمانانو سره ئې صلح وکړه او جزيې ورکولو ته تيار شو .
هم لدغې ځائے نه د حضور ﷺ په حکم حضرت خالد بن
وليد ؓ د څلورو سوو تنو سره د اکيدر د مقابلې دپاره روان شولو
حضور ﷺ حضرت خالد بن وليد ؓ ته فرمائيلي وو چې تاته
اکيدر په داسې حالت کښې ملاويږي چې هغه به ښکار کوي
. اکيدر د حضور ﷺ د اطلاع مطابق ښکار کولو . حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالدؓ هغي قيدي جوړ كړۀ او د حضور ﷺ په خدمت كښي پيش كړلو . حضور ﷺ ورسره په دوه زره اُوښانو ،اته سوه اسونو ،څلور سوه زغرو، او څلور سوه ډهالونو باندي صلح ( راضي نامه) وكړۀ .په تبوك كښي حضور ﷺ شل ورځے قيام وكړۀ . بيا حضور ﷺ له تبوك نه مديني منوري ته واپسي وكړۀ .( 152,153 )

## د مسجد ضرار معامله

د تبوك نه واپسي كښي حضور ﷺ چي ذي آوان ته راورسيدلو نو مالك بن دخشم ، او معن بن عديؓ ئي د مسجد (جمات) ضرار د ورانولو د پاره وليږل. هغوى مسجدِ ضرار وران كړلو . دا هغه جمات وو چي په كوم كښي به منافقينو د مسلمانانو خلاف صلاح مشوري كولے . او د اسلام خلاف به استعماليدلو .دا هغه وخت جوړ شوے وو كله چي حضور ﷺ تبوك ته په سفر روان وو په لاره كښي منافقينو حضور ﷺ ته درخواست كړے وو چي تاسو دغي جمات ته دمونځ كولو د پاره يووار راشي چي بركت پكښي راشي او مقبوليت اومومى . حضور ورته په هغه موقع وئيلي وو چي اوس خو زۀ تبوك ته روان يم . واپسي كښي به بيا ګورو. ابن هشام ليكي چي حضور ﷺ د سويلم يهودى د كور د سوزولو حكم هم وركړے وۀ . په دغه كور كښي به منافقين راجمع كيدل او د حضور ﷺ خلاف مشوري به ئي كولے . حضرت طلحهؓ د يو څو تنو سره دغه كار تمام كړلو . د شعبان اخيري ورځي وے يا درمضان اولني ورځے وے حضور ﷺ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدینې منورې په مزکه قدم کېښودلو . مدینې منورې ته د داخلیدو نه پس حضور ﷺ اول مسجد نبوی ته تشریف یوسلو هلته ئې دورکعته مونځ وکړه . د مونځ نه پس څۀ لږ ساعت د خلقو د ملاقاتونو د پاره کېنساتلو . بیا ئې خپل کورته تشریف یوسلو . ( 154 )

## د متخلّفینو معامله

هغه خلق چې غزوۀ تبوك په موقع د حضور ﷺ نه په څۀ عذر پاتې شوی وو . یا داسې خلق چې د نفاق په وجه په غزوه تبوك کښې نۀ وو شامل شوی . د دوی ټولو په باره کښې حضور ﷺ ته د وحی په ذریعه پته ولګیدله . منافقینو په دروغه قسمونه وخوړل او ځان ئې د ظاهری دنیاوی سزا نه بچ کړلو . دغه شان هغه صحابهؓ چې د څۀ عذر په وجه پاتې شوی وو د هغوی عذر هم قبول کړے شو . درې صحابهؓ داسې وو چې هغوی خپل څۀ عذر پیش نۀ کړے شو . حضور ﷺ د هغوی سره د هر قسمه تعلقات قائمولو نه منع وکړه . بیا د ډیر صبر او امتحان نه پس د هغوی د ندامت ذکر قرآن کښې راغے . ( په سورة التوبه آیت نمبر ۱۱۷، ۱۱۸ او آیت نمبر ۱۱۹ کښې د دوی د حالت او کیفیت ذکر راغلے دے . ) او اللّٰه تعالیٰ ئې توبه قبوله کړه . ( 155 )

## مختلف وفدونه ( جرګے )

هرکله چې حضور ﷺ مدینې منورې ته راوورسیدلو . نو پرله پسې د حضور ﷺ په خدمت کښې وفدونه ( جرګې )

(c) ketabton.com: The Digital Library


راتلل شوروشو . حضور ﷺ لره د وفدونو مقصد د دین د زده کړي نه علاوه د مسلمانانو سره تعلقات جوړول هم وو. د هغې وفدونو تعداد اویا پوري یادیږی په هغې کښې مشهور وفدونه دا دی .وفدِ ثقیف، وفدِ بنی تمیم ، وفدِ بنی فزاره ، وفدِ کنده ، وفد بنی عبدالقیس ، وفد بنی حنفیه ، وفد بنی قحطان ، وفد بنی الحارث ، وفد بنی فزاره ، وفدِ بنی اسد ، وفد بهراء وفدِ عزره وفد بلی ،وفد بنی عامر بن صعصعه ( 156 )

## اولني حج

د حضور ﷺ په امر د هجرت په نهم کال د ذیقعدي په میاشت کښې حضرت سیدنا صدیق اکبرؓ د دري سووتنو سره د حج د اداکولو د پاره مکي مکرمي ته روان شو.بیا په دغه سفر کښې حضرت علیؓ هم ورسره شامل شولو چي د سورتِ برآت آیاتونه د حج د ادا کولو په موقع تلاوت کړی . د حضرت ابوبکر صدیقؓ په مشري کښې مسلمانانو د حج تهول رکنونه ادا کړل بیا جمره عقبې سره د قربانۍ په ورځ ( یوم النحر) حضرت علیؓ د حضور ﷺ د فرمان مطابق هغه آیاتونه تلاوت کړل . چي د کومو آیاتونو د تلاوت ورته د حضور ﷺ له طرفه حکم شوی وو. په دغې ورځ دا اعلان و شو . د راروان کال نه به یو مشرك ته هم د حج د اداکولو اجازت نهٔ وی ، نهٔ به چاته په برینده د طواف کولو اجازت وی . چي د چا د حضور ﷺ سره معاهده شوي ده . د هغې عهد به پابندی کولے شی . او چي د چا سره د حضور ﷺ معاهده او عهد نشته هغوی ته څلور میاشتې مهلت دے . کهٔ په دي څلورو میاشتو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ئي اسلام قبول کړۀ . نو ډيره ښۀ ده . خو کۀ اسلام ئي قبول نۀ کړلو . نو بيا چې کوم ځائے کښې وونيولے شو ښامخا به قتليږي . د حج د رکنونو د ادا کولو او د دغي اعلان نه وروستو سيدنا صديق اکبرؓ مديني منورې ته واپسي وکړله . ( 157 )

## د حضور ﷺ د حج د پاره سفر

د هجرت په لسم کال د ذيقعدې په مياشت کښې حضور ﷺ د حج د اداکولو اراده وکړله . او د يو اعلان کونکي په ذريعه دغه خبر په ټول عربو کښې خور شو . يو لوئې تعداد د خلقو په دغه موقع د حضور ﷺ سره يو ځائے د حج د ادا کولو د پاره تيار شو. د ذيعقدې په شپږيشتم تاريخ حضور ﷺ د دغي عظيم عمل د پاره غسل وکړۀ بيا ئي کپړے بدلې کړے . د هغي نه وروستو د مديني منورې نه ذوالحليفه ته ئي تشريف يوسلو . حضور ﷺ په ذوالحليفه کښې شپه تيره کړۀ. بيا د دغي رواني مياشت په وويشتم تاريخ ئي دوباره غسل وکړۀ . بيائي دو رکعته مونځ ادا کړه او احرام ئي وتړلو . په قصوئ اوښه باندې سور شولو او په اوچت آواز ئي دا لاندې تکي ادا کړل .

لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ .

حضرت جابرؓ فرمائي د حضور ﷺ نه مخکښې وروستو ، ښي طرف ته او ګس طرف ته د خلقو يو سمندر وۀ . مؤرخينو ليکلي چې دغه وخت د صحابهٌ تعداد د يو لاکه ( ۱۰۰۰۰۰ ) نه بره وو. ټولو د حضور ﷺ سره په جمع دغه برنې تکي وئيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



.بيا ددوى آواز به دغرونو نه راتمبيدلو . حضور ﷺ د صحابهؓ سره يوځائے د ذوالحجي په پنځم تاريخ مكي مكرمي ته داخل شولو . مسلمانانو د حضور ﷺ سره يو ځائے د بيت اللّه (كعبي) طواف وكړۀ . بيا حضور ﷺ مقام ابراهيم كښي دوه ركعته نفل ادا كړۀ.د نفلو داداكولو نه پس حضور ﷺ صفا غرته اوختلو . او دا ئي ارشاد اوفرمائيل : د اللّه نه علاوه بل څوك د عبادت لائق نشته .نۀ هغۀ شريك لري . د هغۀ بادشاهى ده او صرف د هغۀ تعريف دے .هغۀ مړه كول او ژوندي كول كوى .په هرڅيز باندي قدرت لرى . د هغه يوذات نه علاوه بل څوك خدائي نشته . هغه يو اللّه دے .هغۀ خپله وعده پوره كړۀ .دخپل بنده ئي مرستۀ( مدد) وكړۀ .او په يو ځائے ئي ټولو ته ماتى( شكست) وركړۀ . حضورﷺ د عمري د اداكولو نه پس احرام كهلاؤ كړلو او صحابهؓ ته ئي هم د احرام د كهلاوولو امر وكړه. په دغي موقع حضرت عليؓ د يمن د حاجيانو سره يو ځائے مكي مكرمي ته راغلے .د زيارت ورځ (د ذوالحجي اتهم تاريخ )حضورﷺ د نورو مسلمانانو سره په منىٰ كښي تيره كړه .بيا په صبا د سحرختو نه وروستو د ذوالحجي په نهم تاريخ حضور ﷺ د نورو مسلمانانو سره د منىٰ نه روان شو . اوميدانِ عرفات كښي ديره شو . د ماسپښين نه وروستو او د ماښام نه مخكښي په دغه موقع حضور ﷺ د قصوىٰ ( اوښه) د پاسه په ناسته يوه خطبه ارشاد اوفرمائيله چي ورته خطبه حجة الوداع وئيلے شى . هركله چي حضورﷺ خپله خطبه ختمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړله . حضرت بلال ؓ آذان وکړۀ . بيا حضور ﷺ د ماسپښين او مازيګر مونځونه يو ځائے ادا کړل . د مونځ نه پس حضور ﷺ بيا په اوښه سور شولو اود مسلمانانو سره موقف ( د يو ځائے نوم) ته ئي تشريف يوسلو. په دغه ځائے حضور ﷺ د قبلې په رُخ يوه عظيم الشانه دعا وکړله . بيا د دغي مقام نه وروستو حضور ﷺ مزدلفې ته تشريف يوسلو هلته کښې حضور ﷺ د ماښام او ماسخوتن دوه مونځونه په يو وخت کښې ادا کړل . حضور ﷺ او مسلمانانو شپه په مزدلفه کښې تيره کړه . بيا په صبا سحر وختي د سحر مونځ نه وروستو حضور ﷺ د صحابهؓ سره يو ځائے د مزدلفې نه روان شو . بيا جمره ئي په کاڼو ووشتله او دغه رنګ نور ارکان په ترتيب سره حضور ﷺ د ټولو مسلمانانو سره يو ځائے ادا کړل . د حج د ادا کولو نه پس رسول الله ﷺ مسلمانان خپلو خپلو علاقو ته رخصت کړل . او پخپله حضور ﷺ د انصارو او مهاجرينو سره يو ځائے د ذوالحجې په څلوارلسم تاريخ د مکې مکرمې نه مدينې منورې ته راروان شولو. ( 158 )

## د حضور ﷺ د اٰخرت سفر

مؤرخينو ليکلي دي چې د صفر مياشت کښې يوپيره د نيمې شپې حضور ﷺ جنت البقيع( د مسلمانانو مقبره) ته تشريف يوسلو .اود هغوی د پاره ئي د مولٰی کريم نه دعا اوغوښتله .بيا ئي خپل کور ته واپسی وکړۀ . هرکله چې حضور ﷺ کور ته ئي تشريف راوړلو نو په طبيعت کښې ئي درودنه والې( بيمارې) وۀ . دا ورځ د شورو وۀ . او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ام المؤمنين حضرت ميمونهؓ سره په كور كښي د پاتي كيدو
نمبر وۀ. حضور ﷺ د خپل عادت موافق حضرت ميمونهؓ كره
تشريف يوسلو . په صبا چي بيا په ازوج مطهراتؓ كښي د چا
نمبر وۀ حضور ﷺ د هغي بی بی سره ارام وكړۀ . بيا په
دريمه ورځ د بلے بي بي سره پاتے شو . دغه شان څلورمه او
پنځمه ورځ تيره شوه .په دغه پنځو ورځو كښي د حضور ﷺ
بيماري كمه نۀ شوه . نو حضور ﷺ د نورو بيبانو په مشوره د
حضرت عائشيؓ صديقي سره ديره شو . دبيماري په دغه
ورځو كښي حضرت ابوبكرصديقؓ د رسول الله ﷺ په ځائے
امامت كولو . تركوم وخته پوري چي حضور ﷺ جمات ته د
تلو راتلو طاقت لروتر هغه وخته پوري حضور ﷺ امامت
كولو خو چي كله دغه طاقت هم باقي پاتي نه شو نو بيا د
حضور ﷺ په حكم حضرت ابوبكر صديقؓ امامت شورو كړۀ
. د حضور ﷺ د وفات نه څلور ورځي مخكښي د ماسپښين
وخت كښي حضور ﷺ مسجد نبوی ﷺ ته تشريف يوسلو
جمع ولاړه وه . حضرت ابوبكرصديقؓ د مصلي نه
وروستو كيدل غوښتل خو حضور ﷺ په اشاره سره منع كړۀ.
حضور ﷺ په مونځ كښي د حضرت ابوبكرصديقؓ سره
خواته كيناستلو . دمونځ نه پس حضور ﷺ يوه مختصره
خطبه ارشاد اوفرمائيله . بيا د هغي خطبي نه وروستو حضور
ﷺ خپلي حجري مباركي ته تشريف يوسلو. د حضور ﷺ په
بيماری په دغه ورځو كښي يوه ورځ حضور ﷺ د حجري
مباركي پرده اوچته كړۀ . هغه وخت حضرت سيدنا ابوبكر

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدیقؓ پـه مـصلـه مـونځ تـه ولاړ وو. حضرت ابوبکر صدیقؓ
چي حـضـور ﷺ ولیـدهٔ نو مصله ئي حضور ﷺ ته پرېښودل
غـوښـتـل . خـو د حـضـور ﷺ پـه امـر سره راروستو نه شو . بیا
حـضـور ﷺ د حـجـري پـرده راښـکلـه . د دغي واقعي نـه پـس
دوباره حضور ﷺ مسجد نبوی ته راښکاره نهٔ شو . هم په دغه
بیـماری کـښـي د ربیـع الاول پـه میاشت کـښي د مشهور قول
مـطـابق پـه دولـسـم تـاریـخ حـضـور ﷺ د دي دنیا نـه بلي دنیا
(آخـرت) تـه پـرده وکـړلـه . انـا للّٰـه وانـا الیـه راجعـون .
دغـه وخـت د صـحـیـح بـخـاری د روایـت مـطـابـق د
حضور ﷺ عمر شریف دري شپیته (٦٣) کاله وهٔ .( 159 )

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذ و مصادر

( 1 ) مولانا ادریس کاندهلوی ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۱ ص ۳۵ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهٔ

( 2 ) ابن سعد ، محمد (۲۳۰ ه) الطبقات الکبریٰ ، ج ۱ ص ۵۹ بیروت ، دارالمعرفة

( 3 ) مولانا ادریس کاندهلوی ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۱ ص ۳۵ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهٔ

( 4 ) مولانا ادریس کاندهلوی ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۱ ص ۶۰ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهٔ

( 5 ) مولانا ادریس کاندهلوی ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۱ ص ۶۰ ، ۶۱ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهٔ

( 6 ) مولانا ادریس کاندهلوی ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۱ ص ۶۴ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهٔ

( 7 ) حافظ علاؤ الدین ، سیرت مغلطائی ص ۷ ، بحواله سیرت خاتم الانبیاء ﷺ مفتی محمد شفیعؒ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

( 8 ) ابن حجر العسقلانیؒ ، احمد بن علی ( ۸۵۲ ه ) فتح الباری شرح صحیح البخاری ، ج ۷ ص ۱۰۲ بیروت ، دارالمعرفه

( 9 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ، شرح موطا امام مالکؒ ج ۴ ص ۲۷۱ ، قاهره ، مکتبه استقامیه

( 10 ) مولانا ادریس کاندهلوی ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۱ ص ۷۴،۷۵ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهٔ

( 11 ) ابن هشام ، ابو محمد عبدالملک (۲۱۸ ه) سیرة النبی ﷺ ج ۱ ص ۱۷۳ بیروت، دارالفکر

( 12 )ابن هشام ، ابو محمد عبدالملک (۲۱۸ ه) سیرة النبی ﷺ ج ۱ ص ۵۶ بیروت دارالفکر

( 13 ) الخائص الکبریٰ ، ج ۱ ص ۵۵ ، بیروت . دارالکتب العلمیه

( 14 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۱ ص ۱۶۰ .... ۱۶۳ مصر ، مطبع ازهریه

( 15 ) حاکم ، ابو عبدالله محمد بن عبدالله (۸۵۱ ه) المستدرک ج ۲ ص ۶۰۳ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library




رياض ، مكتبة المعارف

( 16 )ابن سيد الناس ، محمد بن محمد شافعیؒ ، (۷۳۴ ه) عیون الاثر فی فنون المغازی والشمائل والسير ، ج ۱ ص ۴۰ ، بیروت ، دارالمعرفه

( 17 ) حافظ علاؤ الدین ، سیرت مغلطائی ص ۱۰ ، بحواله سیرت خاتم الانبیاء ﷺ ص۲۷ مفتی محمد شفیعؒ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

( 18 )ابن هشام ، ابو محمد عبدالملك (۲۱۸ ه) سيرة النبی ﷺ ج ۱ ص ۲۰۱ بیروت دارالفکر

( 19 )ابن سعد ، محمد (۲۳۰ ه) الطبقات الکبریٰ ، ج ۱ ص ۱۲۸،۱۲۹ بیروت ، دارالمعرفة

( 20 ) سیوطی ، جلال الدین عبدالرحمٰن (۹۱۱ ه) الخصائص الکبریٰ ، ج ۱ ص ۹۱ ، بیروت ، دارالکتب العلمیه

( 21 )مولانا ادریس کاندهلویؒ ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۱ ص ۹۹،۱۰۰ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهؓ

( 22 )سهیلی ، ابوالقاسم عبدالرحمٰن بن عبدالله (۵۸۱ ه) الروض الانف فی تفسیر السیرة النبویة لابن هشام ج ۱ ص ۱۲۲ قاهره ، مکتبة الکلیات

( 23 ) مولانا ادریس کاندهلویؒ ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۱ ص ۱۰۹ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهؓ

( 24 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۱ ص ۲۰۲ مصر ، مطبع ازهریه

( 25 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ ه) الاصابه فی تمییز الصحابهؓ ج ۶ ص ۲۸۲ بیروت ، دارالاحیاء

( 26 ) ابن عبدالبر الاندلسی ، ابو عمر یوسف بن عبدالله ( ۴۶۳ ه) الاستیعاب فی معرفة الاصحابؓ ج ۴ ص ۳۱۱ ، حیدرآباد ، دائرة المعارف

( 27 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ ه) الاصابه فی تمییز الصحابهؓ ج ۴ ص ۳۱۲ بیروت ، دارالاحیاء

( 28 )ابن عبدالبر الاندلسی ، ابو عمر یوسف بن عبدالله (۴۶۳ه) ، الاستیعاب فی معرفة الاصحاب ج ۴ ص ۲۴۶ ، حیدر آباد دکن ،دائرة المعارف

( 29 ) مدارج النبوة ج ۳ ص ۸۲

( 30 )ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ ه) الاصابه فی تمییز الصحابهؓ ج ۴ ص ۳۰۴ بیروت ، دارالاحیاء

( 31 ) ابن اثیر ، ابوالحسن علی بن ابی الکریم ، (۶۳۰ ه ) اسدالغابه فی معرفة الصحابهؓ ج ۵ ص ۴۵۶ ، مکتبه اسلامیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



( 32 )ابن عبدالبر الاندلسی ، ابو عمر یوسف بن عبداللّٰہ ( ۴۶۳ ہ ) الاستیعاب فی معرفة الاصحابؓ ج ۴ ص ۳۰۲ ، حیدرآباد ، دائرة المعارف

( 33 ) سیر اعلام النبلاء ج ۲ ص ۲۵۲

( 34 ) ابن عبدالبر الاندلسی ، ابو عمر یوسف بن عبداللّٰہ (۴۶۳ہ) ، الاستیعاب فی معرفة الاصحاب ج ۴ ص ۴۸۷ ، حیدر آباد دکن ،دائرة المعارف

( 35 )زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۳ ص ۲۰۲ مصر، مطبع از هریه

( 36 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ ہ) الاصابه فی تمییز الصحابۃ ج ۴ ص ۳۷۷ بیروت ، دارالاحیاء

( 37 ) ابن عبدالبر الاندلسی ، ابو عمر یوسف بن عبداللّٰہ ( ۴۶۳ ہ ) الاستیعاب فی معرفة الاصحابؓ ج ۴ ص ۳۷۷ ، حیدرآباد ، دائرة المعارف

( 38 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ ہ) الاصابه فی تمییز الصحابۃ ج ۴ ص ۳۷۹ بیروت ، دارالاحیاء

( 39 ) حضور ﷺ کی صاحبزادیاں ص ۴۵

( 40 ) ابن اثیر ، ابوالحسن علی بن ابی الکریم (۶۴۰ ہ ) الکامل فی التاریخ ج ۲ ص ۳۱ بیروت دارالکتاب العربی

( 41 ) ابن هشام ، ابو محمد عبدالملک (۲۱۸ہ) سیرة النبی ﷺ ج ۳ ص ۲۲۳ بیروت دارالفکر

( 42 )زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۳ ص ۲۲۷ مصر، مطبع از هریه

( 43 ) مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۳۲ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویةؓ

( 44 )مولانا ادریس کاندھلویؒ ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۳ ص ۱۶۶،۱۶۷ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرةؓ

( 45 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۳۲ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویةؓ

( 46 )سیر اعلام النبلاء ج ۲ ص ۲۲۹

( 47 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ ہ) الاصابه فی تمییز الصحابۃ ج ۴ ص ۲۷۳ بیروت ، دارالاحیاء

( 48 ) اصح السیر ص ۵۸۳

( 49 )ابن سید الناس ، محمد بن محمد شافعیؒ ، (۷۳۴ہ) عیون الاثر فی فنون المغازی والشمائل والسیر ، ج ۲ ص ۳۰۳ ، بیروت ، دارالمعرفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



( 50 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۳ ص ۲۴۹ مصر ،
مطبع ازهریه
( 51 )ابن اثیر ، ابوالحسن علی بن ابی الکریم (۶۴۰ ه ) الکامل فی التاریخ ج ۲ ص
۳۰۸ بیروت دارالکتاب العربی
( 52 )اصح السمیر ص ۵۷۹
( 53 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ ه) الاصابه فی تمییز الصحابهٓ ج ۴
ص ۴۵۷ بیروت ، دارالاحیاء
( 54 ) ابن کثیر ، اسماعیل بن عمر ، (۷۷۴ ه ) البدایه والنهایه فی التاریخ ج ۴
ص۱۴۶ لاهور ، مکتبه قدوسیه
( 55 )ابن عبدالبر الاندلسی ، ابو عمر یوسف بن عبدالله ( ۴۶۳ ه ) الاستیعاب فی
معرفة الاصحابٓ ج ۴ ص ۳۱۴ ، حیدرآباد ، دائرة المعارف
( 56 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ ه) الاصابه فی تمییز الصحابهٓ ج ۴
ص ۳۴۶ بیروت ، دار الاحیاء
( 57 ) ابن عبدالبر الاندلسی ، ابو عمر یوسف بن عبدالله ( ۴۶۳ ه ) الاستیعاب فی
معرفة الاصحابٓ ج ۴ ص ۳۴۹ ، حیدرآباد ، دائرة المعارف
( 58 )اصح السمیر ص ۶۰۲
( 59 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ ه) الاصابه فی تمییز الصحابهٓ ج ۴
ص ۲۵۶ بیروت ، دارالاحیاء
( 60 ) سیر اعلام النبلاء ج ۲ ص ۲۶۳
( 61 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ ه) الاصابه فی تمییز الصحابهٓ ج ۴
ص ۲۶۵ بیروت ، دارالاحیاء
( 62 ) سیر اعلام النبلاء ج ۲۳۹
( 63 )طبری ، ابو جعفر محمد بن جریر ، (۳۱۰ ه ) تاریخ الامم والملوک ، ج ۲ ص
۲۱۷ قاهره ، دارالمعارف
( 64 ) مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۴۰ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر
معاویهؓ
( 65 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۱ ص ۲۰۳ .... ۲۰۶
مصر ، مطبع ازهریه
( 66 )ابن هشام ، ابو محمد عبدالملک (۲۱۸ه) سیرة النبی ﷺ ج ۱ ص ۲۱۰
بیروت دارالفکر
( 67 )طبری ، ابو جعفر محمد بن جریر ، (۳۱۰ ه ) تاریخ الامم والملوک ، ج ۱ ص
۱۱۳۹ قاهره ، دارالمعارف

(c) ketabton.com: The Digital Library



( 68 ) سید سلیمان ندوی ، رحمت عالم ﷺ ص ۲۴ کراچی ، قدیمی کتب خانه

( 69 )سید سلیمان ندوی ، رحمت عالم ﷺ ص ۲۴ کراچی ، قدیمی کتب خانه

( 70 )ابن کثیر ، اسماعیل بن عمر ، (۷۷۴ ه ) البدایه والنهایه فی التاریخ ج ۳ ص ۲۴ لاهور ، مکتبه قدوسیه

( 71 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۲۵ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

( 72 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۲۷ ، ۲۸، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

(73 ) مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۲٦ ، ۲۷ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

( 74 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۲۹،۲۸ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

( 75 )ابن سعد ، محمد (۲۳۰ ه) الطبقات الکبری ، ج ۱ ص ۱۳۹ بیروت ، دارالمعرفة

( 76 )ابن سید الناس ، محمد بن محمد شافعیؒ ، (۷۳۴ ه) عیون الاثر فی فنون المغازی والشمائل والسیر ، ج ۱ ص ۱۳۹ ، بیروت ، دارالمعرفه

( 77 ) ابن هشام ، ابو محمد عبدالملك (۲۱۸ ه) سیرة النبی ﷺ ج ۱ ص ۱۲۲ بیروت دارالفکر

( 78 ) ابن قیم الجوزی ، محمد بن ابی بکر(۷۵۱ ه ) زاد المعاد فی هدی خیر العباد ج ۲ ص ۳٦ . بیروت

( 79 )ابن حجر العسقلانیؒ ، احمد بن علی (۸۵۲ ه ) فتح الباری شرح صحیح البخاری ، ج ۷ ص ۱۴٦ بیروت ، دارالمعرفه

( 80 ) ابن هشام ، ابو محمد عبدالملك (۲۱۸ ه) سیرة النبی ﷺ ج ۱ ص ۳۵۳....۳۴۴ بیروت دارالفکر

( 81 )مولانا ادریس کاندهلویؒ ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۱ ص ۲۳۸،۲۳۷ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهؓ

( 82 ) حافظ علاؤ الدین ، سیرت مغلطائی ص ۲۵ بحواله سیرت خاتم الانبیاء ﷺ

( 83 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۱ ص ۲۹٦،۲۹۱ مصر ، مطبع از هریه

( 84 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۵۳ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

( 85 ) نووی ، ابوزکریا یحیٰ بن شرف (٦۷٦ ه ) شرح صحیح مسلم باب الاسراء ج ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



ص ۱۱۳ ، بیروت ، دارالفکر

( 86 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرۃ خاتم الانبیاء ﷺ ص ۵۳، ۵۴ ، اسلام آباد ، مکتبہ امیر معاویۃ

( 87 ) سیوطی ، جلال الدین عبدالرحمٰن (۹۱۱ ھ ) الخصائص الکبریٰ ج ۱ ص ۱۵٦ ، بیروت، دارالکتب العلمیہ

( 88 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرۃ خاتم الانبیاء ﷺ ص ۵٦ ، اسلام آباد ، مکتبہ امیر معاویۃ

( 89 ) مفتی محمد شفیعؒ ، سیرۃ خاتم الانبیاء ﷺ ص ۵۸ ، اسلام آباد ، مکتبہ امیر معاویۃ

( 90 ) سہیلی ، ابوالقاسم عبدالرحمٰن بن عبداللّٰہ (۵۸۱ ھ) الروض الانف فی تفسیر السیرۃ النبویۃ لابن ہشام ج ۱ ص ۲٦۹ قاھرہ ، مکتبۃ الکلیات

( 91 ) ابن ہشام ، ابو محمد عبدالملک (۲۱۸ ھ) سیرۃ النبی ﷺ ج ۲ ص ۹۴ بیروت دارالفکر

( 92 )ابن سید الناس ، محمد بن محمد شافعیؒ ، (۷۳۴ ھ) عیون الاثر فی فنون المغازی والشمائل والسیر ، ج ۱ ص ۱۷۷ ، بیروت ، دارالمعرفہ

( 93 )زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواھب لدینہ ج ۱ ص ۳۲۱ مصر ، مطبع ازھریہ

( 94 ) ابن سعد ، محمد ( ۲۳۰ ھ ) الطبقات الکبریٰ ج ۱ ص ۱۵۲ بیروت

( 95 )مولانا ادریس کاندھلویؒ ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۱ ص ۳۱۳،۳۱۴ ، لاھور ، مکتبہ عشرہ مبشرۃ

( 96 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ھ) فتح الباری شرح صحیح البخاری ج ۷ ص ۱۸۷ بیروت ، دارالمعرفۃ

( 97 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرۃ خاتم الانبیاء ﷺ ص ۹۵ ، اسلام آباد ، مکتبہ امیر معاویۃ

( 98 ) ابن ہشام ، ابو محمد عبدالملک (۲۱۸ ھ) سیرۃ النبی ﷺ ج ۲ ص ۱۱۱ بیروت دارالفکر

( 99 طبری ، ابوجعفر محمد بن جریر ، (۳۱۰ ھ ) تاریخ الامم والملوک ، ج ۲ ص ۳۹۴، ۳۹۵ قاھرہ ، دارالمعارف

(100)ابن کثیر ، اسماعیل بن عمر ، (۷۷۴ ھ ) البدایہ والنہایہ فی التاریخ ج ۳ ص ۲۱۳ لاھور ، مکتبہ قدوسیہ

( 101 )مولانا ادریس کاندھلویؒ ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۱ ص ۳۴۷،۳۴۸ ، لاھور ، مکتبہ عشرہ مبشرۃ

(c) ketabton.com: The Digital Library



( 102 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۱۰۲ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

( 103 )مولانا ادریس کاند هلویؒ ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۱ ص ۳۹۲ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهؓ

( 104 )ابن سید الناس ، محمد بن محمد شافعیؒ ، (۷۳۴ ه) عیون الاثر فی فنون المغازی والشمائل والسیر ، ج ۱ ص ۲۳۰ ، بیروت ، دارالمعرفه

( 105 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ه) فتح الباری شرح صحیح البخاری ج ۱ ص ۱۳۳ بیروت ، دار المعرفة

( 106 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ، شرح مواهب لدینه ج ۱ ص ۳۹۷ مصر ، مطبع از هریه

( 107 ) ابن هشام ، ابو محمد عبدالملك (۲۱۸ه) سیرة النبی ﷺ ج ۲ ص ۲٦۷ بیروت دارالفکر

( 108 ) مولانا ادریس کاند هلویؒ ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۲ ص ۵۴....۱۰۵ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهؓ

( 109 ) ابن سعد ، محمد ( ۲۳۰ ه ) الطبقات الکبریٰ ج ۱ ص ۱۴ بیروت

( 110 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۸۸ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

(111 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۸۸ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

( 112 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۸۹ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

( 113 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ، شرح مواهب لدینه ج ۲ ص ۳۳ مصر ، مطبع از هریه

( 114 )ابن کثیر ، اسماعیل بن عمر ، (۷۷۴ ه ) البدایه والنهایه فی التاریخ ج ۴ ص ۳ لاهور ، مکتبه قدوسیه

( 115 ) ابن هشام ، ابو محمد عبدالملك (۲۱۸ه) سیرة النبی ﷺ ج ۲ ص ۴۲٦ بیروت دارالفکر

( 116 ) ابن سعد ، محمد ( ۲۳۰ ه ) الطبقات الکبریٰ ج ۲ ص ۲۸۹ بیروت

( 117 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ص ۹۳ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

( 118 )ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ه) فتح الباری شرح صحیح البخاری ج ۷ ص ۲۹۱ بیروت ، دارالمعرفة

(c) ketabton.com: The Digital Library



( 119 )ابن سعد ، محمد ( ۲۳۰ ھ ) الطبقات الکبریٰ ج ۲ ص ۳۹ بیروت

( 120 )مولانا ادریس کاند هلوی ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۲ ص ۲۳۱،۲۳۰ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهٌ

( 121 ) ابن سعد ، محمد ( ۲۳۰ ھ ) الطبقات الکبریٰ ج ۲ ص ۴۷ بیروت

( 122 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۲ ص ۱۱۰، ۱۲۶ مصر ، مطبع ازهریه

( 123 )سهیلی ، ابوالقاسم عبدالرحمٰن بن عبداللّٰه (۵۸۱ ه) الروض الانف فی تفسیر السیرة النبویة لابن هشام ج ۲ ص ۹۳ قاهره ، مکتبة الکلیات

( 124 )ابن کثیر ، اسماعیل بن عمر ، (۷۷۴ ه ) البدایه والنهایه فی التاریخ ج ۴ ص ۱۲۸ لاهور ، مکتبه قدوسیه

( 125 )ابن سعد ، محمد ( ۲۳۰ ه ) الطبقات الکبریٰ ج ۲ ص ۹۵ بیروت

( 126 )ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ه) فتح الباری شرح صحیح البخاری ج ۵ ص ۲۴۲ ...۲۴۵ بیروت ، دارالمعرفة

( 127 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۲ ص ۲۰۶ .... ۲۰۸ مصر ، مطبع ازهریه

( 128 ) سهیلی ، ابوالقاسم عبدالرحمٰن بن عبداللّٰه (۵۸۱ ه) الروض الانف فی تفسیر السیرة النبویة لابن هشام ج ۲ ص ۲۳۳ قاهره ، مکتبة الکلیات

( 129 )مفتی محمد شفیعؒ ، سیرة خاتم الانبیاء ﷺ ، اسلام آباد ، مکتبه امیر معاویهؓ

( 130 )ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ه) فتح الباری شرح صحیح البخاری ج ۷ ص ۳۵۶ بیروت ، دارالمعرفة

( 131 ) ابن هشام ، ابو محمد عبدالملك (۲۱۸ه) سیرة النبی ﷺ ج ۲ ص ۳۸۰ بیروت دارالفکر

( 132 )ابن سید الناس ، محمد بن محمد شافعیؒ ، (۷۳۴ ه) عیون الاثر فی فنون المغازي والشمائل والسیر ، ج ۲ ص ۱۳۲ ، بیروت ، دارالمعرفه

( 133 )حلبی ، علی بن برهان الدین ( ۱۰۴۴ ه ) السیرة الحلبیة فی سیرة الامین المامون ، ج ۲ ص ۱۶۴ ، بیروت ، دارالمعرفة

( 134 ) ابن هشام ، ابو محمد عبدالملك (۲۱۸ه) سیرة النبی ﷺ ج ۳ ص ۴۰۸ بیروت دارالفکر

( 135 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ه) فتح الباری شرح صحیح البخاری ج ۷ ص ۳۶۰ بیروت ، دارالمعرفة

( 136 )ابن سعد ، محمد (۲۳۰ه ) الطبقات الکبریٰ ، ج ص بیروت ، دارالمعرفة

( 137 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۲ ص ۲۵۴ مصر ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطبع از هریه

( 138 )ابن سعد ، محمد ( ۲۳۰ ه ) الطبقات الکبری ج ۲ ص ۱۲۴ بیروت

( 139 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۲ ص ۲۶۶ مصر ،

مطبع از هریه

( 140 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ه) فتح الباری شرح صحیح

البخاری ج ۷ ص ۳۹۲ بیروت ، دارالمعرفة

( 141 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۲ ص ۲۶۹ مصر ،

مطبع از هریه

( 142 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ه) فتح الباری شرح صحیح

البخاری ج ۸ ص ۴ بیروت ، دارالمعرفة

( 143 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۲ ص ۲۹۲ مصر ،

مطبع از هریه

( 144 ) ابن هشام ، ابو محمد عبدالملك (۲۱۸ه) سیرة النبی ﷺ ج ۴ ص ۱۲، ۱۳

بیروت دارالفکر

( 145 )مولانا ادریس کاند هلوی ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۲ ص ۴۲۵ ، لاهور ،

مکتبه عشره مبشرهٔ

( 146 ) ابن اثیر ، ابوالحسن علی بن ابی الکریم (۶۳۰ ه ) الکامل فی التاریخ ج ۲

ص ۱۳۱ بیروت دارالکتاب العربی

( 147 ) ابن سید الناس ، محمد بن محمد شافعیؒ ، (۷۳۴ ه) عیون الاثر فی فنون

المغازی والشمائل والسیر ، ج ۲ ص ۱۹۲ ، بیروت ، دارالمعرفه

( 148 )ابن سعد ، محمد (۲۳۰ه ) الطبقات الکبری ، ج ۲ ص ۱۵۸،۱۵۹ بیروت ،

دارالمعرفة

( 149 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۳ ص ۲۸ مصر ،

مطبع از هریه

( 150 ) ابن حجر العسقلانی ، احمد بن علی (۸۵۲ه) فتح الباری شرح صحیح

البخاری ج ۸ ص ۲۶ بیروت ، دارالمعرفة

( 151 )ابن قیم الجوزی ، محمد بن ابی بکر (۷۵۱ ه ) زاد المعاد فی هدی خیر العباد

ج ۲ ص ۲۰۱ . بیروت

( 152 )ابن سید الناس ، محمد بن محمد شافعیؒ ، (۷۳۴ ه) عیون الاثر فی فنون

المغازی والشمائل والسیر ، ج ۲ ص ۲۲ ، بیروت ، دارالمعرفه

( 153 ) سیوطی ، جلال الدین عبدالرحمٰن (۹۱۱ ه ) الخصائص الکبری ج ۱ ص ۲۷۳

، بیروت، دارالکتب العلمیه

(c) ketabton.com: The Digital Library


( 154 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۳ ص ۷۱ مصر ، مطبع ازهریه

( 155 )مولانا ادریس کاند هلوئ ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۲ ص ۲۷۹....۲۸۲ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهٔ

( 156 )مولانا ادریس کاند هلوئ ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۳ ص ۲۰ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهٔ

( 157 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۳ ص ۹۵ مصر ، مطبع ازهریه

( 158 ) زرقانی ، محمد بن عبدالباقی ،شرح مواهب لدینه ج ۳ ص ۱۰۳ مصر ، مطبع ازهریه

( 159 )مولانا ادریس کاند هلوئ ، سیرت المصطفیٰ ﷺ ، ج ۳ ص ۶۰...۶۶ ، لاهور ، مکتبه عشره مبشرهٔ

★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★

وماتوفیقی الابالله العلی العظیم ربنا تقبل منا انك انت السیمع العلیم وتب علینا انك انت التواب الرحیم .

وصلی الله تعالیٰ علیٰ خیر خلقه محمد واله واصحابه اجمعین . و من تبعهم باحسان الیٰ یوم الدین .

( 6 مارچ 2018ء)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مولانا احمدعلي مرداني

# نور چاپ شوی کتابونه

| | | |
|---|---|---|
| ★ | معدن البیان فی ترجمة القرآن<br>د قرآن کریم د بعضي سورتونو پښتو منظومه ترجمه | ★ |
| ★ | گلدسته د تجوید<br>(د تجوید تول ضروری احکام په پښتو شعرونو کښي) | ★ |
| ★ | قواعد النحو<br>( د علم النحو تول اهم قواعد په پښتو شعرونو کښي ) | ★ |
| ★ | تیسر الاصول فی حدیث الرسول ﷺ<br>( د اُصول حدیث تذکره په پښتو شعرونو کښي ) | ★ |
| ★ | د مونځ تعلیم<br>( د اودس ، غسل ، تیمم ، مونځ ضروری احکام په<br>پښتو شعرونو کښي) | ★ |
| ★ | لبّ اللباب یعنی خاصیاتِ ابواب<br>خاصیاتِ ابواب په پښتو شعرونو کښي | ★ |
| ★ | رڼا د سحر ( صدارتی ایوارډ یافته)<br>پښتو نعتونه | ★ |
| ★ | ښکلا د چمن ( پښتونعتونه) | ★ |
| ★ | د زړهٔ سکون ( صدارتی ایوارډ یافته )<br>پښتو نعتونه | ★ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ★ | حقیقی جانان ﷺ (نعتونہ) | ★ |
| ★ | عربی جانان ﷺ<br>( نعتونہ) زیر طبع | ★ |
| ★ | سیرتِ عشرہ مبشرہ ؓ<br>(حالاتِ زندگی، اقوال، مرویات، واقعات، وغیرہ) | ★ |
| ★ | سیرتِ ائمہ اربعہ ؒ<br>(احوال، اقوال، واقعات، مرویات) | ★ |
| ★ | حضرت امیر معاویہ ؓ کا مختصر تعارف<br>(مختصر حالاتِ زندگی، اقوال، واقعات، مرویات) | ★ |
| ★ | انمول موتی<br>(اعداد کی دنیا کا منفرد مجموعہ) | ★ |
| ★ | انمول خزانہ<br>(اعداد کی ترتیب کے ساتھ ایک منفرد تحریر) زیر طبع | ★ |
| ★ | غائبانہ نماز جنازہ اور اُس کی شرعی حیثیت<br>(قران وسنت کی روشنی میں ایک اہم ترین مسئلہ کی توضیح) | ★ |
| ★ | مروجہ حیلہ اسقاط<br>قران وسنت کی روشنی میں | ★ |
| ★ | منکرین اجماع وقیاس<br>(جس میں اجماع وقیاس کی اہمیت بیان کیا گیا ہے۔) | ★ |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**